پیٹ کا قفلِ مدینہ (پشتو)

# دخیټې قُفلِ مَدینه

(دلوږې فضائِل)

شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنّت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بِلال

محمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالية

# د خيتې قُفلِ مَدينه

## (د لوږې فضائِل)

د **فَيضانِ سُنَّت** جلد اَوَّل دا باب "پيٹ کا قفلِ مدينہ" شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنَّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت عَلّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمَّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په اردو ژبه کښې ليکلې دې.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې باب په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غَلَطي يا کمې، زياتې اوموميءَ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**پيشکش: مَجلِسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي**


برائے رابطہ:

عالمی مَدَنی مرکز فيضانِ مدينہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدينہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

## فهرست



| عنوان | نمبر | عنوان | نمبر |
|---|---|---|---|
| د خیتې قُفلِ مَدینه | 1 | ښې ډېرې روژې نیسئ | 19 |
| د دُرُود شریف فضیلت | 1 | د ټولې زمکې سره زر | 19 |
| د خیتې قُفلِ مَدینه څه ته وائي؟ | 1 | د سرو زرو دسترخوان | 20 |
| اِختیاري لوَږه | 2 | په ورځ کښې درې ځله د طعام خوړلو والَو غندنه | 20 |
| په جَنَّت کښې د آقا ﷺ کاوَنډ | 2 | په کجورو او اوبو ګزاره کول | 21 |
| د نبیِّ کَرِیم ﷺ لوَږه مُبارَکه | 3 | د ټولې شپې د عِبادت نه غوره | 22 |
| د څو څو شپو لوَږه | 4 | د لوَږې خزانه او د هغې شُکرانه | 23 |
| د اَهلِ بیتِ کِرام خوراك | 5 | د یوې خرابې نوړئ تباهیانې | 24 |
| د یو صاحبِ نظر حکایت | 6 | د څلویښتو ورځو مونځونه نامقبوله | 25 |
| په مُبارَکه خیټه دوه کاڼړي | 6 | د حرامې نوړئ سزا | 25 |
| د عِزَّت سامان | 7 | د نُور نه ډکه سینه | 26 |
| د دیوانګئ نه ډك جذبات | 7 | څلور نصیحتونه | 26 |
| د حضرت مُوسٰی عَلَیْہِ السَّلَام لوَږه مُبارَکه | 9 | د بدې خاتِمې یَره | 27 |
| د حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام لوَږه مُبارَکه | 9 | د دِین غِلاف | 28 |
| د حضرت عیسٰی عَلَیْہِ السَّلَام لوَږه مُبارَکه | | د عِبادت خوَږوالې | 28 |
| د حضرت یحیٰی عَلَیْہِ السَّلَام لوَږه مُبارَکه | 10 | د قِیامت په ورځ به څوك اوږې وي | 29 |
| د خوږ آقا ﷺ د لوَږې په یادَولو د بی بی عائشه رَضِیَ اللہُ عَنْہا ژړا | 10 | د شنې څرمنې والا بُزُرګ | 30 |
| عاشقان دِ غور اوکړي | 11 | په جنازه باندې ئې شَکر او بادام اونوستې شو | 31 |
| د اسلامي خور حکایت | 12 | د دُنیا کُنجي | 32 |
| په دوو ورځو کښې یو ځل خوراك خوښول | 13 | په قِیامَت کښې به څوك ماړه وي؟ | 32 |
| په ورځ کښې یو ځل خوراك | 14 | د قِیامت تیز نمر | 33 |
| په ورځ کښې درې ځله خوراك څنګه؟ | 14 | نَفس دوزخ ته اورسولم | 33 |
| په روژه کښې یو وخت خوراك کول | 17 | د لوَږې لس فائدې | 34 |
| په روژه کښې یو ځل خوراك کول | 18 | د قِیامَت په ورځ میلمستیا | 35 |

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)



| | | | |
|---|---|---|---|
| د جَنَّت او د دوزخ دروازې | 36 | په دولسو ورځو کښې صِرف يو ځل اودس | 48 |
| د بدن اصلاح | 36 | د مَدَني قافِلې يو مُسافِر | 49 |
| د مَرې خيټې شپږ آفتونه | 37 | د درې ورځو لوَږه | 50 |
| اوچه ډوډۍ او مالګه | 37 | د شودو [يعني د پيو] يوه پيالۍ او اويا صحابه | 51 |
| طعام عقل خوري | 38 | د خلقو نه بې پرواهي | 54 |
| د زړه د سختۍ اسباب | 38 | نصيحت بې اثر | 55 |
| ووه نوړۍ | 38 | د مرګ په وخت کښې بدبوۍ | 55 |
| د خيټې ډکولو پريشانۍ | 38 | خوراك ډير نو ګټل هم ډير | 55 |
| د اِحتِلام يو سبب | 39 | د عِبادت د خوند نه محرومي | 56 |
| شيطان په وِينه کښې ګرځي | 39 | د لوَږې نه بې هوشي | 56 |
| دوه نهرونه | 40 | نامعلومه درد | 58 |
| د ځلوينښتو ورځو لوَږه | 40 | کاش چه لوَږه په روپو اَغستې شوې | 60 |
| شپږ مَدَني ګلونه | 41 | هر طرف ته خوراك اخستې شي | 60 |
| خيټه ور ذليله دې | 41 | زيات خوراك د کُفّارو صِفَت دې | 62 |
| د لوَږې تيرولو تاکيد ولې؟ | 42 | په لوَږه کښې طاقت | 62 |
| د الله تعالیٰ د خُفيه تَدبير نه بې يرې کيدل لويه ګناه ده | 42 | د تَصَوُّف حاصلول | 63 |
| د الله عَزَّوَجَلَّ د طرف نه مُهلت | 44 | زه د ټولو نه زيات ګنهګار يم | 63 |
| ګناهونه ښه ګڼړل کفر دې | 44 | د لوَږې نه به راغورزيدلو | 64 |
| دُعائے مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم | 45 | څو څو ورځې لوَږه | 64 |
| په ځلوينښتو زرو کښې ځلور | 45 | د ټول کال لوَږه | 65 |
| ووه کُولمې | 46 | بغير د خوراك څښناك نه انسان څوورځې ژوندې پاتې کيدې شي؟ | 66 |
| د ووه کُولمو مطلب | 46 | عوام دِ څومره خوري؟ | 66 |
| د مومِن او مُنافِق په خوراك کښې فرق | 47 | د بيمار زړه دواياني | 67 |
| د اعلٰحضرت رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خوراك | 47 | زر کاله ژوندۍ اوسيدو والا مرغۍ | 67 |
| ووه مَدَنی ګلونه | 48 | ماشې اوښ قتل کوي | 68 |

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې. (اَلتَّرغِيب



| | | | |
|---|---|---|---|
| پيړ ماشې | 69 | د طاقت نه زيات بوج | 92 |
| د غټې بدن آفتونه | 70 | زه ډوډۍ ډيره لږه خورم | 93 |
| په خيټوَر باندې د ګناهونو حمله | 70 | د کم خوراك اِحتِياطونه | 94 |
| د سپك بدن فضيلت | 71 | لږ خوراك کول افضل خو دروغ وئيل حرام دي | 95 |
| د نارينه او زنانه وزن څومره پکار دې | 72 | نَفس څه ته وائي؟ | 97 |
| د سَيِّدُنا يُوسف عَلَيْهِ السَّلَام وزن مُبارَك | 72 | د زړه د پاره د ټول کال د عِبادَت نه بهتر | 98 |
| د پيړ والي اسباب | 73 | د ګيدړې بچې | 98 |
| د ځوانئ تعريف | 75 | د خوراك د پاره ژوندې اوسيدل | 99 |
| دپِڙې نقصانونه | 76 | مريض پخپله طبيب جوړ شو | 100 |
| د يو پِڙه خور حِکايت | 78 | د [غاښو د] ورو کينسر | 101 |
| د پيړ والي نه د بچ کيدو طريقه | 80 | د نقلی کتّهې تباهيانې | 102 |
| اول وِينه ټيسټ کړئ | 81 | د خوراك مزه صِرف د حلق پورې وي | 103 |
| د پيړ والي عِلاج | 81 | د خوندورې نوړئ عجيبه حِکايَت | 103 |
| د قبَض څلور علاجه | 83 | زړه سوزوونکې حِکايَت | 104 |
| بې وخته د خوب راتلو علاج | 85 | خپل حيثيت وريادولو والا جُملې | 105 |
| د پيړ والي د ټولو نه بهترين علاج | 85 | آيا تاسو د کم خوړلو عادت جوړول غواړئ؟ | 106 |
| د زيات خوراك په وجه پيدا کيدونکې مرضونه | 86 | د دوزخيانو خوراك څښناك | 107 |
| د تُندُرسته اوسيدو نُسخه | 86 | د مارانو د زَهر پياله | 108 |
| د لوَږې پيژندل | 87 | د لوئی نِعمَت حِساب هم لوئي | 108 |
| د لوَږې نه زيات خوراك کول | 88 | د هر نِعمَت په باره کښې درې تپوسونه | 109 |
| د هر يو خوراك يو شان نه وي | 88 | د جَهَنَّم غوپه | 110 |
| د زيات خوراك کولو والا زړه ازارول حرام دي | 89 | د کم خوراك عادت جوړولو طريقه | 112 |
| ډيرې اوبه څښل | 90 | د خوراك مِقدار مقرر کړئ | 113 |
| پياده ګرځئ | 91 | مختلِف خوراکونه ګډ وَډ کولې هم شئ | 115 |



www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)


| | | | |
|---|---|---|---|
| د نورو په موجودګئ کښې د کم خوړلو طريقه | 116 | (۱۳) په يخه شپه کښې څلويښت ځله غُسل | 150 |
| اِخلاص دَ قبليدو کُنجي ده | 117 | (۱٤) د ژمکې نه ټکرې راټولول او خوړل | 151 |
| د کم خوراك کولو والا اِمتِحان | 118 | (۱۵) د تنګئ نه پس آساني | 154 |
| مُسلسل د څلويښتو ورځو پورې کم خوراك اوکړئ | 119 | (۱٦) د ټولې ورځې خوراک لس مُنَقّې | 156 |
| په کم خوراك باندې د اِستِقامَت موندلو د پاره | 120 | د مُنقّې حيرانوونکې فائدې | 157 |
| تريخ نصيحت | 122 | د وَڅکو اوبه څښل سُنَّت دي | 158 |
| **52 حکايات** | 124 | د ټوخې علاج | 159 |
| (۱) د سَيّدُنا جابِر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په کور کښې دعوت | 124 | سرې مُنَقّې | 159 |
| (۲) مَدَني قافلې جُمات آباد کړو | 127 | (۱۷) د باتِنګې خواهِش | 159 |
| (۳) ۸۰ صحابه او لږ طعام | 128 | (۱۸) ښه اوخوره او اوڅښه | 160 |
| (٤) ډير غټ مهې | 132 | (۱۹) د خوراك مَقصد | 161 |
| (۵) اَمِينُ الْاُمَّة | 134 | (۲۰) د خوراك کولو نه د بچ کيدو د پاره پټ شو | 163 |
| (٦) د زړه مريض جوړ شو | 137 | (۲۱) د وَلي د صُحبَت بَرَکت | 164 |
| (۷) يَحْيىٰ عَلَيْهِ السَّلَام او شيطان | 138 | (۲۲) ښه صُحبَت ښه مرګ | 167 |
| عبادت کله خوَند کوي | 138 | (۲۳) بد صُحبَت بد مرګ | 169 |
| (۸) پيڅ ئې بيرته اوګرځول! | 139 | (۲٤) اوړې ژمرې | 170 |
| (۹) په سکرو سره کړې شوې چيلئ | 141 | د چرګې تَوَکُّل | 171 |
| په سکرو پوخ شوې وروِن | 142 | (۲۵) تَوَکُّل کوونکې ځلمې | 173 |
| په کُفر د خاتمې يره | 143 | (۲٦) رزق ورپسې پخپله راروان وو | 174 |
| (۱۰) رِقّت اَنګيزه خُطبَه | 145 | (۲۷)جذبه لرونکې مُبَلِّغ | 177 |
| (۱۱) د الله په لار کښې ئې د ټولو نه وړومبې غشې اوويشتو | 147 | (۲۸) اګئ او ډوډئ | 178 |
| (۱۲) د لاس زَخې | 148 | (۲۹) سپينه پياله | 179 |

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)



| | | | |
|---|---|---|---|
| د شان مطابق ازميښت | 180 | (۴۰) د ګوتې رګ به ئې ټوپونه وهل | 192 |
| (۳۰) په تبه کښې هميشه تازه | 181 | (۴۰) عابِد او د آنار وَنه | 193 |
| د تَبې فضيلَت | 182 | (۴۱) محمود و اياز او د تَرې يوه ټنګره | 194 |
| (۳۱) د مسورو د دالو فيس | 183 | (۴۲) د عيسائي راهِب قبولِ اسلام | 196 |
| (۳۲) د مهې لشه | 184 | (۴۳) مهې او وريژې | 198 |
| د ازغي [يعنې د غنَې] د تللو فضيلت | 185 | (۴۴) د زړه د پاره فائِده مند | 199 |
| د مُصِيبَت حِکمَت | 186 | (۴۵) د جَنَّت ميلمستيا | 199 |
| (۳۳) ګاڅره او شَهد [يعنې ګبين] | 186 | (۴۶) په نمر اوچ شوي وړه | 200 |
| (۳۴) اِينځر ئې د خُلې نه اوغورزوو | 187 | (۴۷) د څلويښتو کالو پورې ئې پئ (يعنې شوده) اونه څښل | 200 |
| (۳۵) حلوائي پرې نوړئ اوخوړې | 187 | (۴۸) غوښه او ډوډئ | 201 |
| (۳۶) د غوښې بيکاره هډوکي | 188 | (۴۹) يَرَوونکي سِيلئ | 202 |
| (۳۷) د خوراك نه مخکښې يَره | 189 | (۵۰) شنه پياله | 203 |
| د خوراك نه پس ژړل پکار دي | 190 | (۵۱) د نَفس سره خبرې | 206 |
| (۳۸) د اوچې ډوډئ ټکړه | 191 | (۵۲) سبزی به نه خورم | 206 |



## دَقيامت په ورځ پښيمانتيا

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات هغه کس پښيمانه وي د چا سره چه په دُنيا کښې د عِلم حاصلولو وَخت وو او هغه عِلم حاصل نه کړو او هغه کس (به هم ډير زيات پښيمانه وي) چه پخپله ئې عِلم حاصل کړې وو او دَ هغه [د عِلم] نه نورو خلقو په اوريدلو فائدې اوچتې کړې وي خو هغه ترې پخپله فائده حاصله نه کړه (يعنې په علم ئې عمل اونه کړو)

(تاريخ دمشق لابن عساكر ج51 ص138 دار الفكر بيروت)

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د خيتي قُفلِ مَدينه

## (د لوړې فضائِل)

شيطان به د منع كولو پوره زور لګوي خو تاسو د اوّل نه د آخِره پورې دا اولولئ او د خپل وَس مطابق عمل اوكړئ او شيطان ناكامه كړئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

بيشكه ستاسو نومونه سره د پيژندګلو ما ته پيش كول شي لِهٰذا په ما باندې اَحسَن (يعني په ښكلي الفاظو كښ) دُرُودِ پاك لولئ.

(مُصَنَّف عبدُالرزاق ج٢ ص ٢١٤ حديث ٣١١١)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خيتي قُفلِ مَدِينه څه ته وائي؟

خپله خيټه د حرام خوراك نه بچ كولو او په حلال خوراك هم ځان نه مړوَلو. ته "د خيتي قُفلِ مَدينه" لګول وائي. د خيتي قُفلِ مَدينه لګولو د پاره د حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه دا ارشاد مُبارَك رهنُما اُصول دي، چنانچه فرمائي: "د طعام نه مخكښ دا ضروري دي چه بنده اوږې وي. څوك چه د خوراك شروع كولو په وخت كښ اوږې هم وي او بيا ئي چه څه نه څه لَوږه پاتي وي او د خوراك نه بس كړي نو هيڅ كله به هم د طَبيب محتاجه نه شي." (اِحياءُ العُلوم ج٢ ص٥)

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل کړي۔ (مُسلِم)

یا الٰہی! پیٹ کا قفلِ مدینہ کر عطا
از پئے غوث و رضا کر بھوک کا گوہر عطا

**د شعر ترجمه:** يااِلٰهي عَزَّوَجَلَّ! د غوث او رضا په خاطر مونږ ته د خيټې قُفلِ مدينه او د لوږې برداشت کولو فضيلتونه را عطا کړې.

## اِختياري لوَږه

**خوږو خوږو اسلامی وروڼو!** په مړه خيټه خوراك كول مُباح يعني جائز دي خو "د خيټې قُفلِ مَدِينه" لګول يعني خپله خيټه د حرامو او شُبُهاتو [يعني د شك مند څيز] نه بچ ساتل او حلال خوراك هم په مړه خيټه نه خوړلو كښې د دِين او دُنيا بې شميره فائدې دي. د طعام نه لرلو په حالت كښې مجبوراً اوږې پاتې كيدل هيڅ كمال نه دې. په ښه ډير مقدار كښې د طعام د موجودګۍ باوجود صِرف د رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ د پاره لوَږه برداشت كول، دا په حقيقت كښې كمال دې. چنانچه روايت دې، "د مدينې سركار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اِختياري طور لوَږه برداشت كوله."

(شُعَبُ الإِيمان ج٥ ص ٢٦ حديث ٥٦٤٠)

لُوٹ لے رَحمت، لگا قفلِ مدینہ پیٹ کا
پا ئے گا جنّت، لگا قفلِ مدینہ پیٹ کا

**د شعر ترجمه:** د خيټې قُفلِ مدينه اولګوئ، رَحمت او جَنَّت به اومومئ.

## په جَنَّت كښې د آقا ﷺ ګاوَنډ

**معلومه شوه** چه اِختيارې طور لوَږه برداشت كول زمونږ د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خواږه سُنَّت دې او د سُنَّت د عظمت

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درود پاک لوستل هير كړل هغه دَ جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَاني)

به څه وائي! پخپله زمونږ د خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دي: "چا چه زما د سُنَّت سره محبَّت اوكړو هغه زما سره محبَّت اوكړو او چا چه زما سره محبَّت اوكړو هغه به په جَنَّت كښې زما سره وي." (مشكوٰة ص ٣٠)

په سيپاره 26 سُورَةُ الْاَحْقاف آيت نمبر 20 كښې الله عَزَّوَجَلَّ ارشاد فرمائي:

اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَ اسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ

(پ ٢٦ الاحقاف ٢٠)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: تاسو د خپلې حِصّې پاك خيزونه هُم په دُنيا كښې فَنا كړي دي او هغه مو استعمال كړي دي [يعني د هغې نه مو فائده اخستې ده] نو نن به تاسو ته [ستاسو د اعمالو] په بدله كښې د ذِلَّت عذاب دركولې شي.

## د نبيِّ كَرِيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم لوَږه مُبارَكه

د اعلٰى حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه خليفه، مُفَسِّرِ قرآن، حضرت عَلّامه مولانا مُفتى سَيِّد محَمَّد نَعِيمُ الدِّين مراد آبادى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خَزائنُ الْعِرفان كښې د دې آيتِ مُبارَكه لاندې فرمائي: په دې آيت كښې الله تعالٰى د دُنيا د مزو په اِختيارولو باندې كُفّار رټلي دي نو رَسُولِ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي صحابهٔ كِرامو رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم هم د دُنياوي مزو نه ډېره اختيار كړه. د بُخارى او مُسلِم په حديثِ پاك كښې دي، د حُضُورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وَفاتِ ظاهري پورې د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اَهلِ بيتِ اطهارو رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم كله هم د وَربشو ډوډۍ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو، تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

دوه ورځې مسلسل نه وه خوړلې. دا هم په حديثِ پاك كښې دي چه پوره پوره مياشت به تيره شوه خو په مبارك كور كښې به ئې (په نَغَري كښې) اور بَل نه شو، په يو څو كجورو او اوبو باندې به ئې گُزاره كوله. د حضرتِ سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې، هغوئې فرمائي: (اے خلقو!) كه ما غوښتلې نو ستاسو نه به مې ښه خوراك كولو او ستاسو نه به مې ښې جامې اغوستلې، خو زه خپل عيش او آرام د خپل آخِرت د پاره باقي ساتَل غواړم. (خزائنُ العرفان ص ۹۲۸)

کھانا تو دیکھو جو کی روٹی، بے چھنا آٹا روٹی بھی موٹی — وہ بھی شکم بھر روز نہ کھانا، صلی اللہ علیہ وسلم
کون و مکاں کے آقا ہو کر، دونوں جہاں کے داتا ہو کر — فاقے سے ہیں سرکارِ دو عالم صلی اللہ علیہ وسلم

**د شعر ترجمه:** (۱) زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوراك د وَربشو د بې چنړه ورو پيړه ډوډئ وه. او هغه ئې هم په مړه خيټه هره ورځ نه خوړله. (۲) د كون و مكان آقا دې، د دواړو جهانو سخي دې خو پخپله به ئې لوَږه تيروله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## د څو څو شپو لوَږه

حَضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عَبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي چه د مديني سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به څو څو شپې مُسلسل لوَږه تيروله. د هغوئې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د كور كسانو [يعني اَهلِ بيت] به د ماښام ډوډئ نه لرله او اكثر به ئې د وَربشو ډوډئ خوړله. (جامِع تِرمِذی ج ٤ ص ١٦٠ حديث ٢٣٦٧)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

# د اَهلِ بيتِ کِرام خوراك

حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي، رَسُولِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وَربشو په عِوض [يعني بدله] کښې خپله زغره مُبارَکه [اَمانتاً] ګرَو (يعني ګانه) کيښوده. او ما د وَربشو ډوډۍ او وِيلې کړې شوې مُتَغَيَّر شده وازګه راواخسته او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضِر شوم، او ما د خوږ پيغمبر صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان واوريدو: ”د مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) آل [يعني اَهلِ بيت] ته نه کله سحر يو صاع (يعني تقريباً پاؤ کم درې کلو) خوراك په لاس راغې او نه ماښام.“ او د مُحَمَّدِ عَرَبی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آل [يعني اَهلِ بيت] په نهو کورونو مُشتَمِل وو. (صحیح بُخاری ج۳ ص ۱۵۸ حدیث ۲۵۰۸)

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** دا د هغه رَسُولِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُبارَك حال دې د چا په لاسو کښې چه د دوارو جهانو کنجياني [يعني چابياني] ورکړې شوې دي. زما د خوږ خوږ مَکّی مَدَنی آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فَقْر اِختياري وو. ګني قَسم په خدائے! چا ته چه څه ورکول شي هغه د سرکارِ مَدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر ورکول شي او د کائنات هر يو څيز ته د نُورِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فَيض [يعني برکت] رسي. چنانچه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## د يو صاحبِ نظر حكايت

**يو وَلِيُّ الله** د ډوډۍ يوه نوړۍ د خوراك د پاره [په لاس كښې] اونيوله، بيا ئې هغې ته د روحانِيَّت په نظر اوكتل او غور ئې اوكړو نو په هغه نوړۍ كښې د نور يو تار ښكاره شو، بيا ئې د هغه نُورى تار په ذريعه بره اوكتل نو هغه نُورى تار د خوږ پيغمبر صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور د يوې پلوَشې سره تړلې شوې وو. په شروع كښې هغه پلوَشه يوه ښكاره شوه. بيا ئې چه غور اوكړو نو معلومه شوه چه د **حُضُورِ اَكرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور پلوَشې د دُنيا هر يو نِعمَت ته رسيږي. (اَلاِبريز ص ۲۲۹)

کیا نورِ اَحمدی کا چمن میں ظُہور ہے
ہر گُل میں ہر شَجَر میں محمد کا نُور ہے

**د شعر ترجمه**: په چمن كښې څنګه نُور دې د اَحمد هره ونه او هر ګل كښې نُور دې د مُحمَّد

## په مُبارَكه خيټه دوه كاڼړي

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابو طلحه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي، مونږه د **خوږ رَسُولِ پاك** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت بابَركت كښې د لوږې ګيله اوكړه او په خپلو خيټو باندې تړلې شوې يو يو كاڼړې مو ورته اوښودو. د **مدينې سُلطان** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلې مُبارَكې خيټې نه جامه اوچته كړه نو په هغې باندې دوه كاڼړي تړلي شوي وو. حضرتِ سَيِّدُنا امام تِرمِذى رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه دا كاڼړي به د لوږې د سختۍ او د كمزورۍ په وجه په خيټه تړلې شو. (شَمائل تِرمِذی ص ۱۶۹ حديث ۳۷۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(یعني شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

آپ بھوکے رہیں اور پیٹ پہ پتھر باندھیں
ہم غلاموں کو ملیں خَوان مدینے والے

**د شعر ترجمه:** یا رسولَ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو پخپله لوږې تیرولې او په مُبارَکه خیټه به مو کاڼړي تړل، او اے د مدینې سرداره صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ غلامانو ته ستاسو په خاطر قِسم قِسم خوراکونه نصیب شوي دي.

## د عِزَّت سامان

د **ابو بُجَیر** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې چه یوه ورځ **نَبِی کریم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې سخته لوَږه راغله نو یو کاڼړې ئې راواخستو او په خیټه مُبارَکه ئې اوتړلو او اوئې فرمائیل: **خبردار!** ډیر خلق داسې دي چه هغوئي په دُنیا کښې د ښه خوراکونو کولو والا او د سهولت ژوند تیرولو والا دي خو د قِیامَت په ورځ به اوږې او بربَنډ وي. **خبردار!** ډیر خلق داسې دي چه هغوئي خپل ځان د عِزَّت مند جوړولو کوشش کوي حالانکه هغوئي د [خپل] ذِلَّت سامان تیاروي. **خبردار!** ډیر خلق داسې دي چه هغوئي ښکاري داسې چه خپل ځانونه ذلیله کوي خو دا د هغوئي د پاره د عِزَّت سامان دې. (المَواهبُ اللَّدُنِیَّه ج۲ ص ۱۲۳)

## د دیوانګۍ نه ډك جذبات

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** په **رَسُولِ اَکرَم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې زمونږ ځانونه قُربان! هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د لوَږې سره ډیر زیات

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما د جُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العُمَّال)

**محَبَّت** لرلو، او آه! يو زمونږ په شان د عشقِ رَسُول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دعوٰی لرونکي هم دي چه که چرې ډوډۍ لږه ناوخته تياره شي يا زمونږ د نَفس د مزو غوښتلو مطابق خوراك نه وي نو کور والَو ته غُصّه کيږو. **کاش چه مونږ ته هم اِرادتاً د اوږي اوسيدو او د لوَږې د سختئ په وجه د سُنَّت په نِيَّت کله کله په خپله خيټه باندې د کاڼړي تړلو سعادت هم نصيب کيدې.** آه! افسوس! په کروړونو افسوس! سگِ مدينه [يعني اَميرِ اهلِسُنَّت] د انسان په ځاۍ د جانان صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کوڅې يو کاڼړې وې او حُضُور اَکرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هلته تيريدلې او ....... او..... په خوش قِسمَتئ سره مې کله کله د مُبارَکو قَدَمونو د مُقَدَّسو تَلو د ښکُلَولو سعادت حاصلولې. زه دومره جُرأَت خو نه لرم چه په خيټه مُبارَکه د تړلو ارمان اوکړم. خو کاش! کاش! په کروړونو ځل کاش! چه کله داسي هم شوې وې چه زما مَدَني محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ''بې قراره لوَږې'' ته د حاضرۍ اِجازت ورکړې وې، او زما غريب سره په خوا کښې بل يو مُقَدَّس کاڼړي ته ئې په خيټه مُبارَکه باندې د تړلو د خاص نِزديکت ورکولو په اراده خپل لاس مُبارَك وروړلې او په دې دوران کښې ئې ما ته هم د **مبارَکو لاسونو د ښکُلَولو** خيرات راکړې وې ........آه! آه! آه

میں کہاں اور کہاں اُن کا وُجُودِ مسعود    میری اوقات ہی کیا اُن پہ ہوں سولاکھ دُرُود

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

**د شعر ترجمه:** چرته زه او چرته د هغوئي بدن مُبارَك، زه څه څيز يم، په هغوئي دِ په لكونو دُرُود وي.صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د حضرت مُوسٰى عَلَيْهِ السَّلَام لَوَږه مُبارَكه

**حضرتِ** سَيِّدُنا مُوسٰى كَلِيمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام چه كله د مدين كوهي ته تشريف راوړلو نو د كمزورئ په وجه د تركارئ [يعني د سبزئ] شين والې د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام په خيټه مُبارَكه كښې د بهر نه ښكاريدو. (شَمائِل رَسُول مُترجم ص١٢١) او په كومو څلويښتو ورځو كښې چه ئې د رَبُّ الانام عَزَّوَجَلَّ سره د هَم كلام كيدو [يعني د خبرو كولو] شرف حاصِل كړو، نو هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام [په هغه ورځو كښې] هيڅ هم اونه خوړل. (اِحياءُ العُلوم ج٣ ص٩١)

## د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام لَوَږه مُبارَكه

**حضرتِ** سَيِّدُنا قاضي عَياض رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي، د حضرتِ سَيِّدُنا **داؤد** عَلَيْهِ السَّلَام جامې مُبارَكې د وَرِئ او بستره مُبارَكه د ويښتو نه جوړه شوي وه، د **وَرېشو** ډوډئ به ئې د مالګې سره خوړله. (شَمائِل رَسُول مُترجم ص ١٢١)

## د حضرت عيسٰى عَلَيْهِ السَّلَام لَوَږه مُبارَكه

**حضرتِ** سَيِّدُنا عيسٰى روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د خپل ځان د پاره هيڅ كور نه وو جوړ كړې، كوم ځائ چه به خوب ورغلو آرام به ئې كولو، د ويښتو جامې مُبارَكې به ئې اغوستلې او د **وَنو پاڼې** به ئې خوړلې. (ايضاً)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

## د حضرت يحيٰي عَلَيۡهِ السَّلَام لوَږه مُبارَکه

د حضرتِ سَيِّدُنا يحيٰـی عَلَيۡهِ السَّلَام خوراك شنه کيا وه. د الله عَزَّوَجَلَّ د يرې نه به ئې دومره ژړل چه په مُبارَك مخ باندې ئې نښې جوړې شوې وې. (ايضًا)

فاقہ انبیاء کے صَدقے میں
لذّتِ نَفْس سے بچا یارب! عزوجل

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ! د اَنبيائےکِرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام د لوَږې په بَرَکت مونږه د نفس د مزو نه اوساتې.

## د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم د لوَږې په يادَوَلو د بی بی عائشه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهَا ژړا

حضرتِ سَيِّدُنا مَسروق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي، زه د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهَا په خِدمَت کښې حاضِر شوم، نو هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهَا زما د پاره طعام را اوغوښتو او اوئې فرمائيل: ''زه چه کله په مَړه کيده خوراك اوکړم نو زړه مې غواړې چه اوژاړم، بيا زه په ژړا شم.'' ما عرض اوکړو، ولې؟ اوئې فرمائيل: ''ما ته زما د سرتاج، صاحِبِ مِعراج صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه حالت راياديږي، په کوم حالت کښې چه ئې زمونږ نه جُدائي اوفرمائيله، [هغه دا] چه کله هم په ورځ کښې دوه ځله دوډئ يا غوښه په مَړه کيده د خوړلو موقع نه وه راغلې.'' (جامعِ ترمِذی ج٤ ص ١٥٩ حديث ٢٣٦٣)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه به د دوو سوو کالو ګناهونه معاف شي. (كَنْزُالْعُمَّال)

عائشہ صِدّیقہ روتی تھیں نبی کی بھوک پر
ہائے! بھرتے ہیں غذائیں ہم شِکَم میں ٹھونس کر

عاِئشه صِدِّيقه به ژړل په لوږه د نبئ پاك
هائے ډکوو مونږ خپلې خيټې په خوراك

## عاشقان دِ غور اوکړي

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** يو طرف ته د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا عشقِ رَسُول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې چه که کله ئې په مَړه ګېډه خوراك کړې دې نو په غمِ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ئې ژړلي دې او آه! بل طرف ته زمونږ د ګنهګارانو دا حال دې چه د مَرئ پورې خپل ځان ښه ډك کړو خو زړه مو نه مَړيږي. **ياد ساتئ!** چه کله هم په روايتونو کښې د **اَهلُ الله** د مَړې خيټې د خوراك ذِکر اووِينئ نو د هغې نه صرف د دريمې حِصّې د خيټې خوراك مراد اخلئ. زمونږه په مَړه خيټه خوراك کولو او د هغوئې په مَړه خيټه خوراك کولو کښې فرق دې.

کارِ پا کاں را قِياس اَز خود مَگير
(يعني د پاکو هستيانو کارونه د خپلو کارونو په شان مه ګڼړئ)

زمونږ اسلامي خويندو له هم د **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د غمِ مُصطفٰى صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه درس حاصلول پکار دې. که اسلامي خويندې د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكۍ ليكي. (تِرمِذی)

سره ترون اوكړي او په خپله علاقه كښې كيدونكي د دعوتِ اسلامي په هفته واره اِجتماع كښې شركت كوي او په مَدَني اِنعاماتو باندې د عمل كولو سره فِكرِمَدِينه كوي او هره ورځ [د مَدَني انعاماتو] رساله ډكوي او د خپلې علاقې ذِمَّه دارې اسلامي خور ته ئې جمع كوي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ بيړه به ئې پوريوَځي. د يوې دعوتِ اسلامي والا اسلامي خور يو رِقَّت انګيز حكايت واورئ. چنانچه

## د اسلامي خور حكايت

د سانګهړ (بابُ الاسلام سندھ) د يو اسلامي ورور حلفيه [يعني په قَسَم سره] بيان دې چه زما خور بِنتِ عبدُالغَفَّار عطّاريه د كينسر په خطرناك مرض كښې اخته شوه. ورو ورو ئې حالت خرابيدلو. د ډاكټرانو په مشوره مو ورله آپريشن اوكړو، طبيعت ئې لږ ښه شو خو تقريباً يو كال پس ئې مرض بيا زيات شو نو راجپوتانه هسپتال (حيدرآباد بابُ الاسلام سندھ) كښې داخله كړې شوه. يوه هفته په هسپتال كښې وه خو حالت ئې نور هم خراب شو. ناڅاپه ئې په اوچت آواز د **كلِمې طَيِّبې** ذِكر شروع كړو، كله كله به ئې په مينځ كښې اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحَابِكَ يَا حَبِيْبَ الله هم وئيل. د هغې په اوچت آواز د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله ذِكر كولو سره به په ټوله كوټه كښې

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

انګازې شوې، عجيبه د ايمان نه ډك مَنظر وو، څوك به چه د تپوس د پاره راتلو نو د هغې سره به ئې ذِکرُالله شروع کړو. ډاکټران او د هسپتال عمله حيرانه وه چه دا د الله عَزَّوَجَلَّ څه بزرګه زنانه معلوميږي ګني مونږه خو تر ننه پورې د مريض صرف چغې اوريدلي دي او دا مريضه د چغو او فرياد کولو په ځائ مُسلسل په ذِکرُ الله کښې مشغوله ده. تقريباً د دولسو ګينټو پورې ئې هم دا حالت وو. د ماښام د اَذان په وخت کښې ئې هم دغسې د کَلِمې طَيِّبې ذِکر کولو کولو او روح ئې اووَتلو. د اللهُ عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئی رحمَت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَلْحَمْدُلِلّٰه د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول د مرحومې د پاره ډير ښه ثابت شو؟ او د هغې اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ آخِرت ښه شو. قَسم په خدائے! هغه خوش نصيبه دي څوك چه د دې دُنيا نه په کَلِمه لوستلو رُخصَت شو. د حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: د چا چه آخِري کلام لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ (يعني کَلِمه طَيِّبه) وي هغه به جَنَّت ته داخليږي.

(اَبُوداؤد ج۳ ص۱۳۲ حديث ۳۱۱۶)

## په دوو ورځو کښې يو ځل خوراك خوښول

زمونږ د خوږ خوږ آقا، د مدينې د جانان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لَوږه مُبارَکه اِختياري وه، چنانچه رَسُولِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "زما

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

رَبّ عَزَّوَجَلَّ زما د پاره دا [خبره] وړاندې كړه چه زما د پاره د مَكّې مُكَرَّمې غرونه د سرو زرو كړې شي، خو ما عرض اوكړو: يا الله عَزَّوَجَلَّ! زه خو دا خوښووم چه كه يوه ورځ اوخورم نو بله ورځ اوږې اوسم، ځكه چه كله اوږې يم نو تا ته فرياد او زاري اوكړم او تا ياد كړم او چه كله اوخورم نو ستا شكر او حمد اوكړم." (جامع تِرمِذی ج ٤ ص ٥٥ حديث ٢٣٥٤)

سلام اُن پر شکم بھر کر کبھی کھانا نہ کھاتے تھے
سلام اُن پر غمِ اُمّت میں جو آنسو بہاتے تھے

د شعر ترجمه: سلام په هغوئې چه كله به ئې هم په مَړه ګيډه ډوډۍ نه خوړله، سلام په هغوئې چه د اُمَّت په غم كښې به ئې اوښكې بهيولې.

## په ورځ كښې يو ځل خوراك

په ورځ كښې يو ځل طعام خوړل سُنَّت دې، چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا ابوسَعيد خُدری رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې، چه زمونږه خوږ نبی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چه كله سحر طعام اوخوړلو نو ماښام به ئې نه خوړلو او كه ماښام به ئې اوخوړلو نو سحر به ئې نه خوړلو.

(كنزُ العُمّال ج ٧ ص ٣٩ حديث ١٨١٧٣)

## په ورځ كښې درې ځله خوراك څنګه؟

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! عام طور په ورځ كښې درې ځله د طعام خوړلو معمول دې. اګر چه دا ګناه نه ده خو سُنَّت هم نه دې، بس د خوراك ښښاك شوق مونږ ته دا طريقه ښودلې ده. دا خبره ياده

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

ساتئ چه څوك څومره زيات خوراك اوكړي د قِيامَت په ورځ به د هغه په ذِمّه حِساب هم هغه هُمره زيات وي. هره ورځ يو ځل طعام خوړل زمونږه د خوږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّتِ عادِيّه دې. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په دې سُنَّت باندې د عمل كولو په نِيَّت د ډيرو بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى په ورځ كښې صرف يو ځل د طعام خوړلو معمول وو. بيا هم كه څوك په دې سُنَّت باندې عمل اونه كړي نو په هغه هيڅ ملامتيا نشته. هغه **عاشقانِ رَسُول** چه د سُنَّتو ډير درد لري او په قدم قدم د سُنَّتو خبرې كوي، د هغوئي د پاره د فِكر مقام دې. او څوك چه په ورځ كښې څلور يا پينځه ځله خوراك كوي د هغوئي د پاره ضرور د افسوس مقام دې. د داسې خلقو دُنياوي طور كم نه كم دا نُقصان خو ضرور كيږي چه هغوئي اكثر د خيټې په خرابئ كښې اَخته اوسي.

**اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فرمائي: "د **سُلطانِ مَدِينه** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وِصالِ ظاهري [يعني د دُنيا نه د پرده كولو] نه پس د ټولو نه اولنې بِدعَت، په مَړه ګيډه د خوراك كولو پيدا شو، چه كله د خلقو خيټې ډكې شي نو د هغوئي نفسونه دُنيا طرف ته سركشه شي." (قُوتُ القُلوب ج۲ ص۳۲۷)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

**وسوسه:** یو طرف ته خو یو ځل طعام خوړل سُنَّت دي او بل طرف ته پیشمنې او اِفطار [یعني روژه ماتې] هم سُنَّت دي او دا په دوه وخته خوراك باندې مشتمِل دي. د دې څه حل دې؟

**د وسوسې عِلاج:** بې شکه پیشمنې او روژه ماتې سُنَّت دي. د ''اِفطار'' لُغوی معنیٰ ده ''روژه ماتول'' لِهٰذا که چا د چنې یوه دانه هم تیره کړه نو روژه ماتې اوشو، خو په دې دواړو وختونو کښې د رواج مطابق خوراك یعني ضرور په مړه ګیډه خوړل سُنَّت نه دي. په یو دوه کجورو یا د اوبو په یو ګوټ هم پیشمنې او روژه ماتې کیدې شي. کوم خوراك ته چه په عُرف کښې ''طعام'' وئیلې شي، یعني ډوډئ اینګولې وغیره، نو که داسې خوراك څوك په ورځ کښې یو ځل اوکړي او هم په هغه ورځ هغه کس د دې نه علاوه درې ځله یوه یوه کجوره هم اوخوري یا یوه یوه پیالئ چائے اوڅښي نو د هغه په باره کښې به یقیناً څوك هم دا نه وائي چه هغه څلور ځله طعام اوخوړو بلکه دا به وئیل شي چه هغه صرف یو ځل طعام خوړلې دې. لِهٰذا په روژه ماتي کښې په یو دوه کجورو یا په اوبو باندې د ګزاره کولو او په پیشمني کښې د رواج مطابق طعام خوړلو باندې د پیشمني او روژه ماتي د سُنَّتو د ادا کولو سره سره په ورځ کښې د یو ځل طعام خوړلو په سُنَّت هم عمل کیدې شي. نن صبا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په

مياشت كښې عام طور په جُماتونو كښې د ماښام د مانځه جَمَعَه د دې د پاره ناوخته اودريږي چه په ”روژه ماتي“ كښې خلق ښه په مړه ګيډه ”ميوې او پكوړې“ اوخوري. نو كه چا په روژه ماتي كښې يو څو كجورې، ميوې او پكوړې وغيره اوخوړلې نو دا د يو وخت طعام شو، ځكه چه طعام صرف قورمه ډوډئ او پلاؤ برياني ته نه وائي! بيا ئې كه په پيشمني كښې هم طعام اوخوړلو نو دې ته به د دوو وختو طعام خوړل وئيل شي. زما د آقا اعلٰـى حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیْه د پيشمني او روژه ماتي طريقه مُلاحظه كړئ. چنانچه

## په روژه كښې يو وخت خوراك كول

د **حضرتِ** مولانا **مُحَمَّد** حُسين صاحِب مِيرټهي رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیْه بيان دې چه ما د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د شلم تاريخ نه اِعتِكاف اوكړو. اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیْه چه جُمات ته تشريف راوړو نو اوئې فرمائيل: ”زړه خو مې غواړي چه زه هم اِعتكاف اوكړم، خو بالكل راسره (د دِيني مصروفياتو په وجه) وخت نشته.“ آخِر په شپږويشتم رَمَضَانُ الْمُبَارَك ئې اوفرمائيل: ”د نن نه زه هم مُعتَكِف [يعني په اعتِكاف كښې] شوم.“ مولانا **مُحَمَّد** حُسَين مِيرټهي رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیْه فرمائي: ”ماښام (به ئې په كجوره وغيره روژه ماتوله خو) اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰیعَلَیْه ما [د ماښام] په طعام خوړلو يوه ورځ هم نه دې ليدلې. په پيشمني كښې به صِرف په يو وړوكي

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعي په شپه او د جُمعي په ورځ په ما باندي د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسي كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكي او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

كندولي كښې فيرني او په يوه پيالئ كښې چَكنى راتلله. هغه به ئي خوړله." يوه ورځ تري ما تپوس اوكړو: "حُضُورا! [يعني پير صاحِب]! فيرني او چَكنى مو خنكه را يو ځائ كړي دي؟" اوئي فرمائيل: "د مالګي [يا مالګين خيز] نه د خوراك شروع كول او په مالګه خوراك ختمول سُنَّت دي، ځكه ورسره چَكنى راځي." (حياتِ اعلحضرت ج١ ص٤١)

سُبحٰنَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د سُنَّتو پيكر، سَيِّدى اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه به د خوړي فيرنئ نه مخكښې او وروسته د مالګي چكني د دي د پاره استعمالوله چه د خوراك په اوّل او آخِر كښې د مالګي د استِعمالَولو سُنَّت ادا شي. د خوراك په اوّل او آخِر كښې د مالګي (يا د مالګين خيز) خوړلو سره اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اويا بيمارئ لري كيږي.

یاالٰہی ! مجھ کو بھی کر بھوک کی نعمت عطا
از طفیلِ سیّدی و مُرشِدی احمد رضا

**د شعر ترجمه:** ياالٰهى! ما ته هم د پير و مُرشِد امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه په خاطِر د لوږي برداشت كولو نِعمَت راكړي،

## په روژه كښې يو ځل خوراك كول

د مُنتَخبو احاديثو مجموعي "رِياضُ الصّٰلِحِين" مُؤَلِّف حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مُحيُّ الدِّين اَبو زَكَرِيا يَحيٰى شرفُ النَّوَوِى رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه صائِمُ الدَّهر (يعني هميشه روژه نيولو والا) وو، په ورځ كښې به ئي صرف يو ځل يعني د

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندي يو ځل دُرُود اولولي **الله** د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دي. (عَبدُالرَّزّاق)

ماسخُتن د مانځه نه پس طعام خوړلو او په پيشمني كښې به ئې صرف اوبه څښلې او د شپې به ئې صرف لږ ساعت آرام كولو.

(پيش لفظ رِياضُ الصّٰلِحين مُترجِم ص ١٢)

## ښې ډيرې روژې نيسئ

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! كه د دِين او د دُنيا په كارونو كښې څه رُكاوټ نه راځي او مور و پلار هم نه خفه كيږي، نو ښې ډيرې نفلي روژې نيول پكار دي ځكه چه اكثرو بُزُرگانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى داسي كړي دي. يو يو ساعت به مو اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ په عِبادت كښې تيريږي. او ټوله ورځ به د خوراك څښاك نه هم بچ اوسئ او د **خيتيِ قُفلِ مَدِينه** لګولو كښې به هم درته اساني وي. خو په پيشمني او روژه ماتي كښې د لږ خوراك كولو تركيب كوئ. په خپل زړه كښې د نفلي روژو نيولو د شوق راپيدا كولو د پاره په **فيضانِ رَمَضان** كښې ”**د نفلي روژو بيان**“ اولولئ يا ئې واورئ ځكه چه د ګناهونو نه د بچ كيدو د پاره د هغې عذاب زده كول او د نيكو اعمالو د فِكر جوړولو د پاره د هغې فضائل زده كول ډيره زياته فائده لري. د روژې يو فضيلت واورئ او خوشحاله شئ، چنانچه

## د ټولې زمكې سره زر

د **الله** عَزَّوَجَلَّ د **خوږ حبيب** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُبارَك فرمان دي: ”كه چا يوه ورځ نفل روژه اونيوله او د ټولې زمكې سره زر هغه ته وركړې شي، بيا به

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاك اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

هم د هغه ثواب پوره نه شي، د هغې ثواب خو به د قِيامَت په ورځ وركولې شي." (مُسنَدابی یعلٰی ج ۵ ص ۲۵۳)

## د سرو زرو دسترخوان

د **حضرتِ** سَيِّدُنا ابو الدَّرداء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ قول دې: "په ورځ د قيامت به د روژه دارو د پاره د عرش نه لاندې د **سرو زرو دسترخوانونه** غوړَوَلې شي. چه په هغې كښې به ملغلرې او قيمتي قيمتي كاڼرې لګيدلې وي، په هغې به جَنَّتي ميوې، جَنَّتي شربتونه او مختلِف قِسم خوراكونه پراته وي، روژه دار به ئې خوري او مزې به كوي او نور خلق به په سخت حِساب كِتاب كښې اخته وي." (البُدُورُ السّافِرة ص ۲۶۰)

فضلِ ربّ سے رَاحتوں کا حشر میں سامان ہے
روزہ داروں کیلئے سونے کا دستر خوان ہے

**د شعر ترجمه:** د رَبّ عَزَّوَجَلَّ په فضل په حشر كښې د راحتونو سامان دې، د روژه دارو د پاره د سرو زرو دسترخوان دې!

## په ورځ كښې درې ځله د طعام خوړلو والَو غندنه

**حضرتِ** سَيِّدُنا سَهل بِن عبدُالله تُستَري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه چا تپوس اوكړو چه، په ورځ كښې يو ځل طعام خوړل څنګه دي؟ اوئې فرمائيل: "دا د صِدّيقينو (يعني چه په اوليائے كِرامو كښې د ټولو نه افضل قِسم دې، د هغوئې) خوراك دې" هغه كس عرض اوكړو، په ورځ كښې دوه ځله

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رَسُول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

طعام خوړل څنګه دي؟ اوئې فرمائيل: ”دا د مؤمِنانو خوراك دې، “ هغه عرض اوكړو، كه څوك په ورځ كښې درې ځله طعام اوخوري نو [څنګه ده] ؟ اوئې فرمائيل: ”د داسي كس د كور كسانو له پكار دي چه هغه د خاروو په غوژل كښې اوتړي.“ (چه هلته د خاروو په شان هر وخت خوراك څښاك كوي!) (رساله قُشَيريه ص ١٤٢)

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** سَيِّدُنا سَهل بِن عبدُالله تُسترى رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه په صِدِّيقينو اولياؤ كښې شامِل وو. ځپله به ئې د شلو شلو ورځو پورې خوراك نه كولو خو د عامو مسلمانانو د پاره هغوئې رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه د دوو وختو طعام خوړل عيب اونه ګرځولو ځكه چه صرف د يو وخت په خوراك كولو باندې ټوله ورځ تيرول، كار او محنت مشقَّت كول د هر چا د وَس خبره نه ده. البَتَّه په ورځ كښې درې ځله طعام خوړل هغوئې ته ډير سخت ناخوښه وو. لكه څنګه چه د هغوئې د اِرشاد نه معلوميږي.

مُجھ کو بھوک و پیاس سہنے کی خدا توفیق دے
گُم تِری یادوں میں رَہنے کی سدا توفیق دے

**د شعر ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ! ما ته د لوَږې او تَندې تيرولو او ستا په ذِكر كښې د هميشه د پاره د اوسيدلو توفيق راكړې.

## په كجورو او اوبو ګزاره كول

**حضرتِ** سَيِّدُنا عُروه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنهُ د **اُمُّ المُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنهَا نه روايت كوي چه هغوئې به فرمائيل: اے خورئيه!

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: په ما باندې د دُرود لوستو په ذریعه خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قیامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

مونږ به د یوې میاشت [یعني سپوږمئ] نه پس بله سپوږمئ لیدله، په دوو میاشتو کښې به مو درې سپوږمئ لیدلې او د حُضُورِ اَنوَر صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مُبارَکو کوروُنو کښې به اور [یعني نَغرې] نه بَلیدو. عُروه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي، ما عرض اوکړو: اے ترور! [یعني د مور خور] ستاسو وخت به څنګه تیریدلو؟ اوئې فرمائیل: زمونږ د وخت ګزران به په دوو تور څیزونو یعني په کجورو او اوبو کیدو. سِوا د دې نه چه څه اَنصار عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان د سرکارِ مَدِینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډیان وو. هغوئي څه د پیو والا اوښې (یا چیلئ یعني بیزې) د سرکارِ مَدِینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره مخصوص کړې وې، او هغوئي به د هغې پــئ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې رالیږل او سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه پــئ په مونږه څښل. (صحیح بُخاری ج۷ ص۲۳۲ حدیث ٦٤٥٩)

## د تولې شپې د عِبادت نه غوره

حُجَّةُ الۡاِسلام حضرتِ سَیِّدُنا اِمام مُحمّد غزالی رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه نقل کوي، حضرتِ سَیِّدُنا ابو سُلَیمان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: ما ته د شپې د خوراك نه یوه نوړئ کمول د تولې شپې د عبادت نه زیات خوښ دي، او فرمائي: لَوَږه د الله عَزَّوَجَلَّ د خزانونه یوه خزانه ده او دا صِرف خپلو خوښو بندګانو ته ورکوي. (اِحیاءُ العُلُوم ج۳ ص۹۰)

دُعا ہے کچھ نہ کچھ لقمے خدا کے واسطے چھوڑوں رِضائے حق کی خاطِر لذّتِ دنیا سے منہ موڑوں

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرَانِي)

**د شعر ترجَمه:** دا مې دُعا ده چه د الله عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره څه نه څه خوراك كم كړم او د الله عَزَّوَجَلَّ د رِضا د پاره د دُنيا د مزو نه مخ واړووم.

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** كاش! چه مونږ ته هم په اِختياري طور لَوږه يعني په خپله اِراده د لږ خوراك كولو مَدَني خزانه او د **خيتې قُفلِ مدينه** نصيب شي. سُبْحٰنَ الله! د الله عَزَّوَجَلَّ د نيكو بندګانو په نِزد لَوږه د رَحمت خزانه ده. او دا خزانه صِرف نيكو بندګانو ته نصيب كيږي او چا ته چه نصيب شي هغه د دې خزانې په شكرانه كښې څه كوي، هغه په دې حِكايت كښې اوګورئ. چنانچه

## د لَوږې خزانه او د هغې شُكرانه

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبراهيم بِن اَدهَم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د بَلخ بادشاه وو، خو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه بادشاهي پريښودې وه او فقيري ئې اِختيار كړې وه. يوه ورځ هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته د خوراك د پاره هيڅ څه په لاس رانغله نو هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې په شكرانه كښې څلور سوه ركعته نفل ادا كړل. په دويمه ورځ ئې هم څه خوراك اونه موندلو نو هم هغسې څلور سوه ركعته مونځ ئې اوكړو، د ووه ورځو پورې هم داسې اوشو، كمزوري زياته شوه نو د اللّٰه تَعَالٰی په بارګاه كښې ئې عرض اوكړو. **يا رَبُّ العِزَّت!** ستا په عِبادت باندې د قُوَّت حاصلولو د پاره كه څه خوراك را نصيب شي نو ستا كرَم به وي. هم هغه وخت يو ځلمې حاضِر شو او

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي.　(تِرمِذی)

عرض ئې اوكړو. حُضُور! زمونږ له طرفه تاسو ته [د طعام] دعوت دې تاسو زمونږ كور ته تشريف راوړئ. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د هغه سره تشريف يوړلو. چه كله هغه ځلمي هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته په غور اوكتل نو بې اِختياره ئې اووئيل: حُضُورا زه ستاسو تبنتيدلې غلام يم او څه چه زما سره دي دا ټول ستاسو دي. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه اوفرمائيل: ما ته آزاد كړې او څه چه ستا سره دي هغه ټول مې تا ته اوبخښل. د هغه نه ئې اِجازت واغستو او د هغه ځائ نه رُخصت شو او په بارگاهِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ كښې ئې عرض اوكړو، يا الله عَزَّوَجَلَّ زه به اوس ستا نه سِوا بل هيڅ هم نه غواړم ځكه چه ما خو ستا نه صرف د ډوډئ يوه ټكړه غوښتې وه او تا دومره ډيره دُنيا ما ته مخې ته كړه! (تَذکِرَۃُ الاولیاء ص ۹۶)

کثرتِ دولت کی آفت سے بچانا یاخدا　　دے مجھے عشقِ محمّد کا خزانہ یاخدا

**د شعر ترجمه:** يا اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ ته ما د ډير دولت د آفت نه بچ كړې، او ما ته د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عشق خزانه را كړې!

## د يوې خرابې نوړئ تباهياني

**هر څيز** بې سوچه خوړل ښنبل تشويشناك دي، چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا مَعروف كَرخي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: صِرف **يوه خرابه نوړئ** ځيني وخت د زړه كيفِيَّت داسې تباه كړي چه بيا ټول عمر زړه په نيغه لاره نه راځي او كله داسې هم كيږي چه هغه خرابه نوړئ د پوره كاله پورې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذی)

بنده د تَهَجُّد د نِعمَت نه محرومه كړي. او كله كله د يو ځل بد نګاهي [يعني بد نظري] كوونكي د يوې مودې پورې د قرآنِ پاك د تِلاوَتِ د سعادت نه محرومه كړې شي. (مِنهاجُ العابِدين ص ١٥٧)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ځلوينبتو ورځو مونځونه نامقبوله

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! څوك چه په عِبادت او تِلاوت كښ د زړه نه لګيدو، په نَعت شريف او دُعا كښ د زړه د نرمئ او د ژړا نه نصيب كيدو او د ډيرو كوششونو كولو باوجود د تَهَجُّد ادا كولو د پاره د ستركو نه غړيدلو ګيلې كوي، د هغوئي د پاره د حضرتِ سَيِّدُنا مَعروف كَرخی رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په بيان كښ د عِبرت ډير سامان دې. د **رِزقِ حرام** نه هر يو ته بچ كيدل لازم دي ګني د تباهئ او بربادئ نه سِوا به هيڅ هم په لاس رانه شي. د **الله** عَزَّوَجَلَّ د خوږ **رَسُول** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك اِرشاد دې: چا چه د حرامو يوه نوړئ اوخوړله د هغه به د څلوينبتو ورځو نمونځونه نه قبليږي او د هغه دُعا به د څلوينبتو ورځو پورې نه قبليږي. (فِردَوسُ الاَخبار ج ٤ ص ٢٤٣ حديث ٦٢٦٣)

## د حرامې نوړئ سزا

**منقول دي:** "د اِنسان خيټې ته چه كله د حرامو نوړئ لاړه شي نو د زمكې او آسمان هره فرِښته د هغه وخته پورې په هغه لعنت كوي تر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرانِي)

څو چه هغه حرامه نوړئ د هغه په خيټه كښ وي، او كه په هم دې حالَت كښ مَړ شو نو د هغه ځائ به جَهَنَّم وي." (مُكاشَفَةُ القُلوب ص ١٠)

## د نُور نه ډكه سينه

**د مدينې د سُلطان** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُبارَك دې: "كله چه بنده په خپل خوراك كښ كمې كوي نو د هغه جوف (يعني سِينه) د نور نه ډكه كړې شي." (الجامِعُ الصَّغير ص ٣٥ رقم الحديث ٤٦٩)

## څلور نصيحتونه

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبراهِيم بِن اَدهَم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: زه په كوهِ لَبنان كښ د ډيرو اوليائےكِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په صُحبَت كښ پاتې شوې يم. په هغوئې كښ هر يو ما ته هم دا نَصِيحَت اوكړو چه كله د خلقو خوا ته لاړ شې نو د دې څلورو خبرو نصيحت ورته كوه: (١) څوك چه په **مړه خيټه ډوډئ** خوري [يعني ځان مړوي] هغه ته به د عِبادت خوَند نه نصيب كيږي، (٢) څوك چه **زيات خوب** كوي د هغه په عُمر كښ به بَرَكت نه كيږي، (٣) څوك چه صِرف خلق خوشحالوَل غواړي هغه به د رضائےاِلٰهی عَزَّوَجَلَّ نه مايوسه شي، (٤) څوك چه **غِيبَت** او **فضول خبرې** ډيرې كوي هغه به په دِينِ اسلام نه مري.

(مِنهاجُ العابِدين ص ١٠٧)

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

## د بدې خاتِمې يَره

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! دا حقيقت دې چه د ډير خوراك کولو سره خيټه درَنه شي، اندامونه او بَدن سست شي او په عبادت کښې زړه ته اطمِينان نه حاصليږي، د دې تجربه به د رَمَضَانُ الْمُبارَك په تراويح کښې ډيرو ته شوې وي. ځکه چه د ”فوډ کلچر [يعني د خوراك څښاك د رواج]“ دور دې. په خو خو قِسمه خوراکونه په زور زور خيټې ته اچول شي، د هغې په نتيجة کښې بيا کباب، سموسې او پکوړې وغيره په خيټه کښې ” کړکوړ“ پيدا کوي، د يخو اوبو، مزيدارو شربتونو او د ترَوو څيزونو د ډير زيات استعمال په وجه نن صبا په جُماتونو کښې د تپوخو، غاړه تازه کولو او د اډرقو کولو آوازونه راځي! او که چرې يو کس تپوخې اوکړې نو غالباً نفسياتي طور بل له هم تپوخې ورشي او دغسې د تپوخو اوازونه ساعت په ساعت زياتيږي! د حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم بِن اَدهَم رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه څلورم ارشاد هم ډير تشويشناك دې چه ”څوك غِيبَت او فُضُول خبرې ډيرې کوي هغه به په دِينِ اسلام نه مري.“ آه! شايد په لکونو مسلمانانو کښې به څوك وي چه نن د غِيبَت او فُضُولو خبرو نه د بچ کيدو فِکر لري. يا الله عَزَّوَجَلَّ زمونږه اِيمان سلامت لرې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الاَمِين صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نزدې هغه وي چا چه په دُنیا کښې په ما باندې زیات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

مسلماں ہے عطّار تیری عطا سے ہو ایمان پر خاتِمہ یاالٰہی عزوجل

مسلمان دې عطّار، ربه ستا په عطا وركړې په اِیمان خاتِمه یا اِلٰهی

## د دِین غِلاف

د **حضرتِ** سَیِّدُنا حامِد لَفَّاف رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خدمت کښې یو کس حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه ما ته څه نصیحت اوکړئ، ورته ئې اوفرمائیل: د دِین د حِفاظت د پاره د قرآنِ پاك په شان غلاف [یعني كڅوړه] جوړه كړه. عرض ئې اوكړو: د دِین غلاف څه څیز دې؟ اوئې فرمائیل: د ضرورت نه زیاتې خبرې كولو نه ځان ساتل، د خلقو سره بې ضرورته ملاقاتونه نه كول، او د ضرورت نه **زیات خوراك نه كول.** نور ئې ورته اوفرمائیل: كه تاسو ته معلومه شي چه **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ به په جَنَّت كښې د **نبی كریم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او **صحابۀ كِرامو** عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان سره د اهلِ ایمان ښكله میلمستیا كوي نو تاسو به د دې دُنیا د یو ښو ورځو په ژوند كښې كله هم په مړه خیټه طعام نه خوړلې. (تذكرۃُ الواعظین ص ۲۳٤)

## د عِبادت خوَږوالي

حُجَّةُ الِاسلام حضرتِ سَیِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: په مړه خیټه خوراك كولو [یعني ځان مړولو] سره د عبادت خوَند ختم شي.

اَمِیرُالمُؤمِنین حضرتِ سَیِّدُنا **ابوبكر صِدّیق** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ فرمائیلي دي: د كله نه چه زه مسلمان شوې یم نو ما كله هم ځان په **خوراك** نه دې

www.dawateislami.net

مورړ کړې، د پاره د دې چه د عِبادت خوند را ته نصيب شي او د کله نه چه مسلمان شوې يم نو د ديدارِ اِلٰهى عَزَّوَجَلَّ د جام څښلو د شوق په وجه مې کله [په اوبو خپله] **پوره تَنده نه ده ماته کړې.** (مِنهاجُ العابِدِين ص ۱۹۳)

بھوک کی اور پیاس کی مولیٰ مجھے سوغات دے
یاالٰہی ! حَشر میں دیدار کی خیرات دے

يا اِلٰهى د لوَږې او د تَندې سوغات راکړې
په حشر کښې د خپل ديدار خيرات راکړې

د **حضرتِ** سَيِّدُنا سُفيان ثَورى رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه ارشاد دې: عِبادت يو فَن دې، د دې د زده کولو ځائ خَلوَت (يعني ځان له ځائ) دې او د دې اوزار **لوَږه** ده. (اَيضًا)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قِيامت په ورځ به څوك اوږې وي

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُوجُحير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې، د سُلطانِ انبياء صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرَت نه ډك فرمان دې: ډير خلق په دُنيا کښې ښه خوراکونه کولو والا او ښه ژوند تيرولو والا دي خو د قِيامت په ورځ به هغوئې اوږې او برېَنډ وي. (شُعَبُ الاِيمان ج۲ ص ۱۷۰ حديث ۱٤٦۱)

بھوک کی نعمت بھی دے اور صَبر کی توفیق دے
یا خدا ہر حال میں تو شُکر کی توفیق دے

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

د لوَږې نِعمت هم راکړې او د صبر توفیق راکړې
اے خُدایا! په هر حال کښې د شُکر توفیق راکړې

د **حضرتِ** سَیّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه روایت دې چه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو سړي اړرقې واوریدو نو اوئې فرمائیل: خپل اړرقې کم کړه، ځکه چه د قِیامت په ورځ به د ټولو نه زیات اوږې هغه [کس] وي څوك چه په دُنیا کښې خیټه ډیره ډکوي. (ترمِذی ج٤ ص٢١٨ حدیث ٢٤٨٦)

**حضرتِ** سَیّدُنا ابوطالِب المَکّی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: چا چه اړرقې کړې وو، هغه صحابي (یعني ابوجُحَیفَه) رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: قَسَم په خدائے! په کومه ورځ چه سرکارِ کائنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته دا خبره اِرشاد فرمائیلې وه د هغه ورځې نه واخله د نن ورځې پورې ما کله هم په خوراك ځان نه دې موړ کړې او زما د **الله** عَزَّوَجَلَّ نه اُمِّید دې چه آینده به هم زما (په مړه خیټه د خوراك کولو نه) حفاظت فرمائي. (قُوتُ القُلوب ج٢ ص٣٢٥)

مجھے بھوک کی دے سعادت الٰہی
پئے غوث دے استِقامت الٰہی

**د شعر ترجمه:** یا اِلٰهی ما ته د لوَږې سعادت راکړې
په وسیله د غوث پرې اِستِقامت راکړې

## د شنې خرمنې والا بُزُرګ

**حضرتِ** سَیّدُنا اَبُوطالِب المَکّی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه لوئې عالِم، مُحَدِّث و مُفَکِّر او لوئې وَلِیُّ الله او د تَصَوُّف زَبردست اِمام تیر شوې دې. حضرت

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه په تَصَوُّف كښې د هغوئې د كتاب "قُوتُ الۡقُلُوب" نه ډيره فائده حاصله کړې ده. د هغوئې رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه د تقوٰی دا عالَم وو چه د يوې مودې پورې ئې طعام خوړل پريښودې وو صِرف مُباح قُدرتي طور راختلې ګيا [يعني واښه] به ئې خوړل او په هغې به ئې ګزاره کوله. **صرف شنه شنه واښه به ئې خوړل نو په دې وجه د هغوئې** رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه **خرمن شنه شوې وه!**

## په جنازه باندې ئې شَکر او بادام اونوستې شو

د **وفات** په وخت كښې چا د حضرتِ سَيِّدُنا ابو طالِب المَكّی رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه په خِدمت كښې عرض اوکړو: حُضُور ما ته څه نصيحت اوفرمائې، اوئې فرمائيل: که زما خاتِمه په خير اوشي نو زما په جنازه بادام او شَکر اونوله [يعني اوشينده]. عرض ئې اوکړو: زه به څنګه خبر شم؟ اوئې فرمائيل: زما سره ناست اوسه او خپل لاس زما په لاس كښې راکړه، که چرې ما ستا لاس په قُوَّت زور کړو نو پوهه شه چه زما خاتِمه په اِيمان شوې ده. چنانچه لاس ئې په لاس كښې ورکړو. چه کله د وَفات وخت راغې نو هغوئې رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه د هغه لاس له زور ورکړو او روح مبارَك ئې اووتلو. چه کله ئې جنازه اوچته کړې شوه نو په هغې باندې شَکر او بادام اوشيندلې شو. د هغوئې رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه د عُرس

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

ورځ ٦ جُمادِی الآخِره ۳۸٦ھ ده. په بَغدادِ مُعَلّٰی کښې په "مقبرهٔ مالِکیه" کښې د هغوئې رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ مزار مبارَك دې.

عاشق کا جنازہ ہے ذرا دھوم سے نکلے
محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کی گلیوں سے ذرا گھوم کے نکلے

## د دُنیا کُنجي

**حضرتِ** سَیِّدُنا ابو سُلَیمان دارانِي رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د دُنیا کُنجي خیټه مړوَل دي او د آخِرت کُنجي لوَږه ده. (نُزهَةُ المَجالِس ج١ ص١٧٧)

## په قِیامَت کښې به څوك ماړه وي؟

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** هر وخت مزیدار خیزونه خوړَلو والؤ د پاره او که اوږي وي او که نه خو [په هر حال کښې] خپلې خیټې ډکولو والؤ د پاره د فِکر مقام دې. قَسَم په خُدائے! د قِیامَت لوَږه به څوك هم برداشت نه کړې شي، په قِیامَت کښې د موړ اوسیدلو د پاره بهترین عمل په دُنیا کښې لوږه تیرول دي. چنانچه د نَبِیِّ اَکرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد مُبارَك دې: څوك چه په دُنیا کښې لوَږه خپلوي هغه به د قِیامت په ورځ ماړه وي. (اِتِّحافُ السادةُ المُتَّقین ج ٩ ص ١٧)

د حضرتِ سَیِّدُنا ابو هُریره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې، د مدینې د تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: د (قیامت د ورځې د) حِساب سختي به په هغه اوږي نه وي چا چه (په دُنیا کښې) په خوراك نه کولو او په لوَږه صبر کړې وي. (البُدُورُ السافِرة ص٢١٢)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې.(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

یاالٰہی! جب زَبانیں باہَر آئیں پیاس سے
ساقی کوثر شہِ جُود و عطا کا ساتھ ہو

**د شعر ترجمه:** يا اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ د قيامت په ورځ چه کله د تندې نه ژبې بهر را اوځي، په هغه وخت کښې مونږ ته د سَخي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارکو لاسو آبِ کوثر او د هغوئي شفاعت رانصيب کړې.

## د قِيامت تيز نمر

**خوږو خوږو اِسلامی وروڼو:** غور خو اوکړئ! د قِيامَت مُعامَله ډيره سخته ده. په دُنيا کښې د نفس په وجه صرف د يو څو مِنټه خوند اغستلو د پاره ډير خوراك څښاك کوونکو د پاره ډيره سخت ازميښت دې. آه! آه! آه! يو خو د قِيامت سخت تيز نمر، او ورسره ورسره زمکه هم د تانبې، بيا هم ښپې ابله ښپې، او د پاسه پرې د لَوږې او تندې سخته اَلْاَمَان وَالْحَفِيظ. د نفس خبره منلو کښې هلاکت او هلاکت دې، چنانچه

## نَفس دوزخ ته اورسولم

**حضرتِ سَيِّدُنا** ابوالحسن رازی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ خپل پلار د وفات کيدو نه دوه کاله پس په خوب کښې د قِير (يعني تارکولو) په جامو کښې اوليدو، تپوس ئې ترې اوکړو: دا څه دې؟ تاسو د دوزخيانو په جامو کښې وينم! پلار ئې جواب ورکړو: خوږه ځويه! زما نَفس زه جَهَنَّم ته بوتلم، ته د نَفس د دوکې نه ځان بچ ساته. (مُکاشَفَةُ القُلوب ص ٢٠)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعي په ورځ دُرُود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

سرورِ دیں لیجے اپنے ناتُوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیّدا! کب تک دباتے جائیں گے

اوكړئ مدد د كمزوري اُمّت اے د دِين سرداره
تر څو به وي اَخته په شر د نفس او د شيطان كښ

يا الله عَزَّوَجَلَّ! مونږه د نفس د شرارتونو نه اوساتې او صِرف ستا د رضا د پاره د "خيتې قُفلِ مَدِينه" په لګولو كښ د لوَږې تندې د برداشت كولو جذبه را نصيب كړې. او مونږ ته د قِيامت د سختې لوَږې تندې او د هرې يَرې نه او د جَهَنَّم د عذاب نه امان راكړې.

اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یاالٰہی! خوب ڈٹ کر کھانا پینا چھوڑ دوں
کر کرم کہ نفسِ اَمّارہ سے رِشتہ توڑ دوں

د شعر ترجمه: ياالٰهى! داسې توفيق راكړې چه زه ډير خوراك كول پريږدم، او دا كَرَم را باندې اوكړې چه د نفسِ اَمَّاره سره دوستي پريږدم.

## د لوَږې لس فائدې

(۱) د زړه صفائي (۲) د زړه نرم والې (۳) د مسكينانو د لوَږې احساس (٤) د آخِرت د لوَږې او تندې ياد (٥) د ګناهونو په رَغبت كښ كمې (٦) په خوب كښ كمې (۷) په عبادت كښ آساني (۸) په لږه روزئ كښ كفايت [يعني لږه روزي پوره كيدل] (۹) تندُرُستي (۱۰) د پاتې شوې [خوراك وغيره] د خيرات كولو جَذبه. (اِحياءُ العُلُوم ج۳ ص۹۱ نه ۹٦ پورې مختصراً)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندي يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غرهُمره دي. (عَبدُالرَّزّاق)

حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: بُزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی فرمائي: اَلْجُوْعُ رَأْسُ مَالِنَا يعني لوَږه زمونږه بهترينه سرمايه ده. د دې نه مراد دا دي چه مونږ ته چه کومه فراخي، سلامتيا، عبادت، خوږ والي او عِلمِ نافِع حاصليږي دا د اللّٰه تَبَارَكَ تَعَالٰی د پاره په لوَږه او په هغې باندې د صبر کولو په وجه حاصليږي.

(مِنهاجُ العابِدِين ص ۱۰۸)

بھوک سرمایہ بنے میرا خدائے ذُوالجلال
از طُفیلِ مصطفٰے کر بھوک سے مجھ کو نِہال

د شعر ترجمه: اے الله پاکه لوَږه زما سرمايه اوګرځوې، او په بَرَکت د مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما په لوَږه تيرولو کښې کامياب کړې!

## د قِيامَت په ورځ ميلمستيا

مشهور تابِعِي حضرتِ سَيِّدُنا کعبُ الاحبار رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: په ورځ د قِيامت به يو غږ کوونکې غږ کوي، اے د الله عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره اوږې تږي اوسيدونکو راپاځئ! دا چه واوري نو لوَږه برداشت کوونکي به راشي او دسترخوان ته به کښيني او د نورو خلقو به حِساب کتاب جاري وي. (نُزهةُ المَجالس ج ۱ ص ۱۷۸)

گدا بھی مُنتظِر ہے خُلد میں نیکوں کی دعوت کا
خُدا دن خیر سے لائے سخی کے گھر ضیافت کا

د شعر ترجمه: غُلام هم په جَنَّت کښې د نيکانو د دعوت په انتظار دې، خدائے پاك دِ د سخي د کور د ميلمستيا هغه ورځ په خير راولي!

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

## د جَنَّت او د دوزخ دروازې

حُجَّةُالْاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: **خيټه** او **شرمګاه** د جَهَنَّم په دروازو كښې يوه دروازه ده او د دې اصل [يعني جرړه] ډير خوراك كول دي. او عاجِزى او اِنكساري د جَنَّت په دروازو كښې يوه دروازه ده او د هغې جرړه (يعني بُنياد) **لوَږه** ده. د خپل ځان د پاره د جَهَنَّم دروازه بندَولو والا به يقيناً د خپل ځان د پاره د جَنَّت دروازه بيرته كوي، ځكه چه د دې دواړو مُعامَلاتو په مينځ كښې د مشرق او مغرب په شان فرق دې، لِهٰذا په دې كښې يوې دروازې ته نِزدې كيدل يقيناً د دويمې دروازې نه لرې كيدل دي. (يعني څوك چه د لوَږې په ذريعه عاجِزئ خپلَوي هغه جَنَّت ته نِزدې شو او د جَهَنَّم نه لرې شو. او څوك چه د زيات طعام خوړلو په ذريعه د خيټې او شرمګاه په آفتونو كښې اخته شو، هغه جَهَنَّم ته نِزدې شو او د جَنَّت نه لرې وتو) (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۹۲)

دور آفت ہو ڈٹ کے کھانے کی
کاش! صورت ہو، خُلد پانے کی

كاش! چه لرې شي د ډير خوراك آفت    كاش! نصيب شي داخِله مې د جَنَّت

## د بدن اصلاح

اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: تاسو د ډير خوراك څښاك كولو نه ځان ساتئ. ولې چه دا بدن خرابوي،

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّىاللهُتَعَالٰیعَلَیۡہِوَاٰلِہٖوَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

بيماري پيدا كوي او په مانځه كښې سُستي پيدا كوي. او په تاسو باندې په خوراك څښاك كښې ميانه روي لازم ده، [يعني درميانه انداز لازم دې] ځكه چه د دې سره د بدن اِصلاح كيږي او د فُضول خرچۍ نه خلاصې حاصليږي. (كَنزُ العُمّال ج١٥ ص ١٨٣ رقم الحديث ٤١٧٠٦)

## د مَړې خيټې شپږ آفتونه

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابو سُلَيمان داراني رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: د مَړې خيټې شپږ آفتونه دي.(١) د مُناجاتِ خداوندي عَزَّوَجَلَّ [يعني د دُعا غوښتلو] نه محرومه كيدل (٢) د عِلم و حِكمَت په حِفاظَت كښې مُشكِلات (٣) په مخلوق باندې د مهربانۍ كولو نه لرې والې. ځكه چه څوك خپله خيټه ډكه ساتي نو هغه دا خيال كوي چه د ټولو خيټې ډكې دي. او دغسې د مَسكينانو او د اوږو خلقو سره د هغه همدردي كمه شي. (٤) عبادت ورته بوج محسوسيږي (٥) خواهشات ورسره زياتيږي (٦) مونځ ګزاره جُماٌت ته روان وي او زيات خوراك كوونكي د بَيتُ الخَلاء چكرې لګوي. (اِحياءُ العُلوم ج٣ ص ٩٢)

## اوچه ډوډۍ او مالګه

**حضرتِ** سَيِّدُنا محَمَّد بِن واسِع رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيۡه به اوچه ډوډۍ د مالګې سره خوړله او فرمائيل به ئې: "څوك چه په دُنيا كښې په دومره مقدار راضي شي هغه د هيڅ چا محتاجه نه وي." (مُكاشَفَةُ القُلوب ص ١٢٢)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به معاف شي. (كَنزُالعُمَّال)

# طعام عقل خوري

اِبنِ نجيح رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، امام اعظم ابوحَنِيفه رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ما ته اوفرمائيل: چه كله د دُنيا يو اَهَمّ كار درپيښ شي نو د هغې د پوره كولو نه مخكښ طعام مه خوره، ځكه چه فَاِنَّ الْاَكْلَ يُغَيِّرُ الْعَقْلَ يعني طعام عقل خوري. (مَناقِبِ اَبِيْ حَنِيفه لِلْكُردي ص ٣٥١)

# د زړه د سختئ اسباب

حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، د زړه د سختئ دوه سببونه دي، (١) ډير خوراك كول (٢) ډيرې خبرې كول.

یاوہ گوئی کی، ڈٹ کے کھانے کی
دُور عادت ہو یا خدا یاربّ!

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ زما د فُضولو خبرو او د ډير خوراك كولو عادت لرې كړې.

# ووه نوړئ

اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ به د ووه يا نهه نوړو نه زيات طعام نه خوړلو. (اِحياءُ العُلوم ج٣ ص ٩٧)

# د خيتې ډكولو پريشانئ

په مَړه خيټه د خوراك كولو د آفتونو په بيان كښ حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمَّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: (په مَړه خيټه خوراك

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

کولو والا له) اکثر خوب ورځې بیا هغه که په دې حالَت کښې تَهَجُّد هم اوکړي خو د عِبادت خوږ والې نه مومي. بیا مُجَرَّد [یعني بې واده] کس چه په مَره خیټه اوده شي نو هغه ته اِحتِلام کیږي اوس که هغه په یخو اوبو غُسل اوکړي نو دا هم تکلیف دې، که وِترئې د تَهَجُّدو وخت ته حِصار کړي وي نو تَهَجُّد خو ترې هسې هم پاتې شو، د وِترو د ادا کولو نه هم محرومه شي. دا ټول په مَره خیټه [د خوراك کولو] مصیبتونه دي. (اِحیاءُ العُلوم ج۳ ص۹٤)

## د اِحتِلام یو سبب

**حضرتِ** سَیِّدُنا ابو سُلیمان داراني رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: "اِحتِلام یو مُصِیبَت دې." او دا هغوئي رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په دې وجه فرمائیلي وو چه د بې موقع غُسل د مُشکلاتو په وجه ډیر عبادتونه پاتې شي. پس خوب د آفتونو منبع [یعني چینه] ده، او ډیر خوراك کول د دې سبب [دې] او اوږې پاتې کیدل د دې (آفتونو) قطع کول (یعني پریك کول) دي. (اَیضاً)

## شیطان په وِینه کښې ګرځي

په یو **حدیث مُرسَل** کښې دي، بیشکه شیطان په انسان کښې د وِینې په شان ګرځي نو د لوَږې او تندې په ذریعه د هغه لارې تنګې کړئ.

(اِتِّحاف السّادة المُتَّقِین ج۹ ص۱۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنّی)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! په روايت کښې د **حديثِ مُرسَل** ذِکر دې، حديثِ مُرسَل هغه حديث ته وائي، ”چه په هغې کښې تابِعي د سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه روايت اوکړي او صحابي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ پريږدي.“ (نُزْهَةُ النَّظر فی توضیحِ نخبة الفِکر ص ٦٣)

## دوه نهرونه

سَلَف صالحين رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی فرمائي: ”**خيټه ډکول** په نَفس کښې يو نَهَر دې چه هلته چه شيطان رسيږي او **لوَږه** په رُوح کښې يو نَهَر دې چه هغه د فرښتو د تيريدو لار ده.“ (سبع سَنَابِل مُترجَم ص ٢٤١)

ہمیں بارِ خدایا پیٹ کا قفلِ مدینہ دے
وسیلہ مصطَفٰے کا پیٹ کا قفلِ مدینہ دے

**د شعر ترجمه:** اے زمونږه پاکه خدايا! مونږ ته په وسيله د مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خيټې قفلِ مدينه راکړې!

## د خلوينښتو ورځو لوَږه

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی به د **لوَږې** او **تندې** په ذريعه د شيطان لاره تنګه ساتله. حضرتِ سَيِّدُنا سَهْل بِن عبدُاللّٰه تُستَرى رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه به د خلوينښتو ورځو پورې لوَږه تيروله بيا به ئې څه اوخوړل. (اِحیاءُ العُلوم ج ٣ ص ٩٨) د هغوئې رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د خوراك د پاره به ټول کال صِرف يو درهم کافي وو! (الرِّسالةُ القُشَيرِيَّة ص ٤٠١)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل کړي. (مُسلِم)

## شپږ مَدَني ګلونه

د حضرتِ سَیِّدُنا سَهْل بِن عبدُالله تُستَرى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه شپږ فرامين واورئ، (۱) په ورځ د قِيامت به يو عمل هم د ضرورت نه زيات خوراك پريښودلو نه افضل نه وي ځکه چه دا سُنَّتِ نَبَوی دې. (۲) پوهه خلق په دِين او دُنيا کښ لوَږه ډيره زياته فائده منده ګڼړي (۳) د آخِرت د طلبګارو د پاره د [ډير] خوراك نه زيات بل څيز هم زه نقصان ورکوونکې نه ګڼړم (٤) عِلم و حِکمَت په لوَږه کښ او ګُناه او جهالت په **زيات خوراك** کښ ايښودې شوي دي (٥) څوك چه خپل نفس اوږې ساتي د هغه وَسوَسې به ختمې شي (٦) بنده چه کله اوږې، بيمار او په ازميښت کښ اخته وي، هغه وخت د **الله** عَزَّوَجَلَّ رَحمَت د هغه طرف ته مُتَوَجِّه وي خو چه د چا د پاره **الله** عَزَّوَجَلَّ اوغواړي. (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۹۱)

یاالٰہی بھوک کی دولت سے مالا مال کر
دو جہاں میں اپنی رحمت سے مجھے خوشحال کر

د شعر ترجمه: يااِلٰهى! ما د لوَږې د دولت نه مالامال کړې، او په خپل رَحمت مې په دواړه جهانه کښ خوشحال کړې.

## خيټه ور ذليله دې

په **قُوتُ الْقُلُوب** کښ دي: "لوَږه بادشاه او مړه خيټه غلام دې، اوږې عِزَّت والا او (زياته) خيټه ډکولو والا ذَليله دې." او دا هم وئيل شوي

دي: ”لوَړه ټول عِزَّت او عِزّت دې او خيټه ډکول سراسر ذِلَّت دې.“ او د ځيني اَسلاف رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی نه منقول دي، فرمائي: ”لوَږه د آخِرت کُنجي او د زُهد (يعني د دُنيا نه د بې رغبتۍ) دروازه ده او خيټه ډکول د دُنيا کُنجي او (دُنيا طرف ته) د رَغبَت دروازه ده.“ (قُوتُ الْقُلُوب ج۲ ص ۳۳۲)

## د لوَږي تيرولو تاکيد ولې؟

د **حضرتِ** سَيِّدُنا بايَزيد رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه په خِدمت کښې عرض اوکړې شو، تاسو د لوَږې تيرولو دومره تاکيد ولې کوئ؟ اوئې فرمائيل: که **فِرعون** اوږې وې نو کله به ئې هم د خدائې دعوٰی نه وه کړې او که **قارون** اوږې وې نو کله به ئې هم بغاوت نه وو کړې. (مطلب دا چه هغه خلق د مال د ډېر والي په وجه سرکشه شول) (کشفُ المَحجوب مُترجم ص ٦٤٧)

## د اللّٰه تعالىٰ د خُفيه تَدبير نه بې يري کيدل لويه ګناه ده

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! واقِعي د صِحّت نِعمَت او د دولت کثرت اکثر اِنسان په ګناهونو کښې اَخته کوي. لِهٰذا چه څوك ښه صِحَّت مند يا مالدار يا صاحِبِ اِقتِدار وي هغه ته د خدائے عليم و خبير عَزَّوَجَلَّ د **خُفيه تدبير** نه د يريدلو ډير زيات ضرورت دې ځنکه چه حضرتِ سَيِّدُنا حَسن بصری رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ”په چا چه **اللّٰه** تعالىٰ په دُنيا کښې (په رزق کښې د ډير زيات والي، د فرمانبردار اولاد، د مال و دولت، د ښه صِحَّت، د مَنصَب، د عُهدهٔ وزارَت يا د صدارت يا د حُکومت وغيره په ذريعه)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بېشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

فراخي اوكړي او هغه ته دا يره نه وي چه چرې دا (راحتونه) د الله عَزَّوَجَلَّ خُفيه تدبير خو نه دې نو داسي كس د **الله** عَزَّوَجَلَّ د **خُفيه تدبير** نه غافِله دې." (تَنبِيهُ الْمُغتَرِّين ص ٥٤)

حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مُحَمَّد بِن احمَد ذَهبى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خپل تصنيف "كِتَابُ الْكبائِر" كښې د **الله** عَزَّوَجَلَّ د خُفيه تدبير نه نه يريدل د كبيره [يعني غټو] ګناهونو په فِهرست كښې شامِل كړي دي. لِهٰذا د سرمايه دارانو وغيره سره سره بې وَسو، بيمارانو او په مُصِيبَت كښې اَخته خلقو ته هم د **الله** عَزَّوَجَلَّ د **خُفيه تدبير** نه يريدل ضروري دي، ځكه چه كيدې شي چه د دې آفتونو په ذريعه دوئي په ازميښت كښې اچولي شوي وي او ناجائزه ګيلې قيصې كول، غير شرعي بې صبري كول او خپله غريبي او مُصِيبَت د حرامو كارونو په ذريعه د ختمولو كوششونه ئې د آخِرت د تباهئ سبب جوړ شي. په راحتونو كښې د ژوند تيرولو والَوْ د پاره هم د رَبِّ عزيز و قدير عَزَّوَجَلَّ د **خُفيه تدبير** نه يريدل واجِب دي، ځكه چه چرې داسي اونه شي چه د دې دُنياوي نِعمَتونو په ذريعه د تَكَبُّر، سركَشئ او نورو ګناهونو سلسله روانه شي او [دا ګناهونه د هغه] د مضبوط او ښكُلي بدن او د هغه د مال و دولت د جَهَنَّم د خشاك جوړيدو سبب جوړ شي. په دې باره كښې حديثِ نَبَوي او فرمانِ خداوندي عَزَّوَجَلَّ واورئ او د **الله** عَزَّوَجَلَّ د **خُفيه تدبير** نه اويَريږئ.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

## د الله عَزَّوَجَلَّ د طرف نه مُهلت

د حضرتِ سَيِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې، چه د نَبِيِّ اَكرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: چه كله تاسو يو بنده اووينئ چه الله تعالیٰ هغه ته [نعمتونه] عطا كوي او هغه په خپله ګناه باندې قائم دې نو دا د هغه [يعني الله تعالیٰ] د طرف نه مُهلَت دې. بيا ئې د دې آيتِ كريمه تِلاوت اوفرمائيلو:

فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتّٰۤى اِذَا فَرِحُوْا بِمَاۤ اُوْتُوْۤا اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾

(پ ۷ ، الاَنعام: ٤٤)

مفهوم ترجمۀ كنزُالاِيمان: بيا چه كله هغوئې هير كړل كوم نصيحتونه چه هغوئې ته شوي وو، مونږه په هغوئې باندې د هر څيز دروازې پرانستې تر دې چه كله خوشحاله شو په هغې څه چه هغوئې ته وركړې شوي وو نو مونږه ناڅاپه هغوئې اونيول اوس د هغوئې اميدونه ختم شو.

(مُسنَد امام احمد ج٦ ص ١٢٢ رقم الحديث ١٧٣١٣)

## ګناهونه بنه ګنړل كفر دې

مُفَسِّرِ شَهِير حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ د دې آيتِ كريمه نه لاندې فرمائي: ”معلومه شوه چه په تولو عذابونو كښې د تولو نه سخت عذاب د زړه سخت والي دې چه د هغې په وجه تعليمِ نبی اثر نه كوي. د دې آيتِ كريمه نه معلومه شوه چه د ګناه او د عِصيان [يعني

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

نافرمانو] باوجود د دُنيا راحتونه په لاس راتلل د الله عَزَّوَجَلَّ غضب او عذاب دې ځكه چه د دې په وجه انسان نور هم غافِله شي او په ګناه باندې زَرَوَر شي بلكه كله دا خيال هم كوي چه ګناه ښه څيز دې ګني ما ته به دا نِعمتونه نه نصيب كيدلې، دا كفر دې. (يعني ګناه ته ګناه وئيل فرض دي، ګناه ته قصداً ښه وئيل يا ښه ګڼړل كفر دې) دا هم معلومه شوه چه په نيكانو خلقو باندې تكليفونه راتلل د رَحمَتِ اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ ذريعه ده ځكه چه په دې باندې د دې نيك بنده درجات اوچتيږي.“

(نُورُ العِرفان ص ٢١٠)

## دُعائے مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د الله عَزَّوَجَلَّ خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به اكثر دا دُعا غوښتله: **يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ** يعني اے د زړونو اړولو والا زما زړه په خپل دِين باندې قائم اوساتې. (مُسنَد امام احمد ج٤ ص ٥١٥ رقم الحديث ١٣٦٩٧)

يا خدا تُو مِرا ايمان سلامت رکھنا
از پئے غوث و رضا سایہ رَحمت رکھنا

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ! ته زما ايمان سلامت اوساتې، او د غوثِ پاك او اِمام احمَد رضا خان رَحمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِمَا په وسيله را ته د رَحمَت سورې نصيب كړې.

## په ځلوېښتو زرو كښې څلور

**حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله بِن مُبارَك رَحمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي، يو حكيم (يعني هوښيار كس) په ځلوېښتو زرو خبرو كښې دا څلور خبرې غوره كړې:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكۍ ليكي. (تِرمِذِی)

(۱) په هره زنانه [يعني ښځه] باندې په هره مُعامَله كښې يقين مه كوه. (۲) كله هم په خپل دولت باندې يقين مه كوه. (۳) په خپله مِعده باندې د هغې د طاقت نه زيات بوج مه اچوه (يعني ډېر زيات خوراك مه كوه) (٤) د داسې عِلم (يعني معلوماتو او خبرونو وغيره) حاصلولو كوشش مه كوه چه د هغې نه ته فائده نه شي اوچتولې. (اَلمُنَبِّهات لِلْعَسقَلانی ص ٤٧)

## ووه كُولمې

د رَسُولِ پاك صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُبارَك دې: **مومِن** په يوه **كولمه** خوراك كوي او كافر يا **مُنافق** په ووه **كولمو** خوراك كوي.

(صحيح بُخاری ج٦ ص ٢٤٦ حديث ٥٣٩٤)

## د ووه كُولمو مطلب

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د دې حديثِ پاك نه دا مراد نه دې چه د مُسلمان يوه او د كافر ووه **كولمې** وي، د هر سړي ووه **كولمې** وي. دلته دې خبرې طرف ته اشاره ده چه ډېر زيات خوراك كول د كافر مَشغله ده. **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح كښې فرمائي: يعني د **مومِن** په مُقابَله كښې **مُنافِق** ووه چنده زيات خوراك كوي يا د مُنافِق شهوَت د مومِن د خواهِش نه ووه چنده زيات وي، د **كولمې** ذِكر د خواهِش طرف ته اِشاره ده ځكه چه خواهِش خوراك داسې قبلوي لكه څنګه چه **كولمه** [خوراك

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

غوارې]. دا مطلب نه دې چه د مُنافق **کولمې** د مومِن د **کولمو** نه زياتې وي. (اِحیاءُ العُلوم ج۳ ص ۸۹)

## د مومِن او مُنافِق په خوراك كښ فرق

**حضرتِ** سَيِّدُنا حَسن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "مومِن د يوې وړوکي چيلۍ [يعني بيزې] په شان دې چه د هغه د پاره يو موټې اوچې کجورې، يو موټې وربشې او يو ګوټ اوبه کافي دي او مُنافِق د يو سړې خور [يعني ځنګلي ځناور] په شان زيات خوراك كوي. د هغه خېټه د خپل ګاونډي د پاره په كم خوراك صبر نه كوي او هغه په خپل ورور باندې خپل يو څيز نه قربانوي." (قُوتُ القُلوب ج۲ ص ۳۲٤)

## د اعلٰحضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خوراك

اعلٰحضرت امامِ اَهلِسُنّت مولانا شاه احمَد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به ډير كم خوراك كولو. ځنګه چه حضرتِ سَيِّد اَيُّوب علي شاه صاحِب رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "د اعلٰحضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خوراك زيات نه زيات يوه پيالۍ د چيلۍ د غوښې بې مرچكو ښوروا او يَو يا يَونيم د سوجۍ بِسكټ وو او هغه هم هره ورځ نه، كله كله به پكښ ناغه هم كيدله."

(حياتِ اعلٰی حضرت ج۱ ص ۲۷)

کر عطا احمد رضائے احمدِ مرسَل ہمیں
میرے مولیٰ حضرتِ احمد رضا کے واسطے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

د شعر ترجمه: اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د اِمام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په وسيله زمونږ نه خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راضي کړې!

## ووه مَدَنی ګلونه

**حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله بِن عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي: عقلمند ته پکار دي چه ووه خبرو له په ووه خبرو باندې فَوقِيَّت [يعني اَهَمِّيَّت] ورکړي، (۱) غريبئ ته په مالدارئ باندې (۲) ذِلَّت ته په عِزَّت باندې (۳) عاجِزئ ته په خود پسندئ [يعني ځان بهتر ګنړلو] باندې (٤) **لوَږې** ته په مړه خيټه خوراك باندې (٥) غم ته په خوشحالئ باندې (٦) د کمزوري حال والا نيکانو خلقو ته په اوچتو دُنيادارو [مالدارانو] باندې او (۷) مرګ ته په ژوند باندې. (اَلْمُنَبِّهات لِلعسقَلانی ص ۸٥)

## په دولسو ورځو کښې صِرف يو ځل اودس

**حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالوَهَّاب شَعرانی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "ما ډير اوليائے کِرام په لوَږه کښې ثابِت قدم اوليدل تر دې پورې چه په هغوئي کښې به ځيني په هفته کښې صرف يو ځل د رفعِ حاجت [يعني د اودس ماتولو] د پاره تلل ځکه چه هغوئي به بَيتُ الخلا ته د زيات تللو او بربنډيدلو په حقله د اللّٰهتَعَالٰی نه شرميدل. سَيِّدِی شيخ تاجُ الدِّين ذاکِر رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خو په دې مُعامَله کښې دې حد ته رسيدلي وو چه هغوئي ته به په دولسو ورځو کښې صِرف يو ځل د اودس کولو حاجت پيښيدلو."

(تَنبِيهُ المُغتَرِّين ص ۳٦)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

صَـلُّـوۡا عَـلَی الۡـحَـبِـیۡـب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د مَدَني قافِلې يو مُسافِر

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د خيټې قُفلِ مَدِينه لګولو او کم خوراك کولو سره تَنده هم کمه لګي او د لړو اوبو څښلو سره بنده ته خوب هم کم ورځي، يعني په لږ خوب باندې ئې ګزاره اوشي او بنده [د لږ خوب سره هم] تازه دَم شي. د **دعوتِ اسلامي** د شروع په دور کښې يو ځل زمونږ **مَدَني قافِله** (د بابُ المَدينه کراچۍ نه) د پنجاب په سفر وه. په مَدَني قافِله کښې شامِل يو سپين ږيرې د سفر په دوران کښې ما ته (يعني ليکونکي ته) اووئيل چه اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دوه ورځې تيرې شوې او زما اودس د اوسه پورې سلامت [يعني په ځائ] دې. او د خپل مرحوم پير صاحِب په باره کښې ئې اووئيل، چه د هغوئي به د پينځلّس ورځو پورې اودس برقراره وو! دا ټول د خيټې د قُفلِ مَدِينه لګولو يعني کم خوراك کولو بَرَکَتونه دي ځکه چه د دې سره په خوب او د اودس ماتولو په حاجت کښې کمي راځي. او دغسې د عِبادت او د دِين د کارونو کولو د پاره ښه ډير وخت په لاس راشي.

میں کم بولوں کم سوؤں کم کھاؤں یاربّ! تِری بندگی کا مزا پاؤں یا ربّ!

د شعر ترجمه: اے ربه! ما ته توفيق راکړې چه کمې خبرې کووم، کم اوده کيږم او کم خوراك کووم او ستا د بندګئ خوند واخلم.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

## د درې ورځو لوَږه

د **حضرتِ** سَیِّدُنا اَنس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې، خاتونِ جَنَّت حضرتِ سَیِّدَتُنا فاطِمه زَهراء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہا يو ځل د ډوډۍ يوه ټکړه د ځان سره واخستله او د **حُضُورِ اَکرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضره شوه، **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې پوښتنه اوکړه، دا ټکړه څنګه؟ عرض ئې اوکړو، ما ډوډۍ پخه کړې وه. نو ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه بغير مې خوړل خوښ نه کړل، ځکه مې دا ټکړه حاضره کړې ده. **حُضُورِ اَکرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **د درې ورځو نه پس دا وړومبې خوراك دې چه ستا د والِد [صاحِب] په (مُبارَکه) خُله کښې داخل شو.**

(اَلمُعجَمُ الْكَبِير لِلطَّبَرانی ج١ ص ٢٥٩ رقم الحديث ٧٥٠)

دونوں جہاں کے داتا ہو کر، کون و مکاں کے آقا ہو کر
فاقہ سے ہیں سرکارِ دو عالَم، صلی اللہ علیہ وسلّم

**د شعر ترجمه:** سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دواړو جهانو سخي دې، د کون و مکان آقا دې، بيا هم لوږې تيروي.!

اَللّٰهُ اَکبَر! د دواړه جهانو خزانې چه د چا په لاسونو کښې دي د هغوئي د دې دُنيا نه دومره بې رغبتي! دا د **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اختياري لوَږه مُبارکه وه ګني هغوئي خو به د نوروځولئ د خيرات نه ډکولې، هغه داسې چه

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

# د شودو [يعني د پيو] يوه پيالئ او اويا صحابه

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَبوهُريره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: په هغه خدائے پاك مې دِ قَسم وي د چا نه سِوا چه بل معبود [يعني د عبادت لائق] نشته، ما به د لوَږې د لاسه خپله خيټه په زمكه اينبوده او د لوَږې په وجه به مې په خيټه كانړې تړل، يوه ورځ زه په هغه لاره كښې كښيناستم په كومه به چه خلق بَهر ته تلل. **خوږ پيغمبر** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په خوا تيريدو نو ما ته ئې اوكتل او مُسكې شو او زما د مخ په ليدو زما په حالت پوهه شو. اوئې فرمائيل: اے ابوهُريره! ما عرض اوكړو: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ الله (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوئې فرمائيل: زما سره راځه. زه وريسې شا ته شا ته روان شوم. چه كله **حُضُورِ اكرم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل كور مُبارَك ته دننه تشريف يوړلو نو ما هم ترې اِجازت واغستلو او دننه ورداخل شوم. **سركارِمَدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو كنډولي [يعني غټه غونډې پيالئ] كښې شوده [يعني پئ] اوليدل نو اوئې فرمائيل: ''دا شوده د كوم ځائ نه راغلي دي؟ د كور كسانو ورته عرض اوكړو ، دا فلانې صحابي يا فلانئ صحابيه ستاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره هديه [يعني تُحفه] راليږلي ده. اوئې فرمائيل: ابوهُريره! ما عرض اوكړو: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ الله (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوئې فرمائيل: لاړ شه اَصحابِ صُفَّه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان را اوبله.“ **حضرتِ** سَيِّدُنا ابوهُريره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه اَهلِ صُفَّه عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د اسلام ميلمانه دي، نه هغوئی د كور سره رغبت لري او نه د مال و دولت سره [مينه لري] او نه هغوئي د چا نه اِمداد غواړي. چه كله به د **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې د صَدَقې مال راغې نو هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه مال هغوئي (يعني اَصحابِ صُفَّه) عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته ليږلو او ځپله به ئې د هغې نه هيڅ هم نه اخستل. او كله به چه د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې څه هديه[يعني تُحفه] راغله نو هغه به ئې هغوئي [يعني اَصحابِ صُفَّه] عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته ليږله او د هغې نه به ئې ځپله هم اِستعمالَوَله او هغوئي [يعني اَصحابِ صُفَّه] عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به ئې پكښې هم شريك كول. په ما باندې دا خبره لږه ګرانه اولګيده او په زړه كښې مې خيال راغې، چه د اَهلِ صُفَّه عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به په دې پيو څه اوشي، زه د دې زيات مُستحِق ووم چه د دې پيو نه مې يو څو ګوټه څښلي وې او لږ طاقت مې حاصل كړې وې. چه كله اَصحابِ صُفَّه عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان راشي نو حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هُم ما ته ارشاد فرمائي چه دوئي ته پيۓ وړاندې كړه. په دې صورت كښې ډيره مشكله ده چه د پيو يو څو ګوټه ما ته نصيب شي. خو د **الله** عَزَّوَجَلَّ او د هغه د حبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اِطاعت نه بغير بله څه لار نه وه. زه د اَصحابِ صُفَّه عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان خوا ته لاړم او هغوئي مې را

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

اوبلل. هغوئي راغلل، او د حُضُورِ اَکرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ئې اِجازت اوغوښتلو. خوږ خوږ نَبی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اِجازت ورکړو او هغوئي کور کښې حاضر شو او کښيناستل. خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”ابوهُريره!“ ما عرض اوکړو: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ الله (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوئې فرمائيل: ”کنډولې [يعني پياله] اونيسه او په دوئي پـئ اوڅښه.“ حضرت ابوهُريره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: ما کنډولې اونيولو. ما به هغه کنډولې يو کس ته ورکړو هغه به ښه په مړه پـئ اوڅښل او بيا به ئې کنډولې ما ته راکړو. تر دې چه په هغوئي ښنبلو ښنبلو کښې د آقائے مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا ته ور اورسيدم، او ټول خلق ماړه شوي وو. سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کنډولې واخستو او په خپل مبارك لاس ئې کيښودو. بيا ئې زما طرف ته اوکتل او مُسکې شو، اوئې فرمائيل: ”ابوهُريره!“ ما عرض اوکړو: لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ الله (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوئې فرمائيل: ”اوس زه او ته پاتې يو.“ عرض مې اوکړو: يَا رَسُوْلَ الله (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! تاسو رِښتيا اوفرمائيل. خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ”کښينه او اوڅښه.“ زه کښيناستم او پـئ څښل مې شروع کړل. خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ” اوڅښه!“ ما اوڅښل. خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به مُسلسل فرمائيل: ”اوڅښه!“ تر دې چه ما عرض اوکړو، نه، قَسم مې دِ په هغه ذات وي چا چه تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حق

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

رالېږلې ئې، اوس نور ګنجائش [يعني ځائ] نشته. اوئې فرمائيل: "ما ته اوښايه." ما ورته كندولې پيش كړو. خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللّٰه تَعَالٰی حمد بيان كړو، بِسْمِ الله ئې اولوستله او پاتې پيئ ئې اوڅښل.

(صحيح بُخاری ج ٧ ص ٢٣٠ رقم الحديث ٦٤٥٢)

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دا د **سركارِمَدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لويه مُعجزه ده چه ټولو يعني اويا اَهلِ صُفَّه عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په شريكه د پيو يو كندولې پوره اونه څښلې شو. امام احمد رضاخان رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په دې لاندې شعر كښې هم دې ايمان افروز واقعې طرف ته داسې اشاره كوې:

كيوں جنابِ بُو ہُريره! تھا وُه كيسا جامِ شِير
جس سے سَتّر صاحِبوں كا دُودھ سے مُنہ پھِر گيا

د شعر ترجمه: څنګه ابوهُريره، هغه د پيئو څنګه جام وو، چه په هغې اويا صحابه داسې ماړه شو چه هر يو به ترې پخپله بس كول.

## د خلقو نه بې پرواهې

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابو يحيٰ مالِك بِن دينار رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي، ما حضرتِ سَيِّدُنا ابو عبدُالله مُحَمَّد بِن واسِع رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته اووئيل: اے ابو عبدُالله! خوش نصيب دې هغه كس د چا سره چه لږه شان غَلّه وي، او هغه [غلّه] د هغه د پاره پوره وي او دغسې هغه د خلقو نه بې نيازه [يعني بې پرواه] اوسي. دا چه ئې واوريدل نو هغوئي ما ته اوفرمائيل: اے ابو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

يحيٰی! د هغه كس د پاره زِيرې دې څوك چه سحر او ماښام اوږې وي او الله عَزَّوَجَلَّ د هغه نه راضي وي. (إحياءُ العُلوم ج۳ ص۹۰)

## نصيحت بې اثر

**منقول** دي: ”د ډېر خوراك كوونكي نصيحت بې اثره وي او كله چه هغه ته نصيحت كيږي نو د هغه ذِهن ئې نه قبلوي.“
(نُزهَةُ المَجالِس ج۱ ص۱۷۸)

## د مرګ په وخت كښ بدبوئ

**اَميرُ المُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائيلي دي: خپل ځان په مړه خيټه د خوراك كولو نه بچ ساتئ ځكه چه دا په ژوند كښ **بوج** او د مرګ په وخت كښ **بدبوئ** ده. (إحياءُ العُلوم ج۳ ص۹۰)

## خوراك ډېر نو ګټل هم ډېر

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼو!** رښتيا اوفرمائيل سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ، واقعی د **خيټې قُفلِ مدينه** نه لګول او ښه په مړه خيټه خوراك كول په ژوند كښ بوج جوړيږي، ځكه چه د زيات خوراك د پاره ګټل هم زيات غواړي، ښه په خوارئ ګټل غواړي، بيا په خيټه كښ د ډېر وخته پورې د هغې بوج ګرځول غواړي، ډېر خوراك نظامِ اِنهِضام [يعني د هاضمې نظام] مُتاَثِّره كوي. ځكه بنده د قبض، ګيس او د خيټې په نورو تڪليفونو كښ اخته كيږي. الغَرض د زيات

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي **الله** د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

خوراك د پاره په سامان اخستلو رقم هم زيات خرچ كيږي، او په خُله كښې د لږ ساعت خوند نه پس چه څنګه د حلق نه تير شي نو خوند ئې هم ختم شي او بيا د ډير ساعته پورې په خيټه كښې د "كړِ بَړ" بوج، او بيا چه دا تكليف نور زيات شي نو د ډاكټرانو او د دوايانو وغيره د خرچونو بوج. نو داسې تول بوج، بوج او بوج دې. كاش! چه د يو څو ساعته خوند اخستو د پاره د مرګه پورې د بوج نه او بيا د مرګ په وخت كښې د بدبوئ په شان د خطرو نه د بچ كيدو ذِهن جوړَولو كښې مونږ كامياب شوې!

## د عِبادت د خوند نه محرومي

**منقول** دي، كه ته په مره خيټه د خوراك كولو عادت لرې نو د عِبادت د خوند اُمِّيد مه ساته، او د عِبادت نه بغير به په زړه كښې نُور څنګه پيدا شي؟ او كه په عِبادت كښې خوند او مزه نه وي نو په داسې عبادت زړه ته نُور څنګه راتلې شي؟ (مِنهاجُ العابِدِين ص ۱۰۷)

## د لوَږې نه بې هوشي

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابوهُريره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: "ما (د لوَږې په وجه) خپل دا حالَت هم ليدلې وو چه د تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مِنبَرِ مُنَوَّر او د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا د كور مبارك

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

د مينځ [په ځائې] کښې به بې هوشه شوم او را پرې به وتم. څوك سرې به راغې او زما په څټ به ئې ښپه كيښوده. هغه به دا ګڼرله چه په ما باندې د جُنون [يعني د ليونتوب] حالت راغلې دې حالانکه ما ته به جُنون [ليونتوب] وغيره هيڅ نه وو دا حالت به مې د لوَږې په وجه كيدو." (بُخاری ج۸ ص ۱۹۳ حدیث ۷۳۲٤)

بخش دے میری ہر خطا یارب !
فاقہ مستوں کا واسِطہ یارب !

د شعر ترجمه: اے خدايا! د لوَږه تيرووںڪو په وسيله زما هره خطا اوبخښې

خوږو خوږو اِسلامي وروڼرو! دا د **حضرتِ** سَيِّدُنا ابوهُريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ عِلمی شوق وو چه هر څه ئې پريښودې وو او د **حُضُورِ اكرم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مبارَکو ښپو کښې به پروت وو. ښې سختې لوَږې به ئې تيرولې او عِلم به ئې حاصلولو او هُم هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ ته دا اِعزاز حاصل دې چه د ټولو نه زيات احادِيثِ مبارَکه د هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ نه مروي [يعني رِوايت شوي] دي. ډير زيات خوراك كولو والؤ ته، د شُهرت خواهش لرلو والؤ ته، د حِرص او لالچ او د خپل عِزّت د خوښولو په سپيروالی کښې د ککړيدو سره سره په علم ښودلو او علم زده کولو کښې د روحانِيَّت لټولو والَؤ ته منزِل حاصليدل ډير ګران كار دې. په عِلمِ دِين حاصِلولو کښې د اِخلاص نمونه جوړ شئ او د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

الله عَزَّوَجَلَّ ډیر رحمتونه اوکړئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبلیغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیرِ سِیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربیَّت د مَدَني قافِلو په ذریعه هم علمِ دِین او بیشمیره بَرَکتونه حاصلیږي، د دعوتِ اسلامي د **مَدَني قافِلې** یو سپرلې واورئ.

## نامعلومه درد

د **پاکِستان** صوبه پنجاب د یو اسلامي ورور بیان دې، زه د دعوتِ اسلامي عالَمی مَدَنی مرکز فیضانِ مدینه (بابُ المَدینه کراچئ) ته د "تربیتي کورس" د پاره راغلې ووم، په دې دوران کښې مې یوه ورځ د پنجشنبې [یعني د زیارت] په سحر تَقریباً څلور بجې ناڅاپه د خیټې په کڼ طرف درد شروع شو، درد دومره سخت وو چه **ووه اِنجکشنې** [یعني ستَنې] را ته او وهلې شوې نو هله مې آرام راغې، د معمول مطابق د زیارت په ورځ کیدونکې د سُنَّتو نه ډکه اِجتماع کښې د شرکت د پاره (مَدَنی مرکز فیضانِ مدینه کښې) ماښام حاضِر شوم. د شپې لس بجې بیا **درد** شروع شو خو په اِجتِماع کښې د اِجتِماعي دُعا کولو په وخت کښې ټیك شو، یوه ګینټه پس مې بیا **سخت درد** شو. ډاکټر را ته **درې ستنې** اولګولې نو بیا لږ آرام راغې. بیا مې دا حالت شو چه کله به مې ډوډئ اوخوړله نو **درد** به شروع شو. هره ورځ به را ته درې څلور ستنې لګیدې، ډیرپ به راته ختلو،

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود لوستلو په زريعه خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اِلټراساؤنډ هم اوکړې شو، خو ډاکټران د **درد** په سَبَب پوهه نه شو. زه په هسپتال کښې پروت ووم هلته ما ته معلومه شوه چه زما مَلګري اسلامي ورونړه د سُنّتو د تَربِيَّت په مَدَني قافِله کښې د **دولسو** ورځو د سفر تياري کوي، ډاکټر د سفر نه ډير منع کړم خو زه پاتې نه شوم، زه **ډيره بُګټي** (بلوچستان) ته د تلونکي مَدَني قافلې مُسافِر جوړ شوم. **ډيره بُګټي** ته چه تلو نو په لاره کښې مې لږ درد را پيدا شو، بيا د هغه ځائ نه مونږه "سوئ" ته راغلو او د زيارت په ورځ کيدونکې د سُنّتو نه ډکه اِجتماع کښې شريك شو، او بيا **ډيره بُګټي** ته بيرته لاړو.

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مَدَني قافِلې په بَرَکت را نه درد داسې لرې شو لکه هډو چه راغلې نه وو. او اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د اوسه پورې ما ته بيا تکليف نه دې شوې. او د ټولو نه لوئې سعادت را ته دا نصيب شو چه ما ته په مَدَني قافِله کښې په خوب کښې د نَبِي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو.**

لُوٹنے رَحمتیں قافِلے میں چلو　　سیکھنے سُنّتیں قافِلے میں چلو
دردِ سر ہو اگر دُکھ رہی ہو کمر　　پاؤگے صِحَّتیں قافِلے میں چلو
ہے طلب دید کی، دید کی عید کی　　کیا عَجَب وہ دِکھیں قافِلے میں چلو

د سُنّتونو زده کولو د پاره قافلو کښې لاړ شئ　　د رحمتونو ګټلو د پاره قافلو کښې لاړ شئ
که مو درد وي په ملا، يا مو درد وي په سر　　اوموموئ به صحتونه قافِلو کښې لاړ شئ
که ديدار غواړئ تاسو، د خپل خوږ آقا　　څه عجبه ده که اوشي قافِلو کښې لاړ شئ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرَاني)

## كاش چه لوَږه په روپو اَغستې شوې

**حضرتِ** سَيِّدُنا يحيٰي بِن مُعاذ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: كه **لوَږه** په بازار كښې خرڅيدلې نو د آخِرت طلب ګارو به ضرور اخستلې. (رِساله قُشيريه ص۱۴۱)

## هر طرف ته خوراك اخستې شي

**اللّٰه! اللّٰه!** د اوليائے كِرام رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِم د مَدَني ذِهن به څه وائې! حضرتِ سَيِّدُنا يحيٰي بِن مُعاذ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د "لوَږې" اخستلو خبره كوي، او په نادانه خلقو كښې د زيات خوراك كولو باقاعده مُقابلې كيږي، بيا چه څوك د ټولو نه زيات خوراك اوكړي هغه د ټولو نه غټ نر ګڼړلې شي! افسوس! په كروړونو افسوس! نن صبا خلق په پيسو د خوراك بازاري څيزونه او د هغې سره سره د قِسم قِسم "مَرَضونو" په اَخِستلو كښې مشغول دي، هر طرف د خوراك څښاك د څيزونو اَخستلو زور دې، د **فُوډ كلچر** [يعني د قِسم قِسم خوراك څښاك د رواج] دور دې، په يوه يوه **محلّه** كښې څو څو هوټلونه اچولې شوي دي. هر طرف ته هوټلونه چليږي. هر طرف ته د كبابو او سموسو ريړئ ولاړې وي. هر طرف ته د سيخ كباب، چڪّن تِڪّو خوشبوياني خورې دي، د آئسكريمونو او د سوډا ليمن د بوتلو دُكانونه ښه ډير چليږي. د ضرورت مندو خريدارو سره سره ډير خلق صِرف د نفس

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي د چا په مخكښې چه زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

د مزو د پاره د خوراك څښاك څيزونو پورې نښتي وي، چه څه په لاس ورځي خُلې ته ئې اچوي، نه خوك د دُنيا د نُقصان فِكر لري نه د بيمارئ پرواه كوي او نه د چا سره د آخِرت د حِساب غم شته، هر يو د دې خبرې ارمان لري چه بس اوخورم، اوخورم او اوخورم. لكه د هر طرف نه چه دا آوازونه راځي،

كھاؤ پيو، جان بناؤ!

(يعني خوره، څښه او مزې كوه)

كاش چه! مونږ د سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۀ كِرام او د شهيدانِ كربلا عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او د اوليائے كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی مُباركه لوږه ياده لرلې. آه! آه! آه! مونږه د "اوخورم اوخورم" نعرې لګوو او د هغه مُقَدَّسو هستيانو د طرف نه د "لوږې لوږې" پيغامونه وصوليږي. مونږه اګرچه هر دم په خوراك څښاك كښې مشغول يو خو څه خبره خو ده چه د ټولو انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام و صحابه و اولياء عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د طرف نه د كم خوړلو درس حاصليږي.

شوق كھانے كا بڑھ چلا يارب عَزَّوَجَلَّ! نَفس كا داؤ چل گيا يارب عَزَّوَجَلَّ!
خوب كھانے كى خُو مِٹا يارب عَزَّوَجَلَّ! نيك بنده مجھے بنا يارب عَزَّوَجَلَّ!

**د شعر ترجمه:** يا الله عَزَّوَجَلَّ! نن مونږ د نفس د ټګئ په وجه د زيات خوراك شوقيان جوړ شوي يو، يا ربّ عَزَّوَجَلَّ ته زما د ډير خوراك عادت ختم كړې او ما نيك بنده جوړ كړې.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

# زيات خوراك د كُفّارو صِفَت دې

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! صرف د نفس د مزو د پاره څه څيز خوړل ښه خبره نه ده. **صَدرُ الشَّرِيعَه بَدرُالطَّرِيقَه** حضرت عَلَّامَه مَولا نا مُفتِی **مُحَمَّد امجَد علی اَعظَمِی** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ فرمائي، په قرآنِ كريم كښې د **كُفّارو صِفَت** دا بيان كړې شوې دې چه د خوراك نه د هغوئي مقصد صِرف خوندونه او مزې اخستل وي او په حديثِ پاك كښې زيات خوراك كول د كُفّارو صِفَت ښودلې شوې دې.

(ماخوذ از بهارِ شريعت ج۳ حصّه ۱۶ ص ۳۷۵)

"کھاؤں کھاؤں" کی خُو نکل جائے
نَقلِ کُفّار سے بچا یا ربّ

**د شعر ترجمه:** يا الله عَزَّوَجَلَّ ته زمونږه د اوخورم اوخورم عادت لرې كړې، او مونږ د كُفّارو د نقل نه بچ كړې.

# په لوَږه كښې طاقت

د **حضرتِ سَيِّدُنا سَهل بِن عبدُالله** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ حالت دا وو چه كله به اوږې وو نو طاقتور به وو او چه كله به ئې څه اوخوړل نو كمزورې به شو. (رِساله قُشيرِيه ص ۱۴۲)

يو **فارسي شاعِر** خومره ښكلې خبره كړې ده:

اگر لذّتِ تَرکِ لذّت بَدانی دِگر لَذّتِ نَفْس، لَذّت نَخوانی

(يعني كه ته د خوندونو پرېښودل اوپيژنې نو بيا به د نفس خوند ته هيڅ كله خوند اونه وائې)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په **نبي** باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

## د تَصَوُّف حاصلول

حضرتِ سَيِّدُنا جُنيد بَغدادى رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: مونږه تَصَوُّف په قيل و قال (يعني بحث ومباحثه) نه بلكه په **لوَږه**، د دُنيا نه په لري والي او د نَفساني خواهِشاتو په پريښودو حاصل كړې دې. (سَبعِ سنابل مُترجم ص۲٤۱)

## زه د ټولو نه زيات ګنهګار يم

**حضرتِ** سَيِّدُنا عُثمانِ غنى رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: د نيك بنده پينځه نښې دي: (۱) په ښه صُحبَت كښې اوسيږي (۲) د ژبې او د شرمګاه حِفاظت كوي (۳) د دُنيا نِعمَت وَبال او دِينى نِعمَت د الله عَزَّوَجَلَّ فضل ګڼړي (٤) حلال خوراك هم په دې يره په مره خيته نه خوري چه چرې په دې كښې حرام نه وي ګډ شوي (٥) د خپل ځان نه علاوه ټول مسلمانان نجات يافته [يعني خلاصې موندونكي] ګڼړي او خپل ځان ګنهګار ګڼړي او د خپل هلاكت خطره محسوسوي.

(اَلمُنَبِّهات لِلعسقلانى باب الخُماسى ص ٥٩)

ہائے ! حُسنِ عمل نہیں پلّے — حشر میں ہوگا کیا مرا یا ربّ !
خوف آتا ہے نارِ دوزخ سے — ہو کرم بہرِ مصطفٰے یا ربّ !

هائے نه لرم زه هيڅ حُسنِ عمل — حشر كښې به څه كيږي زما يا ربّ
يَره مې كيږي له دوزخ د اوره — كرم كړې د پاره مُصطفٰى يا ربّ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

# د لوَږې نه به راغورزيدلو

حضرتِ سَيِّدُنا فَضالَه بن عُبَيد رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي، حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه كله خلقو ته د مانځه اِمامَت فرمائيلو نو څه صحابهٔ كِرام رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم به په مانځه كښې د قيام په حالت كښې د لوَږې د سختۍ په وجه راغورزيدل، او دا به اَصحابِ صُفَّه وو. تر دې پورې چه اَعرابيانو [يعني د عربو د كلو اوسيدونكو خلقو]به وئيل، دا خلق ديوانه دي. چه كله به سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مونځ نه فارِغ شو نو د هغوئي طرف ته به ئې توَجُّه اوكړه او فرمائيل به ئې، كه تاسو ته معلومه شي چه ستاسو د پاره د اللّٰه تَعالٰى په در كښې څومره اجر دې نو تاسو به دا خبره خوښه كړئ چه ستاسو په لوَږه او حاجت مندئ كښې نوره اِضافه هم اوشي. (جامع ترمِذی ج٤ ص ١٦٢ حدیث ٢٣٧٥)

فاقہ مستی کی دُھن ملے یا ربّ عَزَّوَجَلَّ
دل کا مرجھایا گُل کھلے یا ربّ عَزَّوَجَلَّ

د شعر ترجمه: ياربّ عَزَّوَجَلَّ! د لوَږې تيرولو شوق راكړې او د زړه مړاوې شوې ګُل مې تازه كړې.

# څو څو ورځې لوَږه

په صحابهٔ كِرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان او اولياءِ كِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى كښې به ځينو د څو څو ورځو پورې خوراك نه كولو، چنانچه حُجَّةُ الاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د قيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

**محمّد غزالي** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: حضرتِ **سَيِّدُنا صِدِّيقِ اَكبر** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ به د شپږو ورځو پورې څه نه خوړل، حضرتِ **سَيِّدُنا عبدُ الله بِن زُبَير** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ به د **ووه ورځو** پورې خوراك نه كولو، د حضرتِ **سَيِّدُنا عبدُالله بِن عبّاس** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ شاگردِ رشيد حضرت **ابوالجَوزاء** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ به ووه ورځې لوَږه تيروله، حضرتِ **سَيِّدُنا اِبراهيم بِن اَدهَم** او حضرتِ **سَيِّدُنا سُفيان ثَوری** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْهِمَا به درې ورځې پس ډوډئ خوړله. دې ټولو حضراتو به د آخِرت په لاره د تلَلو د پاره د **لوَږې** په ذريعه مدد حاصلولو. (اِحياءُ العُلوم ج٣ ص٩٨)

فاقہ مَستوں کا واسطہ مولیٰ عَزَّوَجَلَّ    بخش دے میری ہر خطا مولیٰ عَزَّوَجَلَّ

د شعر ترجمه: اے زما مولٰی عَزَّوَجَلَّ! د لوَږو تيروونكو په وسيله زما هره خطا معاف كړې.

## د ټول كال لوَږه

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** د ډيرو ډيرو ورځو پورې لوَږه تيرول د هر يو د وَس خبره نه ده، دا د هم هغه حضراتو حِصّه وه، او د هغوئي كرامت وو. حقيقت دا دې چه هغوئي ته **روحاني غذا** حاصله وه. د الله عَزَّوَجَلَّ په عطا به ځيني اوليائے كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د ځلويښتو ځلويښتو ورځو پورې خوراك نه كولو بلكه زمونږ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ځيني وختونه **يو يو كال** بغير د خوراك څښاك نه تير كړي دي. زمونږه حُضُورِ غوثِ پاك رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته به اللّٰه تَعَالٰی پخپله خوراك څښاك وركولو. چنانچه زمونږ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه يو مُبارَك شعر دې.

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

قسمیں دے دے کے کِھلاتا ہے پِلاتا ہے تجھے
پیارا اللہ ترا چاہنے والا تیرا

## بغير د خوراك ښبناك نه انسان

## څوورځې ژوندې پاتې كيدې شي؟

د اوږدې مودې پورې د خوراك ښبناك نه كولو باوجود د ژوندې اوسيدو او د ژوند په مَعمولاتو كښې د فرق نه راتللو مُعامَلات د ”خواصو [يعني د خاصو خلقو]“ دې، هغوئې ته روحانى خوراكونه وركول شي. ”عوام“ اوږدې لوږې نه شي برداشت كولې، كه څوك په جذباتو كښې راشي او لوږه تيرول شروع هم كړې نو يو څو ورځې پس به حوصله اوبَيلي او بيا شايد چه آئنده هِمَّت هم اونه كړې شي. د يو ډاكټر د تحقيق مطابق بغير د څه خوراك نه د اَتَلَّسو ورځو [پورې] او كه ډير زيات طاقتور وي نو د زياتو نه زيات د پينځَه ويشتو ورځو پورې [اِنسان ژوندې پاتې كيدې شي]، او بغير د اوبو ښبنلو نه درې ورځې او د آكسيجن نه بغير د يومنټ نه واخله زيات نه زيات د پينځَو منټو پورې انسان ژوندې پاتې كيدې شي.

## عوام دِ څومره خوري؟

د عام انسان د پاره دومره هم كافي ده چه كه هغه د ډير خوراك كولو عادت لري نو د الله عَزَّوَجَلَّ د رِضا حاصلولو د پاره دِ د ”خيتې قُفلِ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنِی)

مدينه" اولګوي او ورو ورو دِ ئې کموي تر دې چه د خيټې په دريمه حِصّه خوراك کولو ئې د صبر عادت جوړ شي نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د لوَږې بَرَکتونه به هم حاصل کړي، کمزورې کيږي به هم نه او صِحَّت به ئې داسې بِهتر شي چه ورته حيران به شي، او د ډاکټرانو د ډيرو ډيرو فيسونو او د دوايانو د خرچونه به هم خلاص شي. که يقين مو نه راځي نو تجربه اوکړئ.

مِری ڈٹ کے کھانے کی عادت مٹادے
مجھے متّقی تُو بنا یا الٰہی عَزَّوَجَلَّ

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ! زما د ډير خوراك کولو عادت ختم کړې او ما مُتَّقِي جوړ کړې!

## د بيمار زړه دوايانې

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اَنطاکی رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي، د بيمار زړه پينځه دوايانې دي: (۱) د نيکانو صُحبَت (۲) د قرآنِ پاك تِلاوت (۳) کم خوراك کول (٤) د تَهَجُّد پابندي (٥) د شپې په آخِرئ حِصّه کښې ژړا فرياد. (اَلمُنَبِّهات لِلعَسقَلانی بابُ الخُماسی ص ٦٠)

## زر کاله ژوندئ اوسيدو والا مرغئ

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! افسوس په کروړونو افسوس! ځيني خلق دومره زيات خوراك اوکړي چه خيټه ئې هم اَلاَمَان اَلاَمَان وائي او فوراً پرې سُستي راشي، ګرځيدل خو پريږده، پاځيدل هم ورته ګران

www.dawateislami.net

شي. دلته به شايد چه د **تپوس** مِثال ورکول صحيح وي ځکه چه تپوس کله د يو **مردار** د خوړلو د پاره راکوز شي نو د هغه د يَرې نه بل يو مارغه هم نِزدې نه شي ورتلې خو هغه دومره زيات خوراك اوکړي چه د هغه د پاره اَلوَتل مُشکل شي، تر دې چه که په دې حالَت کښې يو کمزورې کس (بلکه ماشوم) هم هغه نيول غواړي نو نيولې ئې شي! تاسو اوليدل! چه د **خيتې قُفلِ مدينه** نه لګول يعني ډير زيات خوراك کول د مُردار خور تپوس صِفَت دې. **تپوس د زرو کالو پورې ژوندې وي**، بدبوئ د هغه ډيره خوښه ده، د خوشبو نه سخت نفرت کوي، که خوشبو بوئي کړي نو مړ کيږي. د حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حَسن رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ارشاد دې: تپوس چه کله خبرې کوي نو وائي: "اے انسانه! څومره چه غواړې ژوندې اوسه خو آخِر يوه ورځ به دِ مرګ ضرور راځي." (حیاۃُ الحیوانِ الکُبرٰی ج۲ ص ٤٧٤)

موت آکر ہی رہے گی یادرکھ    جان جاکر ہی رہے گی یادرکھ
قبر میں مِیّت اُترنی ہے ضَرور    جیسی کرنی ویسی بھرنی ہے ضَرور

مرګ به دِ راځي دا ياد ساته    ساه به دِ اُوځي دا ياد ساته
قبر ته به تا ښکته کوي ضرور    ستا د کړو بدله به درکوي ضرور

## ماشي اوبښ قتل کوي

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼړو!** د خوند حِرص د هلاکت سَبَب وي، **ماشي** د اِنساني وِينې حريص وي، دا د وِينې د رګ په پاسنئ نرمه څرمن

www.dawateislami.net

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

کښيني او خپله مښوکه (يعني سورې خرټم) ننه باسي او په وِينه څښلو کښې مشغول شي. ځيني وخت دومره وِينه اوڅښي چه بيا اَلوَتې نه شي او يا د هغه خيټه اوشليږي او مړ شي! په **ماشي** کښې **الله** عَزَّوَجَلَّ داسې طاقت ايښودې دې چه ځيني وخت **اوښ** قتل کړي، بلکه هر خاروې قتل کولې شي. د **ماشي** په چيچلو هلاك شوې خاروې چه يو سړې خور ځناور يا مارغه اوخوري نو هغه هم فوراً مړ شي. په پخوانئ زمانه کښې به د عراق بادشاهانو **د مرګ سزا** ډيره په سخته طريقه ورکوله هغه دا چه هغوئي به **مُجرِم** بربنډ اوتړلو او د **ماشو** د نالو په خوا کښې به ئې واچولو او هغه به د ماشو د بيا بيا چيچلو په وجه بې حاله شو او آخِر به مړ شو.(نمرود هم ماشي هلاك کړې وو) (حياةُ الحيوانِ الكُبرٰى ج١ص١٨٤)

## پيږ ماشې

**حضرتِ** سَيِّدُنا رَبِيع بِن اَنَس رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ”ماشې چه تر څو پورې اوږې وي نو ژوندې وي، او چه کله خوراك څښاك اوکړي او موړ شي نو **پيږ** شي او چه کله پيږ شي نو مړ شي. هم دا حال د اِنسان دې چه کله د هغه سره د دُنيا نِعمتونه ډير شي نو د هغه زړه مړ شي.“ (تَنبِيهُ المُغتَرِّين ص ٥٤)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! ماشې چه څنګه **پيږ** شي نو مړ شي او په خاورو کښې ګډ شي، خو آه! اِنسان چه کله **طاقتور** شي نو کله کله په دُنيا کښې په قِسم قِسم آفتونو کښې ګرفتار شي، او په قِسم قِسم

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

ګناهونو کښې اَخته شي او د **الله** عَزَّوَجَلَّ و **رَسُول** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ناراضه کيدو په صورت کښې د ځنکدن او د قبر او د حشر په تکليفونو او د جَهَنَّم په دردناکو عذابونو کښې ګرفتار شي. چنانچه

## د غټ بدن آفتونه

حضرتِ سَيِّدُنا يَحيٰـی مُعاذ رازي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: څوك چه په مړه خيټه د **خوراك کولو** عادت واخلي نو د هغه په بدن **غوښه** زياته شي او د چا په بدن چه غوښه زياته شي د هغه **شَهوت** زيات شي او د چا چه شهوت زيات شي د هغه **ګناهونه** زيات شي او د چا چه ګناهونه زيات شي د هغه زړه سخت شي او د چا چه زړه سخت شي نو هغه د **دُنيا** په آفتونو او رنګينو [يعني ښکلا] کښې ډوب شي.

(اَلمُنَبِّهات لِلعَسقَلانی باب الخُماسی ص ۵۹)

کھانے کی حِرص سے تُو يا ربّ نَجات ديدے
اچّھا بنا دے مجھ کو اچّھی صِفات ديدے

د شعر ترجمه: ياربّ عَزَّوَجَلَّ ما ته د خوراك د حِرص نه خلاصي راکړې، ما نيك جوړ کړې او ښه صِفتونه راکړې!

## په خيټوَر باندې د ګناهونو حمله

خوږو خوږو اِسلامي وروڼړو! وَاللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د تشويش او د سخت تشويش خبره ده، چه په مړه خيټه خوراك اِنسان په ګناهونو کښې ډوبوي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَ جُمعي په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځِ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

چنانچه حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ارشاد فرمائي: د زيات خوراك كولو سره په بدن كښ فِتنه پيدا كيږي او د فساد جوړولو او د غلطو كارونو كولو رَغبت [يعني خواهِش] پيدا كيږي، ځكه چه كله اِنسان ښه په مړه خيټه خوراك اوكړي نو د هغه په بدن كښ تَكَبُّر او په ستركو كښ د **بَدنظرئ** خواهِش پيدا كيږي، په غوږونو كښ ئې د بَدو خبرو اوريدو خواهِش پيدا شي. ژبه ئې بې حيا خبرې كول غواړي، شرمګاه ئې د شهوت پوره كولو تقاضا كوي، ښپې ئې ناجائزه ځايونو ته د تلو د پاره بې قراره وي. د دې برخِلاف كه اِنسان اوږې وي نو د هغه د وجود ټول اندامونه به په آرام وي. نه خو به د څه بدئ لالچ كوي او نه به په بدئ ليدلو خوشحاليږي. د **حضرتِ** اُستاذ ابوجعفر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ارشاد دې: "خيټه چه اوږې وي نو د بدن باقي اندامونه ماړه يعني په سكون وي او هيڅ هم نه غواړي. او كه خيټه مړه وي نو نور اندامونه د اوږي پاتي كيدو په وجه مُختلِفو ګناهونو ته مخه كوي." (مِنهاجُ العابِدِين ص ۹۲)

## د سپك بدن فضيلت

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُالله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نه روايت دې چه نَبِيِّ اَكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "الله عَزَّوَجَلَّ ته په تاسو ټولو كښ زيات هغه بنده خوښ دې څوك چه د كم خوراك كولو والا او د خفِيف (يعني سپك) بدن والا وي." (الجامِعُ الصَّغِير ص ۲۰ الحديث ۲۲۱)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

## د نارينه او زنانه وزن څومره پكار دې

د **زيات** خوراك كولو يو آفت د بدن د وزن زياتيدل او د خيټې راوتل هم دي او نن صبا يو شمير خلق په دې مرض كښې اخته دي. د وزن مقدار د خپلې خپلې ونې [يعني قد] په لحاظ سره وي. د درميانه قد (پينځه نيم فوټه يعني ٦٦ اِنچه) والا سړي وزن ١٥٠ پاؤنډ (يعني ٦٨ كيلو) او د درميانه زنانه د (پاؤ باندې پينځه فوټه يعني ٦٣ اِنچ) ١٣٠ پاؤنډ [وزن] (يعني ٥٩ كيلو) نه بالكل زيات نه دې پكار. د دې اندازې مطابق كه څوك د خپل قد په حِساب د خپل وزن حِساب لګول غواړي نو لګولې ئې شي.

## د سَيِّدُنا يُوسف عَلَيۡهِ السَّلَام وزن مُبارَك

**څوك** چه د څومره اوچتې وَنې والا وي په هغه حساب د هغه وزن هم زيات كيدل ضروري دي، په پخوا زمانه كښې به [د انسان] ونه [قد] ډيره اوچته وه په هغه حساب به د هغوئي وزن هم زيات وو، چنانچه **مُفَسِّرِ شَهِير** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: عزيزِ مِصر [يعني د مِصر بادشاه] په بازارِ مِصر كښې حضرتِ سَيِّدُنا يُوسُف عَلَيۡهِ السَّلَام په دې شان واخستلو چه د هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام د وزن همره سره زر، هغه هُمره سپين زر، هغه هُمره تتاري مُشك، هغه هُمره مَلغلرې او هغه هُمره د ريښمو كپړه ئې وركړه. هغه وخت د يُوسُف عَلَيۡهِ السَّلَام وزن

www.dawateislami.net

خلور سوه رِطله ( يو رِطل د نيم سير همره وي په دې حِساب) **پينځه منه** وو او عمر مبارك ئې **دولس كاله** وو. (نُورُالعِرفان ص ۳۷۸) يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام دولې او ډير زيات ښائسته وو او د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د وزن مطابق يقيناً د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام وَنه هم هغه همره اوچته وه.

## د پيړ والي اسباب

**ياد ساتئ!** څوك چه په دې مرض [يعني پيړوالي] كښې اَخته وي په هغه پورې خندا كول، تهوقې كول يا په بله څه طريقه بغير د اِجازتِ شرعي نه د هغه زړه اَزارول حرام او جَهَنَّم ته بوتلونكې كار دې. او دا ضروري هم نه ده چه صِرف د خوراك څښاك د زيات والي په وجه د چا خيټه را اوتې وي. ډير خلق داسې هم شته چه زيات خوراك كوي خو بيا هم نَرې وي! بهرحال په ناسته د ډير وخته پورې ليكل، لوستل يا دفتري كار كول، د پيدل تللو په ځائ صِرف په اسكوټر يا موټر وغيره كښې سفر كول، طعام خوړلو ته په زمكه پرلتئ [پلتئ، پرلت] وهلو سره، په ميز او كرسئ باندې په زوړندو ښپو طعام خوړلو، زيات تود خوراك كولو سره، د بدن وزن اكثر ګڅ اړخ ته ساتلو سره مثلاً په ناسته يا د خوراك كولو په وخت كښې ګڅ لاس په زمكه [داسې] ايښودل [چه د بدن بوج پرې واچول شي]، ديوال وغيره ته ګڅه ډډه د داسې وهلو عادت [چه د بدن بوج پرې واچول شي] وغيره سره هم خيټه او وزن زياتيدې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

شي. څوك چه د **خيټې قُفلِ مدينه** نه لګوي يعني ښه په مړه خيټه خوراك كوي، پِزّا، پراټې او د هرقسمه غوړ خوراكونه كوي، آئسكريم او يخ شربتونه هم خيټې ته اچوي او د هغه وزن هم زيات وي او خيټه ئې هم را اوتې وي نو هغه دِ پوهه شي چه ما پخپله خپل وزن زيات كړې دې. خلق شايد يخې بوتلې بې ضرره ګنړي حالانكه د **250** ملي ليټر يو **يخ بوتل كښې تقريباً ووه قاشوغې چينې وي**، او آئسكريم خو ښه پوره **"شُوګر بَم"** دې وزن دار سړي له خو **يخو بوتلو** او **آئسكريمو** ته كتل هم نه دي پكار، ځكه چه دا د هغه په حق كښې خواږه زَهر دي!

خاص طور درې څيزونه د بدن وزن زياتوي: (۱)مَيده (۲) غوړوالې او (۳) خواږه. زمونږه په هر خوراك كښې تقريباً دا درې واړه څيزونه موجود وي. د يو حده پورې د اِنساني وجود د پاره دا څيزونه هم ضروري دي. د چا په وِينه كښې چه شُوګر [يعني خواږه] زيات شي هغه هم مريض دې او د چا په وِينه كښې چه شُوګر كم شي هغه هم مريض دې. نو چه څوك په مړه خيټه خوراك كوي د هغه په خيټه كښې به د دې درې څيزونو اجزاء د ضرورت نه زيات مقدار كښې داخليږي او كيدې شي چه د دې په وجه د بدن وزن مسلسل زياتيږي او په دې وجه ډيرې بيمارئ هم د راتلو خبر وركوي. د ځينې خلقو بدن قدرتي طور داسې وي چه كه هغه هر څومره خوراك كوي، بدن ئې

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

نه غټیږي. خو د دې مطلب دا بالکل نه دې چه هغوئي ته به زیات خوراك نقصان نه ورکوي. بلکه هغوئي ته هم د زیات خوراك کولو په وجه د خیټې د خرابیدو او د زړه د بیمارئ وغیره شکایت کیدې شي. د زړه د مرضونو تَعَلُّق اګرچه د زیات خوراك سره دې خو د سوچونو فکرونو په وجه هم د زړه دوره راتلې شي او د انسان زړه فیل کیدې شي. که د ځوانئ نه د میدې، غوړوالي او د خوږو خیزونو استعمال کم کړې شي نو د ژوندې پاتې کیدو په صورت کښې په **بوډاوالي** کښې سهولت کیدې شي.

## د ځوانئ تعریف

د **لُغاتو** د کتابونو مطابِق (د بالغ کیدو نه واخله د) **30** یا **40** کاله پورې سړې **ځوان** وي، **30** یا **50** کاله د ځوانئ او د بوډاوالي مینځنئ وقفه یعني **پوخ عمر** او د هغې نه پس **بوډاوالي** راځي، بهتره خو دا ده چه د یوې ورځې د ماشوم په خوراك کښې هم اِحتِیاط اوکړې شي او چه ځنګه بالغ شي نو د پرهیز طرف ته د هغه تَوَجُّه زیاته کړې شي. که د **30** کالو کیدو باوجود ئې هم هر څه خوړل نو د دې نقصان به هغه پخپله اووینې. بیا ئې چه څومره عُمر زیاتیږې بیمارئ پکښې خپلې جرړې خوروي. او چه څوك د پنځوسو(50) کالو شي او بیا هم هر خیز خوري نو هغه "د خپله لاسه خپل نُقصان کوي" د داسې خلقو

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

د شوګر، کولیسټرول وغیره نه بچ کیدل ډیر مُشکِل وي. د **30** کالو د عُمر نه پس عام طور په وِینه کښې مرضونه پیدا کیدل شروع کیږي، لِهٰذا هرې شپږ میاشتې پس مُختلف ټیسټونه کول فائده مند دي، او که څه مرض پټکښې راښکاره شي نو د علاج سره سره هره یوه نیمه میاشت پس د هغې ټسټ کول پکار دي، په دې سوچ ټیسټ نه کول ډیره لویه غلطي ده چه که څه [مرض] راښکاره شو نو سوچونه به مې ډیر شي. دا یاد ساتئ چه د مرض د طرف نه بې پرواهي کول د مرض علاج نه دې. دا بې پرواهي بیا وروسته د سخت نقصان سَبَب جوړیدي شي. باقي نن صبا هسې هم هره ورځ د دې عمر د خلقو ناڅاپه د زړونو د فیل کیدو واقعات پیښیږي. د لقوې او د فالج شکایتونه هم عام دي. **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ زمونږ د ټولو حِفاظت اوفرمائي او مونږ دِ په ازمیښت کښې نه اچوي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د پِزّې نقصانونه

پِزّې او نور د تیلو او غوړو والا بازاري خوراکونه (FAST FOOD) په تیزئ سره بدن پیږوي، دا د صِحَّت د پاره ډیر زیات نقصاني دي، په بازاري خوراکونو کښې عام طور بیکاره او د څو څو ورځو زاړه څیزونه هم استعمالیږي، خاص طور د ګرمئ په موسم کښې پاخه کړې شوو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

زړو څيزونو کښې ډير زر چنړياسې يعني فَنګس نومې جراثيم لګي. چه د هغې په وجه بنده د فُوډ پوائِزن [يعني د زهرژن خوراك] کولو په وجه بيمار شي او يا ئې د مرګ خطره هم وي. د **عَرَب اَمارات**، کوم ځائ چه د هوټلو د خوراکونو معيار ډير اوچت ګڼړلې شي، د هم هغه ځائ د انګلش اخبار ''خليج ټائمز'' د 4 اګست 2004ء په شماره کښې يو تنقيدي مضمون شائع شوې وو چه په هغې کښې د مُتَّحِده عَرَب اَمارات د دارُالخِلافه **اَبوظَهبی** د هوټلو د فاسټ فوډ يعني په تيلو او غوړو کښې د تيار شوو خوراکونو او خاص طور د پِزّې ډيره غَندَنه [يعني مذمَّت] شوې وو. د اخباري بيان (خُلاصه ده) چه د ابوظهبئ اکثرو هسپتالونو او دواخانو ته په هفته کښې درې څلور مريضان داسې راځې چه هغوئې ته د پِزّې وغيره خوړلو په وجه فوډ پوائزن شوې وي [يعني د چنړياسو وغيره په وجه زهرژن شوې خوراك ئې کړې وي]! په دې مرضونو کښې **اُلټئ، دستونه، بَدهضمي، تبه، کمزوري او ډيره زياته سُستي** وغيره شامِل دي. د يو ډاکټر وَينا ده چه په تيره هفته کښې ماله درې مريضان راغلل، درې واړو پِزّا خوړلې وه. په هغوئې کښې يو مريض د دوو ورځو پورې داخِل وو. په دې مضمون کښې د نورو ډاکټرانو بيانونه هم شامِل وو، د ټولو د رائے خلاصه دا ده چه **بازاري خوراکونه او پِزّې وغيره خوړل سمدستي بيمارئ له غاړه ورکول دي.**

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! پِزّا، فاسټ فوډ [يعني په تيلو، غوړو كښې سره كړې خيزونه] او د غوَړو خوراكونو كولو سره په وِينه كښې د كوليسټرول مقدار زياتيږي، د كوليسټرول اثرات د وِينې نري نري رګونه سختوي او تنګوي. او د هغې په وجه براهِ راست زړه ته د نقصان رسيدو هر وخت يره وي. كه ورسره ورسره د مريض شوګر هم وي او هغه سګريټ هم څښي نو د چكر راتلو په وجه د راغورزيدو او د زړه د فيل كيدو خطره ئې نوره هم زياته شي. د جِسماني صِحَّت د پاره ساده او تازه خوراك او مناسب وزن ساتل ډير ضروري دي ځكه چه د دې په وجه د پيړ والي او د غيرضروري كوليسټرولو په مخ نيوي كښې مدد حاصليږي.

## د يو پِزّه خور حِكايت

د يو اسلامي ورور بيان دې چه زه ډير نرې ووم د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول د بَرَكتونو حاصلولو نه مخكښې به د ماډرن دوستانو صُحبَت كښې اوسيدم. زمونږ دوستانو په مينځ كښې به د ”خوراك“ مُقابلې كيدې او زه به اكثر د ټولو نه په زيات خوراك كولو كښې كاميابيدم خو بدن مې بيا هم نرې وو. آخِر چا په پِزّا خوړلو او پيپسي كولا څښلو عادت كړم، ما چه په اولني ځل پِزّه اوخوړه نو هغه وخت به شايد زما وزن د ٦٠ نه ٦٢ كلو پورې وو. په شروع كښې به ما په مياشت

www.dawateislami.net

دوه مياشتو كښې يو ځل پِزّه خوړله بيا چه شوق مې زيات شو نو په هفته كښې به مې يو ځل يا كله دوه ځله خوړله، ورسره به مې د پيپسي (يا بل تور شربت مَثلاً كوكا كولا وغيره) او د مايونِيز (يو قِسم مخصوص غوړ) سلاد مزه اخسته، په ورو ورو زما وزن زياتيدل شروع شو، زه خوشحاله شوم چه واه! "زما خو صِحَّت بنه كيږي!" زه څه خبر ووم چه صِحَّت مې د بنه كيدو په ځاىٔ بربادېږي، زه خبر نه ووم چه دا بازاري پِزّه به زما په وِينه كښې كوليسټرول ګډوي او زما زړه ته به نقصان رارسوي! آه! د ٦٠ كلو نه زما وزن په زياتيدو زياتيدو ٩٥ كلو ته اورسيدو! زه پير شوم او خيټه مې د ډول په شان اوپړسيده ، په وِينه كښې مې كوليسټرول زيات شو او ځيني مرضونو راته پښې ديرې واچولې. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! زما خوش قِسمَتي وه چه د دعوتِ اسلامي د مَدَنی ماحول په بَرَكت مې د **خيټې د قُفلِ مدينه** فضيلتونه واوريدل نو زما ذِهن جوړ شو او ما كم خوراك شروع كړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په لږو ورځو كښې (د دې بيان وركولو پورې) زما وزن پينځه كلو كم شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ!زه په خپل ځان كښې **چُستي** او سپك والې محسوسووم، زه سفر ډير كووم، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ!اوس را ته په هغې [يعني سفر كولو كښې] ډيره آساني شوې ده. ولې چه د **خيټې قُفلِ مدينه** معده داسې صحيح كوي چه ورته حيران به شې او **قَبْض** وغيره بالكل ختموي، لِهٰذا د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

ټولو نه عظيمه فائده را ته دا اوشوه چه هر وخت په اوداسه كښې د اوسيدو والا ”مَدَني اِنعام“ باندې مې عمل كول شروع كړې دې. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! په كور كښې د **وربشو** د ډوډۍ پخولو تركيب هم جوړ شوې دې. دُعا كوئ چه اِستِقامَت را ته نصيب شي او هر مسلمان د **خيتې قُفلِ مدينه** اوپيژني. اوس د پِزّه وغيره په باره كښې زما دا خيال دې چه ”څوك په پِزّه، پيپسى كولا او كوكا كولا وغيره شربتونو باندې عادت كول په دوستۍ كښې پټه دُښمَني ده.“

## د پيړ والي نه د بچ كيدو طريقه

د رَبِّ ذُوالجلال عَزَّوَجَلَّ د **رضا** د پاره د **خيتې د قُفلِ مدينه** لګولو او د كم خوراك عادت جوړولو سره سره د وزن د زياتيدو او د ډيرو بيمارو نه حِفاظت كيدې شي. د هسپتال په بِستره باندې د ډاكټرانو په مشوره د پرهيز كولو په ځائ به دا خبره ښومره ښه وي چه مونږ د طبيبانو د طبيب د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ حَبِيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې حكم په رڼړا كښې د اوس نه پرهيز شروع كړو. چنانچه د **حُضُورِ** اَكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: ”اِنسان د خپلې خيتې نه زيات بد لوښې نه ډكوي، د اِنسان د پاره يو څو نوړۍ كافي دي چه هغه د هغه ملا نيغه ساتي، كه داسې اونه كړې شي نو دريمه حِصّه دِ د خوراك د پاره دريمه حِصّه دِ د اوبو د پاره او دريمه حِصّه دِ د ساه د پاره وي.“ (سُنن اِبنِ ماجه ج٤ ص ٤٨ حديث ٣٣٤٩)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

## اول وِینه ټیسټ کړئ

د **چا** چه وزن زیات وي د هغوئي په خِدمت کښې مشورةً عرض دي چه یوې لیبارټرۍ ته لاړ شئ او د زړه د مرضونو مُتَعَلِّق د وِینې څلور ټستونه چه د هغې مجموعې ته "**لِپډ پروفائِل**" (LIPID PROFILE) وائي، اوکړئ. په دې کښې د **کولیسټرول** ټیسټ هم شامِل دې، که خوارلس ګینټې په نَهره وي نو د کولیسټرولو د ټیسټ نتیجه ډیره صحیح راځي. **شُوګر** هم ټیسټ کړئ. کاش! چه [څوك دا ټیسټونه کوئ نو] د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د رِضا د پاره **روژه** اونیسئ او د نمر پریوتو نه لږ **مخکښې** دا ټول ټستونه اوکړئ. بیا د خپل ډاکټر د هِدایت مطابق د خپل وزن د کمولو کوشش اوکړئ. د هر صِحَّت مند کس د پاره هم شپږ شپږ میاشتې پس دا ټیستونه کول فائده مند دي چه د بیمارۍ د زیاتیدو نه **مخکښې** د هغې د مخ نیوې ترکیب اوکړې شي.

## د پیړ والي عِلاج

د وزن د کمولو د پاره **سبزیانې** (د آلو وغیره بادي خیزونو نه علاوه) بهترین نِعمَت دې. خو چه صِرف په اوبو کښې ویشیدلې وي یا پکښې د یو کس د پاره د چائے صِرف یوه **قاشوغه** [یعني پینځه مِلي لِټَره] د **زیتون تیل** واچولې شي. که مرچکې، مصالحه او کورګمن پکښې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

واچولې شي نو باك نشته. هره ورځ يو ګرام (يعني د دوه ګوتو په سر کښې چه څومره ميده کورکمن راغستې شي دومره) **کورکَمن** هر يو له خوړل پکار دي. اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ د **کينسر** نه به مو حفاظت کيږي. د هر وخت په خوراك کښې په دې بيان کړې شوې طريقه باندې د پخې شوې سبزۍ کم از کم يوه پوره رکيبۍ خورئ. که ډوډۍ او وريژې وغيره خوړل ضروري وي نو صِرف نيمه ډوډۍ [چپاتۍ]، په اوبو کښې ويشيدلې وريژې صِرف نيم کپ، د غوښې يو وړوکې شان پوټې، که آم خوړل ضروري وي نو په ټوله ورځ کښې صِرف نيم آم، که چائے څښل غواړئ نو د کومو پئيو نه چه پيرَوې لرې کړې شوې وي په هغې کښې پوخ شوې پيکه چائے څښئ، که [پيکه] ئې نه شئ څښلې نو د ډاکټر په مشوره د چائے په يوه پيالۍ کښې د CANDEREL [کينډرِل] يوه ګولۍ اچوئ. که د شوګر مَرض مو نه وي نو د چينۍ په ځائ په چائے کښې شهد [يعني ګبين] اچوئ. سَلاد، تَره او بادرنګ وغيره هم ډير استعمالوئ. په هر قِسم خوراك او اِنګوَلې کښې د زيتون شريف [يعني د ښونانو] تيل اچول بهتر دي او که **"د جُوارو تيل"** وي نو هغه هم په ډير کم مقدار استِعمالوئ، د خوراك شروع کولو نه مخکښې د اِنګولې د لوښي نه په قاشوغه غوړي يا تيل داسي لرې کړئ چه يو څاڅکې [غوړي يا تيل] هم پکښې نه ښکاري. خو بغير د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

اِجازتِ شرعي نه دا تيل اړول **اِسراف** او ګناه ده. بيا ئې په پخلي کښې استِعمال کړئ. د وريژو، د غوا او د چيلۍ د غوښو، د غوړو، کوَچو، د اګۍ د زِيَړو، کيکونو، کوکو چاکليټونو، ټافيانو، په تيلو کښې پخ شوو د نِمکو د څيزونو، پيسټري [يعني په کريمو غوړ شوي کيکونو او نورو څيزونو]، د خوږو خوراکونو، مټهايانو، آئسکريمونو، يخو شربتونو، پيکوړو، کبابو، سموسو وغيره او د هر هغه څيز نه چه په هغې کښې ميده، **غوړوالي** يا **خوږ والي** شامل وي ځان ساتئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ وزن به مو کم شي. او ستاسو بدن به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ښکلې (SMART) شي. د ډاکټرانو سره د خوراك "چارټ [يعني نقشه]" وي، د هغې په ذريعه هم د وزن تناسُب برقرار ساتل کيدې شي. د خپل ډاکټر په مشوره باندې وزن کمول زيات مناسب دي. چه څومره کيدې شي نو د يو ډاکټر نه علاج جاري ساتل پکار دي، د دې فائده به دا وي چه هغه ډاکټر به ستاسو د بدن په حالت پوهه شي نو بيا به علاج په بهتره طريقه کيدې شي. ګني که ډاکټران بدلوئ رابدلوئ نو هر نوې ډاکټر به د "نوي سر" نه ستاسو علاج شروع کوي او هر يو به در باندې نوې نوې تجربې کوي.

## د قبْض خلور علاجه

په قُوْتُ الْقُلُوْب ج۲ ص۳٦٥ کښې نقل دي چه که د "شپږو ګينټو نه

**فرمَانِ مُصطَفٰے**صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

**مخکښې** خوراك اوخُي نو هم **مِعده** خرابه ده او كه د **۲٤** ګینټو نه زيات وخته پورې اونه اوخُي نو بيا هم پوهه شئ چه **مِعده** بيماره ده. د **جوړونو درد** د خيټې د هوا د حصارولو نتيجه ده. لكه څنګه چه د روان نهر اوبه حصارې كړې شي نو د نهر غاړو ته نقصان رسي تر دې چه غاړې ماتې شي او اوبه بهيدل شروع شي دغسې د **وړو بَولو** د حصارولو سره بدن ته نقصان رسي." خپله هاضمه صحيح ساتئ، ګنې د پيړ والې علاج مُشكِل دې، **سبزيانې** او شنې **ميوې** اِستِعمالوئ. كه قبض مو وي نو (۱) څلور يا پينځه پاخه **امرود** د تُخم [يعني د زړو] سره خورئ يا (۲) په مُناسب مقدار كښې **پاپيتا** خورئ اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ **خيټه** به مو صفا كيږي. (۳) په هره څلورمه ورځ درې څلور **قاشوغې** د اِسپغولو سَت يا يوه قاشوغه د هاضمې څه چورَن د اوبو سره تيروئ. اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د **خيټې صفائي** به مو كيږي. هره ورځ اِسپغول يا د هاضِمې چورَن اِستعمالول اكثر اثر كول پريږدي (٤) كه ستاسو **ډاكټر اجازت دركوي** نو دوه يا درې مياشتې پس سحر ماښام يوه يوه ګولۍ ګراميكس (Metronidazol) ٤۰۰ ملي ګرام اِستعمالوئ. دا د قبض، بدهضمئ وغيره مرضونو او د خيټې د اصلاح كولو د پاره اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ بهترينه دوائي ده. خو چه كله هم دا ګولۍ شروع كړئ نو مُسلسل پينځه ورځې پوره كول ضروري دي. په نَهره ئې هم خورې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

شئ، د بدهضمئ د تهولو نه بهترين علاج د **خيټې قُفلِ مدينه** ده.

## بې وخته د خوب راتلو علاج

په **يو** ګلاس اوبو كښې (كه ترمې وي نو زياته بهتره ده) يوه قاشوغه شهد ګډوئ او په نهره (يعني سحر د خوراك كولو نه مخكښې) او كه روژه مو وي نو د روژه ماتې په وخت [په نَهَره] ئې بې ناغه مُستَقِل اِستِعمالوئ، د پيړ والي او د ډيرو بيمارو نه خاص طور د خيټې د مرضونو نه به اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ په حفاظت كښې اوسئ، بهتره دا ده چه په دې كښې يو يا نيم نيمبو هم نچوړوئ نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ فائدې به ئې زياتې شي. كه په مطالعه كولو يا په اِجتِماع وغيره كښې په ناسته ناسته بې وخته خوب درځي نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د دې نه به هم خلاصې حاصل شي.

## د پيړ والي د تهولو نه بهترين علاج

د تهولو نه بهترين علاج د **طبيبانو طبيب،** د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ **خوږ حَبِيب** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **تجويز** فرمائيلې دې: ”د لوَږې [يعني د خيټې] درې حِصّې كول پكار دي يوه حِصّه خوراك، يوه حِصّه اوبه او يوه حِصّه هوا.“ كه په خوراك كښې **دا طريقه** اختيار كړې شي نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ نه به كله بدن پيړيږي، نه به كله د ګيس او بادو شكايت پيدا كيږي او نه به په خيټه كښې د ګړ بړ او د قبض وغيره شكايت پيدا كيږي. خو آه! د مزه خوږ نَفس بَهَانې.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي په کثرت سره دُرود شریف لولئ بیشکه ستاسو په ما باندي درود شریف لوستل ستاسو دَ ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِیر)

آئینِ نَو سے ڈرنا طرزِ کُہن پہ اڑنا
منزِل یہی کٹھن ہے قوموں کی زندگی میں

**د شعر ترجَمه:** کوم قومونه چه د ژوند د نوو طریقو اِختیارولو نه ډډه کوي او په زړو طریقو پوري نښتي وي هغه قومونه خپل منزِل [یعني کامیابئ] ته نه شي رسیدلې.

## د زیات خوراك په وجه پیدا کیدونکي مرضونه

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** د خیټي د قُفلِ مدینه لګولو په ځائ د زیات خوراك کولو سره خیټه خرابیږي، اکثر قبض هم کیږي او مقوله ده: اَلْقَبْضُ اُمُّ الْاَمْرَاض یعني ”قبض د بیمارو مور ده.“ د طبیبانو وَینا ده چه ۸۰ فیصده مرضونه د خیټي د خرابئ په وجه پیدا کیږي، په هغي کښ دولس قِسمه مرضونه دا دي: (۱)دِماغی مرضونه (۲)د سترګو بیمارئ (۳)د ژبي او د مرئ بیمارئ(٤)د سِیني او د سږي [یعني پرپوس، پهیپهړو] مرضونه (٥) فالج او لقوه(٦)د بدن د لاندینئ حِصّي اوده کیدل [یعني بي دمه کیدل](۷)شُوګر (۸)هائي بلډ پریشر(۹)د دِماغو رګونه شلیدل (۱۰)نَفسیاتي مرضونه (یعني لیوني کیدل وغیره) (۱۱)د ځیګر [یعني د اِینې] او تریخي مرضونه(۱۲)ډِپریشن [یعني خفګان او سوچونه]

## د تُندُرسته اوسیدو نُسخه

حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ سالَم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ فرمائي:که څوك د غنمو اوچه ډوډئ د ادب مطابق اوخوري نو په هغه باندي د مرګ نه سِوا یوه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاك اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

بيماري هم نه شي راتلې يعني هغه به كله هم نه بيماريږي. تپوس ترې اوكړې شو، ادب څه دې؟ اوئې فرمائيل: **چه كله اوږې شي نو هله دِ څه خوري او د مَريدو نه مخكښ دِ بس كوي.** (اِحياءُ العُلوم ج ۳ ص ۹۵)

نا سمجھ بیمار کو اَمرت بھی زہر آمیز ہے
سچ یہی ہے سو دواء کی اِک دوا پرہیز ہے

**د شعر ترجمه:** د ناپوهه بيمار د پاره دوائې هم زهر دي، او رِښتيا دا ده چه د سلو دوايانو نه بهتر عِلاج پرهيز دې!

## د لوَږې پيژندل

**سُنَّت** دا دي چه د څو پورې لوَږه نه وي راغلې تر هغه وخته پورې خوراك اونه كړې شي. صِرف د خوراك په خواهِش پيدا كيدو خوراك كول يا د لوږې نه بغير په ټاكلو وختونو خامخا طعام خوړل فائده مند نه دي، د لوَږې تعريف **حُجَّةُ الاِسلام** حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ داسې بيان كړې دې: "د **لوَږې** علامَت دا دي چه سپوره ډوډئ په لاس ورشي نو د اِنګوَلي نه بغير ئې په خوند خوړل شروع كړي، غرض دا چه هر قِسم ډوډئ په لاس ورشي نو په شوق ئې اوخوري او نَفس ئې صِرف ډوډئ غواړي. او كه [نفس ئې] د ډوډئ سره اِنګوَلي هم غواړي نو پوهه شه چه اوس لا سم نه دې اوږې شوې." (اِحياءُ العُلوم ج ۳ ص ۹۷)

فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

## د لوَږې نه زيات خوراك کول

د **لوَږې** نه زيات خوراك کول **حرام** دي. د زيات مطلب دا دې چه دومره اوخوري چه د **خيټې** د **خرابيدو** گمان ئې پيدا شي مَثَلاً [گُمان ئې پيدا شي چه] خيټه به ئې خرابه شي او طبِيعَت به ئې خراب شي.

(بهارِشريعت ج۳ حِصّه ۱۶ ص ۳۷٤)

## د هر يو خوراك يو شان نه وي

**ځوك** چه زيات خوراك کوي نو هغه سپك گنړل يا بدگماني کول جائز نه دي، ځکه چه اَوَّل خو په مره خيټه خوراك کول گناه نه ده او بله دا هم کيدې شي چه د هغه خوراك زيات وي. آو بالکل، لکه څنگه چه د هر يو خوب يو شان نه وي، يعني څوك دوه گينټې آرام اوکړي خو ټوله ورځ راست مند وي او ځيني څوك لس گينټې اوده پروت وي خو بيا هم سُست او ناراسته وي. دغه حال د خوراك هم دې يعني څوك صِرف په يوه ډوډۍ مړيږي او ځيني په څلور پينځه ډوډو هم نه مړيږي! يعني كه د پينځه ډوډو خوړلو والا كس درې ډوډۍ اوخوري نو يقيناً هغه د خپلې لوَږې نه كمه اوخوړه او د يوې ډوډۍ والا په مُقابَله كښې ئې ډيره قرباني وركړه. بهر حال د خلقو اَعمالو ته د كتلو په ځاۍ د خپلو اعمالو جائِزه اخستلو كښې د دُنيا او آخِرت خير دې. ځكه چه څوك بل ته گوته نيسي نو درې گوتې

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

ئې خپل ځان ته نيولې وي، لكه په دې كښې دا اِشاره ده چه په نورو باندې د اعتراض كولو په ځائ خپل ځان ته اوګوره!

حِرص کھانے کی دور کر یاربّ عَزَّوَجَلَّ! قلب کو نور نور کر یاربّ عَزَّوَجَلَّ!
بد گمانی کی خو نکل جائے دُور دل سے غُرور کر یاربّ عَزَّوَجَلَّ!

د اشعارو ترجمه: (۱) يا الله عَزَّوَجَلَّ! د خوراك حِرص مې ختم كړې او زړه مې نُور نُور كړې (۲) او يا الله عَزَّوَجَلَّ! د بدګمانئ عادت مې ختم كړې او د زړه نه مې غُرور [تكبُّر] هم لرې كړې.

## د زيات خوراك كولو والا زړه ازارول حرام دي

**بيسيار خور** يعني زيات خوراك كوونكې مُعَيَّن [يعني معلوم] كس د شريعت د اِجازَتِ نه بغير مَلامَته كول او د هغه زړه خفه كول كبيره ګناه، حرام او جَهَنَّم ته بوتلونكې كار دې، كله كله زيات خوراك كول مجبوري هم وي مَثَلاً په **جُوْعُ الْبَقَر** (يعني د غوا په شان لوَږه) نومې بيمارئ كښې مريض دومره سخت اوږې كيږي چه كه هغه هر څومره خوراك اوكړي لوَږه ئې نه ماتيږي. نفس ئې نه غواړي خو بيا هم ساعت په ساعت په خوراك كولو مجبور وي. دغسې كه په معده كښې اَلسَر [يعني زخم] وي نو په نَهَره [يعني خالي معده] تكليف زياتيږي، لِهٰذا څه نه څه خوراك كول مجبوري وي. بهرحال كه څوك زيات خوراك كوي نو د هغه په باره كښې هم بنه ګمان ساتل ضروري دي ځكه چه لږ خوراك كول مُستَحب دي او په مسلمان باندې بَدګُماني كول حرام دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

## ډيرې اوبه څښل

چه د **سختې** ګرمۍ موسم وي، روژه وي او بنده ډيره سخت تږې شوې وي او د روژه ماتي په وخت کښې يخې اوبه او خوږ خوږ شربت موجود وي، په داسې موقع باندې صِرف د **الله** تعالٰی د رِضا د پاره شربت نه څښل او اوبه هم دومره لږې څښل چه تَنده پرې ماته نه شي دا افضل عمل او د مُتَّقيانو [پرهيزګارو] طريقه ده. او که څوك دومره اوبه او شربت اوڅښي چه تَنده ئې پرې ماته شي نو هيڅ ګناه پکښې نشته. د ګُردې د کانړې وغيره د عِلاج د پاره اوبه **مجبوراً** زياتې څښل غواړي. او هسې هم د تندې ماتيدو نه پس په زور نورې اوبه څښل په نفس بدې لګي.او **آبِ زَم زَم** خو جُدا خبره ده. "هغې [يعني آبِ زَم زَم] ته خو د عِبادت په نِيَّت د کتلو هم د يو کال د عِبادت ثواب حاصِليږی. د هغې د څښلو نه پس چه څه دُعا اوغواړې هغه قبليږې" (اَلمَسلكُ المُتَقَسِّط المَعروف مَناسِك المُلّا علی قاری ص ٤٩٥) د ثَواب حاصلولو په نِيَّت دا په مړه خيټه څښل پکار دي. **صَدرُ الشَّرِيعَه** حضرت عَلَّامَه مَولانا مُفتِي **مُحَمَّد اَمجَد عَلِي** اَعظَمِي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ فرمائي: هلته چه کله هم څښئ نو ځان پرې ښه مړوئ. په حديثِ پاك کښې دي: په مونږ او منافقانو کښې دا فرق دې چه هغوئ په زم زم باندې ځان نه مړوي.

(بهارِ شريعت ج ۱ حِصّه ٦ ص ۱۱۰۵ ، اَلْمُستَدرك لِلحاكِم ج۱ ص ٦٤٦ حديث ۱۷۳۸)

یہ زم زم اُس لئے ہے جس لئے اس کو پئے کوئی
اِسی زم زم میں جنّت ہے اسی زم زم میں کوثر ہے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

**د شعر ترجمه:** دا زم زم د هغه مقصد د پاره دي د کوم مقصد د پاره چه اوڅښلې شي، په هم دي زم زم کښې جَنَّت دي او هم په دي کښې کوثر دي!

## پیاده ګرځئ

د **فِزْیَوتَهراپِسټ** په مشوره د خپل عمر په حِساب هره ورځ لږ ډیر ورزش کول پکار دي. او **طبیبان** وائي چه د شپې د طعام خوړلو نه پس کم از کم یونیم سل قدمه پیاده ګرځیدل پکار دي. زما مَدَني مشوره ده چه په ګرځیدو ګرځیدو ځلویښت ځله دا دُرُود شریف صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد د لوستلو عادت جوړ کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د یو نیم سل نه به زیات قدمونه ګرځیدل اوشي. هر یو له هره ورځ یوه ګینټه پیاده ګرځیدل پکار دي. د چا چه بالکل عادَت نه وي هغه دِ په شروع کښې صِرف دولس مِنټه ګرځي یا دِ په روانه ۳۱۳ ځله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد لوَلي او په آخِره کښې دِ یو ځل وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَبَارَكَ وَسَلَّم وائي، لږ په اِطمینان ئې چه وائي نو اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ یو کلومیټر [فاصله] به شي. دغسې په قلار قلاره دِ ئې زیاتوي او په دیرش ورځو کښې دننه دِ ئې د هرې ورځ په حساب پینځه کلومیټره ګرځیدو ته اورسوي. اِسلامي خویندې دِ د کور په انګڼ کښې ګرځي، خپل اوراد [وظائف] په ناسته ناسته د وئیلو په ځائ په ګرځیدو ګرځیدو د لوستلو عادت جوړ کړئ. زما درخواست قبول

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غوارې. (طَبَرَانِي)

کړيځ او پياده ګرځيځ ګني خدائ دِ نه کړي هسې نه چه بيا د ډاکټر په وَينا په پښيمانئ د تيښش سره ”مَنډې“ وهئ!

## د طاقت نه زيات بوج

په دريمه سيپاره کښې د **سُوْرَۃُالْبَقَرہ** په آخِرى آيتِ کريمه کښې **الله** عَزَّوَجَلَّ فرمائي:

لَا یُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ
(پ ۳ البقرة: ۲۸٦)

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِيمان: الله عَزَّوَجَلَّ په يو ساه لرونکي باندې هم بوج نه اچوي خو د هغه د طاقت هُمره.

خوږو خوږو اِسلامي وروڼړو! يقيناً **الله** عَزَّوَجَلَّ په هيڅ چا باندې هم د هغه د طاقت نه زيات بوج نه اچوي. خو افسوس په کروړونو افسوس دي په هغه حِرص ناك اِنسان څوك چه صرف د نفس خوشحالولو د پاره يو خو خوراك ډير کوي او د پاسه پرې صِرف د خوند د پاره د ورځې او شپې په مختلفو وختونو کښې هم څه نه څه خوري او په خپله **مِعده** باندې د هغې د طاقت نه زيات بوج اَچوي. ښکاره خبره ده څوك چه يو مَن بوج اوچتولې شي او په هغه باندې دوه نيم مَنه بوج بار کړې شي نو هغه به [د طاقت نه لرلو په وجه] را اولوِيږي. دغسې د **مِعدې** د کار کولو هم يو حد دې نو که خوراك په خُله کښې ښه ميده نه کړې شي او يا پکښې د ضرورت نه زيات خوراکونه ور واچول شي نو عاجزه [مِعده] به آخِر دومره خيزونه څنګه هضموي؟ نتيجةً د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك اونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

هاضمې نظام به برباد شي، مِعده به بيماره شي او بيا به په ټول بدن كښې مرضونه خوروي. څنګه چه د طبيبانو د طبيب د الله عَزَّوَجَلَّ د خوږ حَبِيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حِكمَت نه ډك فرمان دې: ”مِعده په بدن كښې د حوض [يعني تالاب] په شان ده او (د بدن) رګونه د مِعدې طرف ته راتلونكې دي كه مِعده صِحَّت منده وي نو رګونه (د مِعدې نه)[د ځان سره] صِحَّت واخلي او بيرته ځي او كه مِعده خرابه وي نو رګونه [د ځان سره] بيماري واخلي او بيرته ځي.“ (شُعَبُ الايمان ج٥ ص ٦٦ حديث ٥٧٩٦)

مَرضِ عِصياں کی ترقّی سے ہُوا ہوں جاں بَلَب مجھ کو اچّھا کیجئے حالت مِری اچّھی نہیں

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ د ګناهونو د مرض د زياتيدو په وجه مې ځنكدن دې، زما حالت ښه نه دې، يا الله عَزَّوَجَلَّ ما ښه كړې!

## زه ډوډۍ ډيره لږه خورم

ځينې داسې اسلامې ورونړه چه يا خو ئې وزن زيات وي او يا د خيټې په بيمارو كښې ګرفتار وي، هغوئې دا وائي چه ”زه ډوډۍ ډيره لږه خورم.“ په هغوئې كښې ځينې خو د زړه د سختيدو په وجه دروغ وائي او ځينې خلق د غلَط فَهمۍ په وجه داسې وائي. خو كه د هغوئې ټولې ورځې د خوراك معمولاتو ته اوكورۍ نو معلومه به شي چه هغوئې كوم خوراك ته ”لږ خوراك“ وائي په هغې كښې په ناشته كښې اكثۍ، پراټه، مَسكه بَن [په كريمو غوړ بَن]، پيرَوَې، حلوه، چهولې پورې [په غوړو كښې د ميدې نه پخ شوې يو قِسم د نرو نرو پاترو پراټه چه غوړې ترې

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الأَخبَار)

خاځي] بيا د ورځې فالتو خوراك، يو يا دوه يخې بوتلې، يو نيم آئسكريم، درې ځلور ځله چائے، بِسكټ، برګر، آلو چهولې، كيك پيس، لږ شان مِتهائي وغيره هم پكښې شامِل وي او دغسې د مِعدې تَباهي، د بدن دروند والې يا د بيمارۍ راز راښكاره شي! كه څوك واقعی په لږ خوراك مړيږي نو هغه له هم پكار دي چه خوراك نور هم كم كړي او څه نه څه لوَږه پاتې كوي. يعني لكه ميږې دِ په خپل ”كَن [يعني لږ خوراك]“ كښې كمې راولي او هاتي دِ په خپل ”مَن [يعني ډير خوراك]“ كښې كمې راولي.

خدا ہم کو سچ بولنے کی دے توفیق
تو مُنہ سوچ کر کھولنے کی دے توفیق

د شعر ترجَمه: خُدايا د رِښتيا وئيلو توفيق راكړې، او د خبرې كولو نه مخكښې د سوچ كولو توفيق راكړې!

## د كم خوراك اِحتِياطونه

(۱) كه پلار يا مور ئې حُكم اوكړي چه ځان پوره موړ كړه نو د هغوئي اطاعت دِ اوكړي.

(۲) كه نوكري كوي او د كم خوراك كولو په وجه كمزورې كيږي او په كار كښې سُستي پيښيږي نو د كم خوراك كولو د پاره د سَيټ [يعني د مالِك] نه اِجازت اغِستل ضروري دي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرانِي)

**(۳)** هم **دغه** شان كه په اِسلامي تعليم حاصلولو او تَعَلُّم [يعني نورو ته زده كولو] كښې رُكاوټ پيښيږي نو د ضرورت مطابق خوراك كوئ.

**(٤)** كه **ستاسو** ميلمه ستاسو سره يوځائ طعام خوري او كيدې شي چه ستاسو د لږ خوراك كولو په وجه **هغه** هم اوشرميږي او د خوراك نه بس كړي، نو د هغه سره [په خوراك كښې] ملګرتيا كوئ.

**(٥)** كه كوربه سَت كوي او څه **مجبوري** مو نه وي او [څه نه څه] لَوږه مو پاتې وي نو لږه نوره اوخورئ ځكه چه د مُسلمان زړه خوشحالول ثواب دي. د حُضُورِ اَكرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: ''څوك چه د مُسلمان د كور په كسانو كښې خوشحالي داخِله كړي [يعني هغوئي خوشحاله كړي] نو اللّٰه تَعَالٰی د هغه د پاره د جَنَّت نه سِوا بل څه نه خوښوي.'' (طَبَرانی صغیر ج۲ ص۵۱)

## لږ خوراك كول افضل خو دروغ وئيل حرام دي

كه په **دعوت** كښې درته كله **كوربه** اووائي چه نوره هم اوخوره! نو كه چرې تاسو بس كړي وي او د څه نه څه لَوږې پاتې كيدو باوُجود هم نوره خوړل نه غواړئ نو په ډير اِحتياط جواب وركړئ، مَثلاً داسې اووائې، **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ دِ بَرَكت در كړي، [يا داسې اووائې] جَزَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا. [يا داسې اووائې] اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما خپل حِساب پوره كړو وغيره. په هيڅ صورت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

كښې دروغ مه وائې. د كم خوراك كولو باوُجود د ځيني هغه جُملو مثالونه چه هغه په دروغو كښې راځي، دا دي: [يعني څوك چه د خيټې په قفلِ مدينه عمل اوكړي او هغه ته كوربه وغيره اووائي چه نوره اوخوره او هغه وائي] **ما ځان موړ كړې دې**، بس په خيټه كښې مې نور ځائ بالكل نشته، رِښتيا وائم بس پوره موړ شوم وغيره وغيره. **ياد ساتئ! دروغ وئيل ګناهِ كبيره، حرام او جَهَنَّم ته بوتلونكې كار دې.** د تقوٰی په لاره باندې په ډير اِحتياط تلل پكار دي، چرې داسې اونه شي چه د كم خوراك كولو مُستحَب او افضل كار شروع كړو او نَفس مو په رياكارئ، دروغو، تَكَبُّر، د مور و پلار په نافرمانئ او د مُسلمان په سَپك ګنړلو او بدګمانئ وغيره حرامو كارونو كښې اَخته كړي او د جَهَنَّم حقدار مو جوړ كړي. ځكه چه د **نَفس** كار په بدو [كارونو] كښې اَخته كول دي. چنانچه په قرآنِ كريم كښې ارشاد دې:

اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ (پ۱۳، يوسف: ۵۳)

مفهوم ترجمۂ كنزُالاِيمان: بيشكه نَفس خو د بدئ غټ حكم وركونكې دې.

نَفس کی چال سے بچا یا ربّ
اس کے جنجال سے بچا یا ربّ

د شعر ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ! د نفس د ټګئ او د دې د لانجو نه مې بچ كړې.

د **نفس** د د وژلو پوره پوره كوشش كول پكار دي، ځكه چه څوك د نفس په وژلو كښې او هغه د خرابو خواهشاتو نه په منع كولو كښې

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

کامياب شو د هغه د پاره د **جَنَّت** زيرې دې، چنانچه د خدائے رحمٰن عَزَّوَجَلَّ فرمان دې:

وَ اَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَ نَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰىۙ (۴۰) فَاِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَاْوٰىؕ (۴۱)

(پ۳۰، اَلنّٰزِعٰت: ۴۰، ۴۱)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالايمان: او هغه، څوك چه د خپل رَبّ په دربار کښې د اودريدو نه اويريدو او نَفس ئې د خواهِش نه منع کړو نو بيشکه جَنَّت د هغه ځائ دې.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## نَفس څه ته وائي؟

که د رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره د "خيتي قُفلِ مدينه" لګولو په ذريعه د لوَړې د بَرَکتونو ګټلو ستاسو ذِهن جوړ شوې وي نو دا خيال ساتئ چه د نَفس سره به سخته مُقابَله کول غواړي. نَفس په آسانئ سره نه قابو کيږي. حضرتِ سَيِّدُنا بايزيد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "**نَفس** يو داسې صِفَت [يعني څيز] دې چه د باطل [يعني هر غلط کار] نه سِوا د هغه سود نه کيږي." (يعني نفس صرف په بدو خوشحاليږي) حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان داراني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د نَفس **مُخالَفَت** افضل ترين عمل دې.

(کَشفُ المَحْجوب ص ۳۹۵، ۳۹۶)

اللہ، اللہ کے نبی سے فریاد ہے نفس کی بدی سے
ایماں پہ بہتر موت اونفس تیری ناپاک زندگی سے

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

د شعر ترجمه: (۱) د نَفس د بَدئ نه مې الله او د الله نَبِي ته فرياد دې، (۲) اے نفسه ستا د ناپاکه نه په ايمان باندې بهتر مرګ ښه دې!

## د زرهٔ د پاره د ټول کال د عِبادَت نه بهتر

حضرتِ سَيِّدُنا سُليمان داراني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "د نَفس په خواهِشاتو کښې يو خواهِش پرېښودل د زړه د پاره د يو کال د روژو او د ټول کال د شپو د قِيام نه هم زيات فائده مند دې." (جَذبُ القُلوب ج۲ ص۳۳٦)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ګيدړې بچې

د بُزُرګانِ دِين رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِم نه په ځيني وختونو کښې نفس په مِثالي صورتونو کښې ليدل ثابِت دي، چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا مُحَمَّد عليان نسوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: په شروع شروع کښې چه کله ما ته د **نَفس** د تباهئ په باره کښې معلومات اوشو نو زما د هغه [نَفس] سره سخته دُښمَني شوه. يوه ورځ زما د خُلې نه ناڅاپه د **ګيدړې د بچې** په شان يو ځناور اووَتو! **الله** عَزَّوَجَلَّ ما ته هغه را اوپيژندو، زه پوهه شوم چه دا زما **نَفس** دې، ما فَوراً په هغه ورمنډه کړه، د پاسه پرې ګرځيدم او په ښپو مې چقول شروع کړو خو **يَاَلَلْعَجَب!** [خو عجيبه خبره وه] ما به چه څومره وهلو هغه به غټيدو! ما اووئيل: اے **نَفسه!** هر يو څيز په تکليف او زخمونو مرې خو ته د وهلو سره غټيږې! هغه جواب راکړو:

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

زما مُعامَله د نورو خيزونو نه بدله ده، په كومو خيزونو چه نورو ته تكليف رسي، ما ته په هغې راحت [يعني آرام] حاصليږي. او په كومو خيزونو چه نورو ته راحت حاصليږي، ما ته په هغې تكليف رارسي! (كَشفُ المَحجوب مُترجَم ، باب مجاهداتِ نَفس ص ٤٠٧)

نہنگ واژدہا مارا اگرچہ شیر نَر مارا
بڑے مُوذی کو مارا نفسِ اَمّارہ کو گر مارا

د شعر ترجمه: خوك به مكرمچ ، ښامار او زمري مړكړي، خو چه كله هغه نَفسِ اَمّاره مَړ كړي نو پوهه شه چه د ټولو نه خطرناك څيز ئې مړ كړو.

## د خوراك د پاره ژوندي اوسيدل

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! تاسو اوليدل! **نفسِ اَمّاره** وژل ډير زيات مُشكِل كار دې. بَس په څه طريقه د ده د قابو كولو كوشش كول پكار دي او د هغې يوه طريقه دا هم ده چه **نَفس** څه وائي د هغې خِلاف كار اوكړې شي. مَثلاً چه كله هغه د ښو ښو، تُرُوشو او مزيدارو خوراكونو مشوره وركړي يا د ډيرخوراك كولو ترغيب وركړي نو هغه وخت دِ د هغه نه مني، صِرف د ضرورت مطابِق دِ اوخوري، حُضُور داتا صاحِب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي:"لوَږه د صِدِّيقينو خوراك او د مريدانو د پاره راهِ سلوك [يعني د طريقت لار] ده. ځوا به خلقو د ژوندي اوسيدو د پاره خوراك كولو خو تاسو د خوراك د پاره ژوندي ئې." (كَشفُ المَحجوب مُترجَم، ص ٦٠٥)

## مريض پخپله طبيب جوړ شو

**مَنقول** دي، حضرتِ سَيِّدُنا شيخ خواجه مَحبوبِ اِلٰهی نِظامُ الدِّين اولياء رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه سخت بيمار شو.مُريدانو ورته عرض اوکړو:حضرت صاحِب دلته يو پَنډِت"دَم" کوي او د هغه علاج ډير کامياب دې، که تاسو حکم اوکړئ نو چه هغه له مو بوځو. اوئې فرمائيل: زه د علاج د پاره د کافِر خوا ته نه ځم. مرض نور هم زيات شو او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه بې هوشه شو. مُريدانو پورته کړو او هم هغه "پَنډِت" له ئې يوړلو، هغه [پَنډِت] چه دَم کړو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په هوش کښې راغلو او جوړ شو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته چه ځان صِحَّت مند ښکاره شو او پَنډِت ئې اوليدو نو تپوس ئې ترې اوکړو: ته په علاج کښې څنګه دومره ماهِر شوې ئې؟ هغه او وئيل: زما گُرو (يعني اُستاذ) زما نه **بَچَن** (يعني وعده) اَخِستې ده چه **نَفس درته څه وائي ته د هغې خِلاف کوه**، لِهٰذا چه کله مې يخو اوبو ښنبلو ته زړه اوشي نو **تودې** اوبه ښنبم، چه **وريژو** خوړلو ته مې زړه اوشي نو **دوډئ** خورم دغسې د **نَفس** د وَينا**خلاف** عمل کولو په وجه په ما کښې دا **قُوَّت** پيدا شوې دې. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ورته اوفرمائيل: دا راته اووايه چه ستا **نَفس** د مسلمانيدو اِجازت درکوي او که نه؟ عرض ئې اوکړو: منع کوي مې، اوئې فرمائيل: چه دا [نفس] تا د مسلمانيدو نه منع کوي نو ستا د اُصولو مطابق تا له د ده

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

د وَينا خِلاف عمل کول او **مسلمانيدل** پکار دي. دا خبره ورته هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه څه په داسې شکلې انداز کښې اوفرمائيله چه د هغه په زړه ئې ډير زيات اثر اوکړو او هغه بې اختياره اووئيل چه: زه د **کفر** نه توبه کووم او **مُسلمانيږم** او [کَلِمه] لَآاِلٰهَ اِلَّااللهُ مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې اولوستله [او مسلمان شو]

سُبْحٰنَ الله! هغه د حضرت خواجه نِظامُ الدِّين رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ظاهِري علاج اوکړو او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د هغه د اِحسان بدله ورکولو د پاره د هغه **باطِني** علاج اوکړو، هغه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د **وُجود** عِلاج اوکړو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د هغه د رُوح علاج اوکړو، هغه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه **ظاهِري** مرض لرې کړو او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د هغه باطني يعني د **کُفر** مرض لرې کړو!

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی
بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

ما ليدلې په نظر کښې د ولي هغه تاثِير چه بدل ئې د زرګاؤ کړو تقدير

## د [غاښو د] ورو کينسر

د چائے څښلو او پان خوړلو عادت لرونکو له پکار دي چه د خوراك سره سره په چائے او پان کښې هم د کمې راوستلو ذِهن جوړ کړي. هسې نه چه تاسو په خوراك کښې کمې راولئ او مَکار نَفس د

لوَړېږي ختمولو په دوکه کښې تاسو د چائے او پان د زيات اِستعمال په آفت کښې اَخته کړي. چائے د ګُردو د پاره نُقصاني دي. د پان، ګُټکا، مين پوري او د خوشبوداره سونف [يعني کاکه] او چاليه وغيره عادت پريښودلو کښې خير دي. کوم خلق چه په کثرت سره دا اِستعمالوي هغوئي ته د ورو، **خُلې او د مَرئ د کينسر کيدو خطره وي**. ثوك چه زيات پان [ګُټکا، ماوه وغيره] خوري د هغه خُله د دننه نه سره شي، که چرې ورئ وِيني شي يا پکښې نَو اوشي نو هغوئي ته به نه ښکاري او [د دې خيزونو د خوړلو سره به] خيټې ته ځي، بيا شايد چه هغوئي ته هله معلومه شي چه کله خدائے دِ نه کړي په څه **خطرناکه بيمارئ** کښې ګير شوي وي!

## د نقلي کتّهې تباهياني

په **پاکستان** کښې غالباً د **کتّهې**[1] پيداوار نه کيږي. لِهٰذا د دولت حِرص لرونکي خلق چه هغوئي د دُنيا او د آخِرت د بربادېدو هيڅ غم نه لري، هغوئي په خاوره کښې د خرمني رنګ کولو **رنګ** ګډ کړي او "**کتّهه غوندې ترې جوړه**" کړي او بيا ئې خرخوي! او دغسي **پان** [ګټکا وغيره] **خوړولو والا** په قِسم قِسم مرضونو کښې اخته شي او بيا تباه و برباد شي.

---

[1] کتّهه، هغه سرې غوندې تينګې اوبه چه په پان وغيره کښې استعماليږي، دا د يو قسم بوټي نه ويستلې کيږي.

www.dawateislami.net

**فرمَانِ مُصطَفٰےﷺ:** چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## د خوراك مزه صِرف د حلق پورې وي

كه د **وربشو** اوچه ډوډئ وي او كه د غوړو نه ډكه پراټه وي، چه خيټې ته لاړې شي نو دواړه يو شان شي. چه څنګه نوړئ د **حلق** [يعني مرئ] نه ښكته كوزه شي د هغې خوند ختم شي. څه چه په لاس راځي هغه خيټې ته اچولو او ځان پوره مړولو كښې د ژبې مزه خو صِرف د لږ ساعته پورې وي خو د دې دِينى او دُنياوى نقصانونه ډير اوګده وي. كه څوك ښه سوچ او فِكر اوكړي نو هغه به پوهه شي چه صرف د **دوو مِنټو** د خوند د پاره د آخِرت اوګد حِساب په خپل سر بارَول او د كلونو پورې بلكه د قبره پورې سختو سختو بيمارو له غاړه وركول بالكل عقلمندي نه ده، لِهٰذا ”د خيټې قُفلِ مَدِينه“ لګولو په ذريعه په كم خوراك كولو كښې فائده ده. حضرتِ سَيِّدُنا اَبودرداء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: ”د يو **ساعت** د پاره د خواهِش خبره منل د اوګد غم سبَب وي.“

یا وہ گوئی، ڈٹ کے کھانا خوب سونا چھوٹ جائے
دُنیوی لذّات سے دل کاش میرا ٹوٹ جائے

**د شعر ترجمه:** يا الله عَزَّوَجَلَّ زما د زياتو خبرو، د زيات خوراك كولو او د ډيرو خوبونو كولو عادت لرې كړې، او زما د زړه نه د دُنياوي خوندونو شوق لرې كړې!

## د خوندورې نوړئ عجيبه حِكايَت

**غور اوكړئ!** يوه داسې خوشبوداره غوړه خوندوره نوړئ چه په خُله كښې ورته اوبه راځي، هغه په ډير شوق څوك خُلې ته واچوي او ښه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

ئې اوجُوئې خو چه ښنګه ئې د مرئ نه ښکته کوزه شي په دې وخت کښې هغه ته زړه وردېك شي او هغه نوړئ بيرته د خُلې نه اوغورځوي نو د هغې طرف ته کتل به هم نه غواړي. دا دې د هغې **غوړې نوړئ حقيقَت.** باقي د دې خوندور خوراك په حَيثِيَّت باندې د دې حِکايَت نه د پوهه کيدلو کوشش اوکړئ.

## زړه سوزوونکې حِکايَت

په يوه مَحَلَّه کښې د بيتُ الخَلاء صفائي کيدله او غټ بَول خواره واره پراته وو، خلقو به په پوزه رومال ايښودو او په هغه ځائ به تيز تيز تيريدل، هغه بَول (چه د هغې د حال نه معلوميده) لکه چه دا وائي: اے **په مَنډه مَنډه تيريدونکو!** لږ اودريږئ! ما اوپيژنئ چه زه څوك يم؟ زه هم هغه يم چه تاسو په ډير مَشَقَّت ګټلې ووم، او بيا هم په ډيره خوارئ پخه کړې ووم او ښه په مزه مزه هم خوړلې ووم، او په خپله خيټه کښې هم ساتلې ووم. افسوس! ستاسو د لږ وخت صُحبَت زما دا حال کړو! زما نه ولې تښتئ! زه خو ستاسو خوندور **پُلاو** يم...... زه خو ستاسو غوړه **پراټه** يم، .......زه خو ستاسو خوندوره **قورمه** يم،

دیکھو مجھے جو دِیدہ عبرت نگاہ ہو

ترجمه: (ما ته اوګورئ که څوك عِبرت اخستل غواړى)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښې زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

# خپل حيثيت وريادولو والا جُملي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! په دې كښې عِبرت او عِبرت دې خوراك چه خومره ښه وي د هغې **انجام** هم هغه هُمره خراب وي. اِنسان چه خومره مزيدار او غوړ خوراك اوكړي د هغه بَول هم هغه هُمره زيات ګنده او بدبوداره وي. د واښه، ګيا خوړولو والا ځناورو غوشان د انسان د بَولو په مُقابَله كښې ډير كم ګنده وي. كيدې شي چه په دې خبرو اوريدو چا ته زړه ورډك شي او نفس ورله غُصّه وروړلي نو د داسې خلقو په خِدمت كښې عرض دې چه ستاسو خفه كيدل بيكاره دي او ستاسو دا خفګان هم ټول عِبرت دې، **غور اوكړئ** چه زمونږ په شان ګنهګار اِنسان ښه غُرور او تكبُّر كوي او دومره سوچ نه كوي چه زما حَيثِيَّت څه دې!زه خو هغه بيكاره [انسان] يم چه بهترين خوراكونه هم زما سره د لږ وخته پورې د پاتې كيدو په وجه داسې تباه او سخا شي چه اوس د هغې ذِكر اوريدل زه پخپله هم نه خوښووم! حضرتِ سَيِّدُنا طاؤس رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه يو كس اوليدو چه ډير غَره [يعني په تَكَبُّر كښې] روان وو نو ورته ئي اوفرمائيل: دا د هغه چا مزل نه دې د چا خيټه چه د ګند نه ډكه وي! حضرتِ سَيِّدُنا مُطَرِّف رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د حَجّاج بِن يُوسف د لښكر قُمندان [يعني سر لښكر، سپه سالار] **مُهَلَّب** اوليدو چه هغه د ريښمو جامې اغوستې وې او ډير غَره [يعني په تَكَبُّر كښې] روان وو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

نو اوئې رَټلو. هغه ورته اووئيل: ته ما نه پيژني چه زه څوك يم! ورته ئې اوفرمائيل: ”زه تا ښه پيژنم چه ته په شروع کښې يو ګنده څاڅکې وې او په آخِره کښې به يو سخا شوې مړې ئې او دا خو ټولو ته معلومه ده چه ته په خيټه کښې ګند ګرځوې!“ دا حقيقت ئې چه واوريدو نو هغه اوشرميدو او غَره [يعني په تڪَبُّر] ګرځيدل ئې پريښودل. حضرتِ سَيِّدُنا مُصعَب بِن زُبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ”عجيبه خبره ده چه، اِنسان تَڪَبُّر کوي حالانڪه هغه دوه ځله د متيازو په ځائ راوتې دې.“

## آيا تاسو د ڪم خوړلو عادت جوړول غواړئ؟

**که** تاسو د **خيټې د قُفلِ مدينه** لګولو يعني د ڪم خوراک عادت جوړول او په هغې اِستِقامَت غواړئ نو **زما** په دې **مَدَنی** مشورو عمل اوکړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډيره فائده به مو اوشي. خپل ذِهن داسې جوړ کړئ څنګه چه حُجَّةُالاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ”په آخِرت کښې د حساب و کِتاب د سختو او د ځنکدن د سختو يو سَبَب په مړه خيټه خوراك کول هم دي“ حُجَّةُالاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نور فرمائي: ”د زيات خوراك کولو سره د آخِرت په ثواب کښې کمي راځي. لِهٰذا تاسو چه څومره خوندونه په دُنيا کښې حاصل کړئ هغه هُمره حِصّه به مو په آخِرت کښې کمه شي.

(مِنهاجُ العابِدِين ص ٩٤)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

ڈٹ کے کھانے کی مَحَبَّت قلب سے میرے نکال
نَزع میں دے مجھ کو راحت اے خدائے ذُوالجلال

د شعر ترجمه: يا رَبِّ ذُوالجَلال! زما د زړه نه د زيات خوراك مَحَبَّت لرې كړې او يا الله عَزَّوَجَلَّ په ځنكدن كښې را ته سكون را كړې.

## د دوزخيانو خوراك څښاك

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د ژبې د يو څو مِنټو د خوند د پاره د دومره خوفناكو مُعامَلاتو پرواه نه كول عقلمندي نه ده، د **خيټې په قُفلِ مدينه** لګولو او په كم، كم او كم خوراك كولو كښې عافِيَّت [يعني خير] دې. چه كله مو ډير خوراك كولو يا خوندورو خيزونو خوړلو او يخو شربتونو څښلو ته زړه اوشي نو د دوزخيانو خوفناك خوراك را ياد كړئ كوم چه د كافرانو د پاره تيار كړې شوې دې. چنانچه په سيپاره ٢٥ سُوْرَةُالدُّخَان آيت نمبر ٤٣ نه ٤٦ پورې د دوزخيانو د يَرَوونكې خوراك په باره كښې خدائے قَهّار و جَبّار جَلَّ جَلَالُهٗ ارشاد فرمائي:

اِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿۴۳﴾ طَعَامُ الْاَثِیْمِ ﴿۴۴﴾ کَالْمُهْلِ ۚ یَغْلِیْ فِی الْبُطُوْنِ ﴿۴۵﴾ کَغَلْیِ الْحَمِیْمِ ﴿۴۶﴾

(پ ٢٥، الدُّخان ٤٣ تا ٤٦)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالإيمان: بيشكه د زقُّوم وَنه د ګنهګارانو خوراك دې، د ويلې كړې شوې تانبې په شان به په خيټو كښې جوش وهي، څنګه چه خوټكيدلې اوبه جوش وهي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نيزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

د دوزخيانو د تباه كوونكي **مشروب** [يعني د څښلو څيز] په باره كښې د سيپاره ٢٦ سورهٔ **مُحَمَّد** په پينځلَسم آيت كښې ارشاد دي:

وَسُقُوْا مَآءً حَمِیْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَآءَهُمْ ﴿۱۵﴾

(پ ٢٦ ، مُحمّد: ١٥)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: او په هغوئي به خوټكيدلي اوبه څښلې شي چه **كولمې** به ئې ټكړې ټكړې كړي.

## د مارانو د زَهر پياله

**مُغِيث بِن سَمی** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: چه كله څوك دوزخ ته راوستې شي نو هغه ته به اووئيل شي اِنتِظار كوه مونږ تا ته يوه تُحفه دركوو، بيا به د **مارانو د زَهرو يوه پياله** هغه ته وركړې شي، چه كله هغه، هغه [پيالئ] خپلې خُلې ته نِزدې كړي نو د هغه د مخ غوښه او هډوكي به كټ شي او اوبه غورزيږي. (البُدُورُ السّافِرة ص ٤٤٢)

كرم از پئے مصطفٰے يا الٰہی جہنَّم سے مجھ كو بچا يا الٰہی

د شعر ترجمه: يا اِلٰهی! د حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په وسيله دا كرم اوكړې چه ما د جَهَنَّم نه بچ كړې!

## د لوئی نِعمَت حِساب هم لوئي

كه د **كور** ټول كسان مُتّفِق وي [يعني اِتِّفاق اوكړي] نو په خوراكونو اِنګوَلي وغيره كښې چه كوم تيل مصالې اچوئ د هغې مِقدار نيم كړئ. كيدې شي چه د خوراك خوند څه كم شي، چه كله [د خوراك] خوند كم شي نو په رَغبَت [يعني د خوراك په شوق] كښې به هم كمې راشي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

او اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د **خيټې قُفلِ مدينه** لګولو يعنې کم خوراك کولو کښې به آساني اوشي. د **ډوډۍ** لږه شان ټکره چه په هغې لوَږه ختمه کړې شي د هغې به په ورځ د قِيامَت حِساب نه کيږي. ګني ياد ساتئ! چه په دُنيا کښې ځوك څومره ښه او خوَندور خوراك کوي هغه هُمره به د قِيامت په ورځ حِساب هم د سخت نه سخت وي، مَثلاً د **کِچړي** [يعني کِير] حِساب به لږ کم وي او د **پُلاو** حساب به د هغې نه سخت وي. په دې کښې به هم دا ترکيب وي چه کوم سړې کوم څيز زيات خوښوي هغه [څيز] به د هغه د پاره لوئي نِعمَت ګڼړل شي، مَثلاً د چا چه د **پُلاو** په مُقابَله کښې کِچړي [يعني کِير] زيات خوښ وي، د هغه د پاره کچړي لوئي نِعمَت دې نو د هغه سره به د **پُلاو** په مُقابَله کښې د کِچړي حساب سخت کيږي. د **ساده** اوبو په مُقابَله کښې د **يخو** اوبو او د ساده خوراکونو په مُقابَله کښې به د خوندوَرو خوراکونو حِساب زيات سخت وي. که پُلاؤ يا قورمه ډوډۍ وغيره **تاوده تاوده** وي نو حِساب زيات او که **بالکل يخ** شي او بې خونده شوي وي نو ولې چه نَفس دا نه خوښوي ځکه به ئې حِساب هم کم وي. آه! آه! د هر نِعمَت په باره کښې به د قِيامَت په ورځ تپوس کيږي.

## د هر نِعمَت په باره کښې درې تپوسونه

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د قِيامَت په ورځ به د هر څيز په باره کښې درې تپوسونه کيږي. (۱) تا دا څيز څنګه

www.dawateislami.net

حاصِل کړي وو؟ (۲) دا دِ کوم ځائ خرچ کړي [يعني لګولي] وو؟ او (۳) په څه نِيَّت دِ خرچ کړي [يعني لګولي] وو؟ (مِنهاجُ العابِدِين ص۱۰۰)

د سيپاره ۳۰ سُوْرَةُ التَّكَاثُر په آخِري آيت کښې ارشادِ اِلٰهی دي:

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ﴿۸﴾
(پ۳۰ سُوْرَةُ التَّكَاثُر: ۸)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: بيا بي شکه ضرور به په هغه ورځ ستاسو نه د نِعمتونو تپوس کيږي.

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! قَسم په خدائے! د دُنيا په خوشحالو کښې د ورك مالدار او صاحِبِ اِقتدار [حکومت لرونکي] په مُقابَله کښې د سُنَّتو پابند يو غريب او بې اَسره کس خوش نصيبه او بختور دي، او هغه کس په آخِرت کښې کامياب دي څوك چه په غريبئ، مرضونو او آفتونو کښې د اخته کيدو باوُجود د الله عَزَّوَجَلَّ او د هغه د خوږ حَبيب صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبردار دي. يو **عبرت ناك روايت** واورئ او عبرت حاصل کړئ! چنانچه

## د جَهَنَّم غوپه

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اَنس رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت دي، فرمائي چه حُضُورِ اَکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلی دي: ”د قِيامت په ورځ به د کُفّارو نه هغه کس راوستې شي چه هغه ته به په دُنيا کښې ډير زيات نِعمتونه ورکړې شوي وي. اوبه وئيل شي، ده ته په اور کښې غوپه ورکړئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

لِهٰذا هغه ته به په اور کښې غوپه ورکړې شي، بیا به هغه ته وئیل شي، اے فُلانکیه! آیا تا ته کله ډیر نِعمَتونه درکړې شوې دي؟ نو هغه به اووائي: "نه، ما ته یو نِعمَت هم نه دې راکړې شوې." او په مسلمانانو کښې به هغه کس راوستې شي چه هغه به په دُنیا کښې د ټولو نه زیات مُصِیبَت وهلې او بدحاله وو، اوبه وئیل شي، ده ته په جَنَّت کښې یوه غوپه ورکړئ، لِهٰذا هغه ته به په جَنَّت کښې یوه **غوپه** ورکړې شي بیا به د هغه نه تپوس اوکړې شي، اے فُلانکیه! آیا تا کله سختي لیدلي ده، آیا ته کله په مُصِیبَت کښې اخته شوې ئې؟ نو هغه به وائي: "نه، ما کله هم سختي نه ده لیدلي او نه زه کله په مُصِیبَت کښې اَخته شوې یم." (ابنِ ماجه ج٤ ص٥٣٠ حدیث٤٣٢١)

معلومه شوه چه جَهَنَّم دومره سخت دې چه د هغې صِرف یوه غوپه به د اِنسان نه د دُنیا ټولې رنګینۍ، عیش و عشرت او خوشحالۍ هیرې کړي. او هغه به وائي چه زه خو همیشه په تکلیفونو کښې ووم، او د جَنَّت یوه غوپه به دومره ښکلې وي چه په دُنیا کښې د ډیرې غریبۍ او د قِسَم قِسَم مُصیبتونو په وجه بدحاله اوسیدونکي کس نه به د جَنَّت صرف یوه غوپه خوړلو سره ټول غمونه هیر شي او هغه به دا وائي چه ما خو کله تکلیف لیدلې هم نه دې چه هغه څنګه وي!

میزاں پہ سب کھڑے ہیں، اَعمال تُل رہے ہیں
رکھ لو بھرم خدارا عطّارِ قادِری کا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه دَجنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

تول وَلاړ دي په میزان اعمال تَلَل شي لِلّٰه کرم اوکړئ په عطّار قادري

## د کم خوراك عادت جوړولو طریقه

د ډیر خوراك کولو عادت لرونکي که د **خیتې قُفلِ مدینه** لګولو په جذبه کښې راشي او یو دَم خوراك کم کړي نو قَوی اِمکان دې چه کمزورې به شي او حوصله به ئې هم کمزورې شي. لِهٰذا لږه لږه دِ کموي. مَثَلاً که په ورځ کښې دولس ډوډۍ خوري او دا غواړي چه شپږ ډوډۍ ئې کړم نو دا دولس ډوډۍ دِ په شپیتوو حِصّو کښې تقسیم کړي او هره ورځ دِ ترې یوه حِصّه کموي یعني په وړومبۍ ورځ دِ [په شپیتوو کښې] ۵۹ حِصّې اوخوري، په دویمه ورځ دِ ۵۸ حِصّې [اوخوري]، دغسې به په یوه میاشت کښې ۳۰ حصُّو یعني شپږو ډوډو ته را اورسي او اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ کمزورې کیږې وغیره به هم نه. او که صِرف وریژې خوري نو د هغې هم په دې طریقه ترکیب کیدې شي. مَثَلاً هره ورځ دِ یوه نوړۍ کموي او دغسې دِ خپل مقرر مِقدار ته اورسي او زړه دِ مضبوط ساتي، داسې نه چه خوندور طعام ورته مخې ته کیښودې شي یا چرې دعوت له لاړ شي او نَفس ورته اووائي چه خیر دې نن ډیره اوخوره د صبا نه بیا په خپله طریقه [کم] خوراك شروع کړه، نو که د نَفس خبره ئې اومنله نو بیا [په کم خوراك] اِستِقامَت [موندل] مُشکِل دې. که چا ته هرڅومره مزیدار خوراك مخې ته کښیودې شي او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

هغه [د کم خوراك کولو] په خپل معمول باندې کلك پاتې شي نو هغه کامیاب دې.او چه کله ئې د کم خوراك کولو عادت مضبوط شي نو که بیا کله په دعوت وغیره کښې د معمول نه لږ زیات خوراك اوکړې نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ [په اِستِقامَت کښې به ئې] څه فرق نه راځي.

بھائیو بہنو سبھی عادت بناؤ بھوک کی
پاؤگے رَحمت ذرا زحمت اُٹھاؤ بھوک کی
ورونړو خویندو ټول جوړ کړئ د لوږې عادت
که برداشت کړئ دا زحمت نو مومئ به رحمت

## د خوراك مِقدار مقرر کړئ

د **خپل ځان** دَ پاره د خوراك مِقدار (مَثَلاً نیمه ډوډئ، یوه څمڅئ وریژې، وړه ټکرې د کدُّو شریف، د غوښې دوه [د یوې نوړئ هُمره] واړه واړه پوټې که لږ غټې وي نو صرف یو پوټې، د آلو یوه ټکړه، درې څمڅئ ښوروا وغیره) مُقَرَّر کړئ چه که د دې د خوړلو نه پس مې هرڅومره لَوږه پاتې وي نوره به نه خورم. ځکه چه کله هم ډوډئ ته کښینئ نو که کیدې شي د ځان د پاره مو چه څومره خوراك مقرر کړې وي هغه همره خوراك د مخکښې نه په خپله رکیبئ کښې را جُدا کړئ شاید چه د **خیتې د قُفلِ مدینه** لګولو د خواهش لرونکو د پاره به د دې نه ښه بله طریقه نه وي. او که چرې نَفس دربانديې په خپله رکیبئ کښې څه زیات

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

واچوي نو کم ئې کړئ. چه يو ځل [خپل مقرر کړې خوراك] راواچوئ نو بيا که مو نور خوراك ته هر څومره زړه کيږي نور خوراك مه را اخلئ ځکه نَفس به ورځ په ورځ خپلې مطالبې زياتوي! کله به درته وائي، يو پوټې بل راواخله، کله به درته وائي آلو راواخله، کله به وائي يوه څمڅئ دال نور راواچوه وغيره. دغسې په دعوتونو کښې هم د دې خبرې خيال ساتئ. ځکه چه "د خيټې د قُفلِ مدينه" لګولو يعني د کم خوراك کولو چه لا تر اوسه د چا عادت نه وي جوړ شوې نو هغه که د عام رواج مطابِق د غټې لوښي نه بيا بيا لږ لږ را اچوي نو انديښنه ده چه نَفس هغه تير باسي او زيات خوراك پرې اوکړي. که په غټ تالي کښې ټول يوځائ خوراك کوي او خپل ماحول وي مَثَلاً د سُنّتو د تربِيَّت مَدَنی قافِله وي يا د **دعوتِ اسلامي** د جامعةُ المَدينه مَدَنی ماحول وي. نو کوم اسلامي ورور يا طالِبِ عِلم چه د "خيټې قُفلِ مدينه" لګول غواړي هغه دِ د "مَدَنی اِنعاماتو" مطابق د غټ تالي نه په خپل **خورين لوښي** کښې د ضرورت مطابق خوراك بيل کړي خو د تال خوا ته دِ نِزدې کښيني او يوځائ دِ ئې خوري. خو که په ملګرو ئې بده لګي نو بيا دِ ئې د هغوئې سره په يو تالي کښې خوري. لِهٰذا د ټولو نه **محفوظه** طريقه دا ده چه د خپل خوراك نوړئ دِ **مخصوصې** کړي مَثَلاً که د دولسو نوړو عادت ئې جوړ کړې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (كَنْزُالْعُمَّال)

وي نو بيا د نورو سره په يو ځائ خوراك كولو كښې به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه مشكِلات نه وي، ځكه چه په تَصَوُّر [يعني سوچ] كښې هم د نورو شمير پوره كيدې شي.

بھوک کا یا الٰہی قرینہ ملے استِقامت کا مَدَنی خزینہ ملے
پیٹ کا مجھ کو قفلِ مدینہ ملے حِرصِ لذّاتِ دنیا کبھی نا ملے

د اشعارو ترجمه: (۱) ياالٰهى! د لوږې تيرولو طريقه او د خيتې قُفلِ مدينه لګول را نصيب كړې، (۲) د اِستِقامَت مَدَني خزانه راكړې او د دُنيا د خوندونو حِرص مې ختم كړې.

## مختلِف خوراكونه ګډ وَډ كولې هم شئ

كه چرې په كور كښې يو څو قِسمه خوراكونه تيار وي مَثَلاً ډوډئ، وريژې، اِنګولې، سموسې متهائي وغيره. نو داسې هم كولې شئ چه د ضرورت مطابق د ټولو نه لږ لږ په [خپل جُدا] لوښي كښې را واچوئ او ټول ګډ وَډ كړئ، په داسې كولو كه خوند كم هم شي نو څه باك نشته ځكه چه اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په دې به هم نَفس څه نه څه مغلوبه كيږي. خو په عام دعوت كښې اِحتِياط كوئ. او كه چرې په **مَدَنى ماحول** كښې دعوت وي او تاسو ته معلومه وي چه كوربه به دا خبره بَده نه ګڼرې او په رياكارئ كښې د اخته كيدو خطره هم نه وي نو بيا [مختلف خوراكونه] يوځائ كولو كښې باك نشته. بهتره به دا وي چه يو اِسلامې ورور كوربه ته دا اووائي: "چه څوك څنګه خوراك كول غواړي

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

هغه له هم هغسي د خوراك كولو اِجازَت وركړئ." اوس كه هغه اووئيل چه صحيح ده نو د ټولو د پاره اِجازت شو. يو كس **سگِ مَدِينه** [يعني محمد اِلياس عطار قادري] عُفِیَ عَنْہُ ته وئيلي وو، چه ما يو صاحِب اوليدو چه كله په دسترخوان باندې د هر قِسمه خوراكونه كيښودل شو، نو هغه د ټولو نه لږ لږ واخستل او په خپله ركيبئ كښ ئې گډ وَډ كړل! چا ترې ډير په حيرانتيا تپوس اوكړو نو هغه او وئيل: "چه خيټې ته لاړ شي نو هسې هم ټول خوراكونه يوځائ كيږي، بس ما د مخكښ نه يو ځائ كړل."

نَفس کی چال میں نہ آئیں کاش!
ڈٹ کے کھانا کبھی نہ کھائیں کاش!

د شعر ترجمه: كاش چه مونږ د نَفس په دوكه كښ كله هم گير نه شو، او كاش چه كله هم په مړه خيټه خوراك اونه كړو!

## د نورو په موجودگئ كښ د كم خوړلو طريقه

د نورو په موجودگئ كښ د رياكارئ يا د كوربه وغيره د سَت كولو نه د بچ كيدو د پاره يوه طريقه دا هم كيدې شي چه په **درې گوتو** وَړې وَړې نوړئ اَخلئ او ښې ئې جوئې او هميشه د دې سُنَّتو خيال ساتئ. خاص طور په دعوتونو كښ خلق زر زر خوراك كوي لِهٰذا كيدې شي چه د خوراك د مشغولتيا په وجه د هغوئې تاسو ته تَوَجُّه نه وي. كه بيا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (كنز العمال)

هم تاسو زر ماړه شئ نو په اطمِينان سره [هسې خوراك کښې کوتې وهئ كله] هېڅوکې چوپئ. اُمِّيد دې چه په دې طريقه به تاسو د ټولو سره يوځائ د ډوډئ نه فارغ شئ. د ټولو په مخکښې زر زر د ډوډئ نه بس کول كه د رِيا يعني ښودنې د پاره وي چه خلق اووائې چه دا نيك سړې دې او د تقوٰی په وجه لږ خوراك کوي نو داسې کول حرام او جَهَنَّم ته بوتلونکې كار دې. د رِياكارئ نه خپل ځان بچ کول ډير ضروري دي. د **سركارِ مدينه** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دې: **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ هغه عمل نه قبلوي په كوم [عمل] کښې چه د يوې ذَرّې همره هم رِيا (يعني ښودنه) وي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهيب ج۱ ص۸۷) كه څوك د تحديثِ نِعمَت [يعني د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د فضل بيانولو] په نِيَّت يا پيشوا [يعني د يوې ډلې مشر] د خپلو ماتحتو د ترغيب د پاره، اُستاذ د خپلو شاګردانو د ترغيب د پاره او پير د خپلو مُريدانو د ترغيب د پاره خپل عمل ښکاره كړي نو باك نشته. خو په دې باره کښې پوره غور كول پکار دي چه مقصد واقعی تحديثِ نِعمَت يا رغبت وركول دي او كه نه. **خو كه په زړه کښې ئې د يو ذَرّې همره هم د خپلې بُزُرګئ د رُعب اچولو نِيَّت پټ وي** نو بيا دا رِياكاري او دَ جَهَنَّم حقداري ده.

## اِخلاص دَ قبليدو کُنجي ده

**بيشكه** كه څوك ټول عمر ښه په مړه خيټه خوراك اوكړي نو بيا هم ګنهګار نه دې خو كه په ژوند کښې يو ځل هم رِياكاري اوكړي نو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

ګنهګار او د اور د عذاب حقدار دې. كه د اِسلامي ورونړو په مخكښې خو د دې د پاره په اِحتِياط لږ خوراك كوي چه دا اَثر مې پريوځي چه واه! ده خو د خيټې قُفلِ مدينه لګولي ده او بيا چه كور ته اورسي نو د اوږې زمرې په شان په خوراك ورمنده كړي نو داسې كس پوخ رِياكار او د دوزخ حقدار دې. بيشكه داسې اِسلامي ورور ډير عقلمند دې چه هغه د نورو په مخكښې په داسې طريقه خوراك كوي چه د هغه په لږ خوراك كولو څوك نه شي پوهيدې او په كور كښې هم ښه د خيټې **قُفلِ مدينه** لګوي. عمل صِرف او صِرف د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د رِضا د پاره پكار دې ځكه چه **اِخلاص د قبليدو كُنجي ده.**

رياكاريوں سے بچا يا الٰهی
كر اخلاص مجھ كو عطا يا الٰهی

بچ مې كړه ته له رِيا يا اِلٰهی كړه اِخلاص را ته عطا يا اِلٰهی

## د كم خوراك كولو والا اِمتِحان

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! څوك چه د خيټې د قُفلِ مدينه لګولو يعني د لږ خوراك كولو د عادت جوړولو د پاره رِياضَت [كوشش] شروع كړي د هغه اِمتِحان داسې هم كيدې شي چه په شروع كښې ورته كمزورې محسوسيږي، په خبره خبره غُصّه ورځي، يا ئې ځيني همدردي لرونكي هم پوهه كوي، د كمزورئ نه ئې يَرَوي او دغسې په هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

نفسياتي دباؤ زيات شي. او بيا [دا هم کيدې شي چه] د کم خوراك کولو په بَرَکت ئې هاضِمه هم بهتره شي او خوراك ئې زر زر هضم کيږي او زر زر اوږي کيږي او دغسې ئې د خوراك شوق نور هم زيات شي. او چه کله خوا و شا ېخلې کيږي نو د هغې خوشبو به پرې ډيره ښه لګي او په خُله کښې به ئې ورته اوبه هم راځي، او زړه به ئې غواړي چه بس نن خو ځان ښه موړ کړم. او دغسې په کور کښې قِسم قِسم خوراکونه او د هغې خوشبوياني خُصوصاً په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د روژه ماتي په وخت کښې چه سخته لوَږه او تنده وي او مخې ته درته د خوَندور خوراکونو لوښي [ډك پراته وي] او دغسې په لوئي اَختر کښې د غوښو انبارونه، په سيخونو کښې د تيکو د پخيدو لوَږه زياتوونکي خوشبوياني او د قِسم قِسم پخلي به ستاسو اِمتِحان اخلي، خو تاسو هِمَّت مه بيلئ، دا فَرمانِ مُصْطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا بيا يادوئ: اَفْضَلُ الْعِبَادَةِ اَحْمَزُهَا يعني په عبادتونو کښې افضل عبادت هغه دې په کوم کښې چه تکليف زيات وي. (كَشْفُ الْخِفاء ج١ ص١٥٧)

## مُسلسل د ځلويښتو ورځو پورې کم خوراك اوکړئ

کيدې شي چه داسې هم اوشي چه تاسو يو څو ورځې د خيټې قُفلِ مدينه لګولو کښې کامياب شئ خو بيا پرې په اِستِقامَت سره

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو گناهونه به معاف شي. (كَنزُالعُمّال)

عمل جاري اونه ساتلې شئ او بيا د ډير خوراك خښناك سِلسِله شروع كړئ خو هِمَّت مه بيلئ، كوشش جاري ساتئ، بيا بيا د نوي سر نه [د خيتې د قُفلِ مدينه لګولو] تركيب شروع كوئ. مَثَلاً كله دا نِيَّت كوئ چه د بِسْمِ الله د ووه حروفو په نِسبَت به ووه ورځې د **خيتې قُفلِ مدينه** لګووم. دغه شان د رَبِيعُ الْاَوَّل شريف دولس ورځې، د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّمُ** پينځلّس ورځې، او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخِري پوره عشره كښې د **خيتې قُفلِ مدينه** لګوئ. كوشش اوكړئ چه كله درته د ښلويښتو ورځو پورې د كم خوراك كولو هم سعادت نصيب شي. اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ د دې په بَرَكت به درته اِستِقامَت هم نصيب شي. لكه څنګه چه حضرتِ سَيِّدُنا **وَهْب بِن مُنَبِّه** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: "**بنده چه كوم يو څيز د ښلويښتو ورځو پورې خپل عادت جوړ كړي نو الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی هغه (څيز) د هغه طبيعت جوړ كړي.**" (رِسالةُ القُشيرِيه ص ٢٤٣)

ميں كم كھانا كھانے كى عادت بناؤں
خدا يا كرم! استِقامت بھى پاؤں

د شعر ترجمه: يااِلٰهى كم خوراك كول زما عادت جوړ كړې او په دې باندې راته اِستِقامَت هم راكړې!

## په كم خوراك باندې د اِستِقامَت موندلو د پاره

په دې نِيَّت كله كله دوه ركعته صَلٰوةُالْحَاجَت (د عامو نفلونو په شان) هم ادا كوئ چه د **خيتې قُفلِ مدينه** لګول راته نصيب شي او د لوَږې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښ به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)

ماتولو نه د کم خوراك کولو عادت مې جوړ شي او کله د خيټې په قُفلِ مَدِينه باندې د اِستِقامَت [مونډلو] او د خوراك د حِرص او رغبت لرې کولو دُعا کوئ. او د **فَيضانِ سُنَّت** دا باب يعني د "**خيټې قُفلِ مَدِينه**" هره مياشت يا کله چه درباندې د خوراك حِرص بيا زيات شي نو کم نه کم يو ځل ئې لولئ يا ئې د بل نه اورئ او د **اِحياءُ الْعُلوم** جلد۳ نه د خيټې د ډير خوراك کولو د آفتونو والا مضمون هم اولولئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډيره فائده به مو اوشي. او دا خبره هم ياده ساتئ چه د **خيټې قُفلِ مدينه** يعني د لوَږې نه کم خوراك کول به تاسو ته صِرف يو څو ورځې مشکل معلوميږي، او هغه هم زيات د هغه وخته پورې چه تر څو **دسترخوان** ته ناست ئې، د دسترخوان لرې کولو نه پس به مو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ تَوَجُّه لرې شي. او چه کله مو د **خيټې د قُفلِ مدينه** [لګولو] عادت جوړ شي او د هغې بَرَکتونه اوګورئ نو بيابه مو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ زيات خوراك کولو ته زړه هم نه کيږي. تاسو هِمَّت جاري ساتئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د سختې نه پس به آخِر آساني راشي. **الله** عَزَّوَجَلَّ ارشاد فرمائي:

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿۵﴾ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ﴿۶﴾ (پ۳۰، الم نشرح:۵،۶)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيشکه د تنګۍ سره آساني ده، بيشکه د تنګۍ سره آساني ده.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

# تريخ نصيحت

**كه** د يو كس د **لوَږې** نه د كم خوراك كولو تر اوسه پورې تركيب نه هم وي نو د چا چه **مَدَني ذِهن** وي هغه به پخپله اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ خپل تركيب جوړ كړي او د **خيټې قُفلِ مدينه** به اولګوي او كه پخه اِراده ئې اوشوه نو د هغې د پاره به پخپله څه طريقه هم جوړه كړي. او څوك چه د "**جُوْعُ الْكَلْب**" مريض [وي] او د زيات خوراك كولو حرص لري د هغه د پاره ډېر ليكل او ډېر بيانونه هم كم دي. شايد چه دا ليك هم هغه په بې غورۍ هسې سرسري اوګوري، او هيڅ غور پرې اونه كړوي، بلكه كيدې شي چه مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه د "خيټې په قُفلِ مدينه" [لګولو] باندې اعتراض هم اوكړي. د داسې كس په باره كښې يو بُزُرګ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بالكل رِښتيا فرمائيلي: "**ډكې خيټې والا** ته چه كله نصيحت كيږي نو د هغه ذِهن ئې هډو قبلوي نه." (نُزْهَةُ الْمَجَالِس ج۱ ص۱۷۸) نو داسې كس به د نَفس و شيطان په مشورو د نوو نوو خوَندونو د پاره لارې هواروي او د قِسم قِسم خوراكونو د تيارولو د طريقو معلومولو د پاره به د بازار نه كتابونه راوړي او په مُختلفو مختلفو بهانو به خوندور خوراكونه راغواړي، بيا بيا به ئې خوري او د بيتُ الخلاء [يعني فَلَش] چكرې به لګوي، په خپل وجود به وازګې زياتوي، بدن به غټوَي، خپله خرابه خيټه به په ډاكټرانو ګرځوي او په علاج به ښې ډيرې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي بانديې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

روپئ لګوي. حالانکه د ده د بيمارو عِلاج پخپله د ده سره موجود دې، که د **خيټې قُفلِ مدينه** اولګوي نو د مرضونو، علاجونو او د ډاکټرانو د خرچونو نه خلاصې موندلې شي. خو چا چه د خپل ژوند اُصول "خُوردَن بَرائے زِيستَن"يعني "د ژوند د پاره خوراك" په ځائ "زِيستَن برائے خُوردَن"يعني"د خوراك د پاره ژوند" جوړ کړې وې هغه نادان هډو صِحَّت مند ژوند تيرولې نه شي.

پھول کی پتّی سے کٹ سکتا ہے ہِیرے کا جگر
مردِ ناداں پر کلامِ نَرم و نازُک بے اثر

د شعر ترجمه: د ګُل په پاڼړه د ملغلرې ځيګر کټ کيدې شي خو په نادان سړي نصيحت بالکل اثر نه کوي.

يا رَبِّ **مُصطفٰے**عَزَّوَجَلَّ! زمونږ د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُبارَکې لوَږې او د هغې د پاره په مُبارَکه خيټه بانديې د تړلو **قدرمندو او روښانه کاڼړو** په خاطر! مونږ ته د لږ خوراك کولو، د لږ خوب کولو او د لږو خبرو کولو توفيق راکړې. [يا الله عَزَّوَجَلَّ] د صحابهٔ کِرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان او د اوليائے عظام رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْھِم د لوَږې مبارکې په خاطر مونږ ټولو ته هم د خير و عافِيَّت والا لوَږې تيرولو او د **خيټې د قُفلِ مدينه** لګولو سعادت را نصيب کړې.

الٰہی ! پیٹ کا قُفلِ مدینہ کر عطا ہم کو
کرم سے استقامت کا خزینہ کر عطا ہم کو

د شعر ترجمه: اِلٰهی!مونږ ته د خيټې قُفلِ مدينه را عطا کړې، او په خپل کرم سره مونږ ته په دې اِستِقامت را عطا کړې.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلىٰ)

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَى الله اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# 52 حِكايات

## (۱) د سَيِّدُنا جابِر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په كور كښې دعوت

مشهور صحابي حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: د **غزوهٔ خَندَق** په موقع مونږه خَندَق كنستلو [يعني كنده مو كنستله] چه يو سخت ګټ پكښې راښكاره شو. صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په **بارګاهِ رِسالت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو چه: په خندق كښې يو سخت ګټ ښكاره شوې دې. اوئې فرمائيل: "زه در كوزيږم." بيا **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم راپاڅيدلو او د هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په **خيټه مبارَكه باندې كاڼړي تړلي شوي وو مونږه هم د درې ورځو نه هيڅ هم نه وو خوړلي.** حُضُورِ اَكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **پَلُك** راواخستو او ګوزار ئې پرې اوكړو نو ګټ د خاورې په شان ريزه ريزه شو. ما عرض اوكړو: يَارَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته كور ته د تللو اِجازت راكړئ. (اِجازت ئې چه راكړو او كور ته لاړم نو) ما خپلې بي بي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا ته اووئيل چه، ما **تاجدارِ مدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

په داسې حالت كښې اوليدو چه صبر نه شم كولې. آيا تاسو سره د (خوراك) څه څيز شته دې؟ هغې اووئيل: **وربشې** او يوه **چيلئ** [يعني بِيزه] ده. ما چيلئ حلاله كړه او وربشې مې وړه كړې تر دې چه مونږ دوارو غوښه په كټوئ [يعني ديګچي] كښې واچوله. زه د **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په باركاه كښې حاضِر شوم هغه وخت وړه نرم شوي وو او د ډوډو پخولو قابل شوي وو او كټوئ په نغري باندې پخيدو ته نِزدې وه. (ما عرض اوكړو) **يَا رَسُوْلَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما سره لږ شان خوراك دې تاسو صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما سره تشريف يوسئ او يو يا دوه كسان د ځان سره راولئ. اوئې فرمائيل:"خوراك څومره دې؟" ما [د خوراك] مقدار اوښودو نو اوئې فرمائيل: "خوراك ډير دې او ښه دې." (هغوئي ته) اووايه "چه زما د راتلو نه مخكښې نه د نغري نه كټوئ كوزه كړې او نه د تنور نه ډوډئ را اوباسې." (بيا) **خوږ آقا** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته) اوفرمائيل: "پاځئ"! نو مهاجِرين او اَنصار عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان پاځيدل. (حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي) زه د "خپلې بي بي خوا ته راغلم او ورته مې اووئيل، خدائے دِ خير دركړې، سركارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، مُهاجِرين و اَنصار عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او كوم خلق چه د حُضُور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وو [هغه ټولو] تشريف راوړې دې." اوئې وئيل، آيا **سركار** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستاسو نه تپوس كړې وو؟ ما اووئيل:

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

آو. (په دې كښې) رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (صحابهٔ كِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته) اوفرمائيل: "دننه ننوځئ او كېنړه مه جوړوئ." حُضُورِ اَكرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (په خپلو مباركو لاسونو) **ډوډئ ماتول او په هغې غوښه اېښودل شروع كړل چه كله به خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **ډوډئ او غوښه را او وِيستله نو كټوئ او تنور به ئې پټ كړل.** او خوراك به ئې صحابهٔ كِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ته وركړلو او بيا به ئې ترې سر اوچتولو. **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هم دې شان ډوډئ ماتوله او د كټوئ نه به ئې غوښه راويستله تر دې چه ټول صحابهٔ كِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان ماړه شو او خوراك پاتې شو. نو **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (هغوئي ته) اوفرمائيل: "تاسو پخپله هم اوخورئ او خلقو ته ئې تحفةً وركړئ، ځكه چه خلق په **لوَږه** كښې اخته دي." (صحيح بُخاری ج٥ ص٥٥ حديث٤١٠١) **دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د دې **مَدَني حِكايت** نه دا درس حاصل شو چه زمونږ د **خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لوَږه اِختِياري وه ځكه خو ئې يو طرف ته د لوَږې نه په خيټه مُبارَكه باندې كاڼړي تړلي دي او بل طرف ته د يوې كټوئ نه كَنړ شمير صحابهٔ كِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان مَړَوي. په دې **مُعجِزه** كښې په زرګاؤ مَدَني ګلونه دي، په هغې كښې يو **مَدَني**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

**ګل** دا هم دې چه زمونږ خوږ **مَدَني آقا** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بې وسه او **مجبوره** نه دې. د خپل خوږ پروردګار عَزَّوَجَلَّ په رَحمَت د دواړو جهانو د خزانو مالِك و **مُختار** دې. د دې مَدَني حِکايت نه دا **درس** هم حاصِل شو چه حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او صحابۀ کِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د ډيرو زياتو تکليفونو برداشت کولو او لوَږې تيرولو او په خپلو مبارَکو خيټو د کاڼړو تړلو باوجود د نيکۍ دعوت عام کړې دې، او آه! يو مونږه هم يو چه د هر قِسمه سهولتونو باوُجود د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په لار کښې معمولي تکليف تيرولو ته هم نه تياريږو. يقيناً بل به يو نبي هم نه راځي، اوس به مسلمانان د **نيکۍ د دعوت** دا عظيمُ الشّان فرض ادا کوي. قَسم په خدائے! نن د مسلمانانو حالت ډير خراب شوې دې. جُماتونه چه تش اووِينو نو زړه مو ډير زيات خفه شي، يوه عِبرَت ناکه واقعه واورئ:

## (۲) مَدَني قافلې جُمات آباد کړو

د يو اِسلامى ورور بيان دې، د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره د دعوتِ اسلامي والؤ عاشقانِ رسول د دولسو ورځو يوه **مَدَني قافِله** د بابُ المَدينه (کراچۍ) نه د پنجاب د يو ښار **سوهاوا** يو جُمات ته اورسيده. دروازې ته جندره [يعني تاله] لګيدلي وه. په څه طريقه مو کُنجي حاصله کړه، چه دروازه مو بيرته کړه نو هر يو ځيز په خاورو خړ پړ وو، داسې معلوميده چه د ډيرې مودې نه جُمات بند پروت وو. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه په شريکه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

صفائي اوکړه، **علاقائي دوره** مو اوکړه او د ښار خلقو ته مو د **نيکۍ دعوت** پيش کړو او جُمات ته د راتللو عرض مو ورته اوکړو. افسوس! زمونږ د اِخلاص د کمۍ په وجه يو کس هم زمونږ سره [جُمات ته] رانغلو، خو مونږ هِمَّت اونه بيلو، د **الله** عَزَّوَجَلَّ نوم مو واخستو او نِزدې د لوبو يو ميدان ته لاړو او په يره يره مو په لوبو کښې مشغول ځلمو هلکانو ته د **نيکۍ دعوت** پيش کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئي زړونه نرم شو، يو څو ځلمي **زمونږ سره يو ځائ** جُمات ته راغلل او زمونږ سره ئې د نمونځ کولو او د سُنَّتو نه ډکو بيانونو اوريدلو سعادت حاصل کړو، زمونږ په درخواست باندې هغوئي د دې جُمات د آبادَولو نِيَّت اوکړو. دا منظر ئې چه اوليدو نو هلته موجود تقريباً د اويا کالو يو سپين ږِيرې په ژړا شو او وئيل ئې: ما خو به خلقو ته د جُمات د آبادولو ډير وئيل خو زما چا منل؟ اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ نن د عاشقانِ رَسُول د مَدَني قافلې په بَرَکت زمونږه جُمات آباد شو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَی اللّٰه اَسْتَغْفِرُ اللّٰه
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۳) ۸۰ صحابه او لږ طعام

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي، حضرتِ سَيِّدُنا ابو طلحه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ (کور ته تشريف راوړو) او حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ سُلَيم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہا

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

ته ئې اوفرمائيل: ما د **خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم كمزورې آواز واوريدو چه د هغې نه زه د **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په لوږه پوهه شوم. آيا ستا سره (د خوراك) څه څيز شته دې؟ اُمِّ سُلَيم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا عرض اوكړو، آو. بيا هغې د وربشو د ډوډئ يو څو ټكړې را اوويستلې، خپله لوپټه ئې راواخسته، د هغې په يوه حِصّه كښې ئې ډوډئ اونغښته او هغه ئې زما د جامو لاندې پټه كړه او د لوپټې پاتې حِصّه ئې په ما (يعني سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ) راواچوله او بيا ئې زه د **نَبِيِّ اَكرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَتِ اَقدَس كښې اوليږلم. ما چه هغه ډوډئ وروره او حاضر شوم. نو ما اوليدل چه **حُضُورِ اَكرم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ډيرو خلقو د ګنړې سره په جُمات كښې تشريف فرما [يعني ناست] دي. زه هلته اودريدم نو **نَبِيِ كريم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د غيبو خبر وركړو او) او ئې فرمائيل: آيا ته ابو طلحه را ليږلې ئې؟ ما عرض اوكړو: آو جى. يا **رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم. اوئې فرمائيل: " آيا د خوراك د پاره؟" ما عرض اوكړو: جى يا رَسُولَ الله (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم). **د مديني تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابۀ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته اوفرمائيل: "راځئ." ټول حضرات را روان شو او زه د هغوئي نه مخكښې مخكښې روان شوم. تر دې چه زه د حضرتِ سَيِّدُنا ابو طلحه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ خوا ته راغلم او هغوئي مې د صورتِ حال نه خبر كړل. حضرتِ سَيِّدُنا ابو طلحه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: اے اُمِّ سُلَيم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا! **د مديني تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خلقو سره تشريف راوړي او زمونږ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِى)

سره څه نشته چه په هغوئي ټولو ئې اوخورو. حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ سُلَيم رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنها اووئيل: **اَللّٰهُ وَ رَسُوْلُهٗ اَعْلَم** يعني **الله** تعالىٰ او د هغه رسول صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښه پوهيږي. حضرتِ سَيِّدُنا ابو طلحه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ روان شو تر دې چه د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمَت كښ حاضر شو. **رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه سره كور ته تشريف راوړو. د **دواړو جهانو سردار** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے اُمِّ سُلَيم (رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنها)! څه چه ستا سره دي راوړه. هغوئي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنها هم هغه د ډوډئ (ټكړې) راوړې. د مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په حكم ډوډئ ما ته كړې شوه. بيا حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ سُلَيم رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنها په هغې باندې د غوړو د لوښې نه غوړي واچول. او هغه ئې د اِنكوَلې په ځائ استِعمال كړل. بيا سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هغې باندې چه څه **الله** عَزَّوَجَلَّ ته منظور وو اولوستل. بيا ئې اوفرمائيل: "لسو له د دننه راتلو اِجازَت وركړه." هغوئي [يعني ابوطلحه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ] لس كسان را اوبلل. هغوئي اوخوړله تر دې چه ماړه شو بيا بَهر اووتل. بيا ئې اوفرمائيل: "نور لس را اوبله." هغوئي لس را اوبلل. هغوئي ډوډئ اوخوړه او بَهر لاړل. بيا ئې اوفرمائيل: "نور لس را اوبله." تر دې چه ټول قوم طعام اوخوړو او ټول ښه ماړه شو. هغه قوم په **اويا** يا **اتيا** صحابه عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان مُشتمِل وو. (مُسلِم ج۲ ص۱۷۸ حديث۲۰٤۰) په **يو** روايت كښ دي، مسلسل به لس لس كسان دننه داخليدل او لس كسان به بَهر وَتل تر دې چه په هغوئي كښ يو هم

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرانِي)

داسې پاتې نه شو چه هغه دننه ډوډئ نه وي خوړلې. او ټول بنه ماړه شو. [بيا] **سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ډوډئ را يوځائ كړه نو هغه [ډوډئ] هم هغه هُمره وه څومره چه د خوراك نه مخكښ وه. په **يو** بل روايت كښ دي، لسو لسو صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان به طعام خوړلو تر دې چه اتيا صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان طعام اوخوړو. د هغې نه پس **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د كور كسانو ډوډئ اوخوړله او بيا هم خوراك **پاتې** شو. او په يو بل روايت كښ دا هم دي: "كوم خوراك چه پاتې شو هغه هغوئې ګاونډيانو ته وركړو." (صحيح مُسلِم ج۲ ص۱۷۸ حديث۲۰۴۰) دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بركت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! دا د **سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **مُعجِزه** وه چه په ظاهره لږه شان ډوډئ د ۸۰ صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د خوړلو باوُجود هم هغه هُمره پاتې شو. سُبْحٰنَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د مدينې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څومره ښكلې شان او عَظَمت دې چه پخپله به اوږې پاتې كيدو او په خپلو غُلامانو به ئې ډير ډير نِعمتونه خوړل. د هغوئې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِيمان تازه كوونكې مبارَك فرمان دې:

اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَّاللّٰهُ يُعْطِي

**يعني** الله عَزَّوَجَلَّ [ئې را ته] عطا كوي او زه ئې تقسيمَووم. (بُخاری ج۱ ص۳۰ حديث۷۱)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

ربّ ہے مُعطی یہ ہیں قاسِم رِزق اُس کا ہے کھلاتے یہ ہیں
ٹھنڈا ٹھنڈا میٹھا میٹھا پیتے ہم ہیں پِلاتے یہ ہیں
اُس کی بخشش اِن کا صَدقہ دیتا وہ ہے دلاتے یہ ہیں
اِنَّآ اَعْطَیْنٰکَ الْکَوْثَر ساری کثرت پاتے یہ ہیں
کہہ دو رضاؔ سے خوش ہو خوش رَہ
مُژدَہ رِضا کا سناتے یہ ہیں

**د اشعارو ترجمه:** (۱) **رَبّ** عَزَّوَجَلَّ دي ورکوونکي، **نَبِی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي تقسِيم کوونکي، رِزق د **الله** عَزَّوَجَلَّ دي تقسيموي ئې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (۲) يخي يخي خوږې اوبه مونږ ئې څښو، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې را باندې څښي (۳) **الله** عَزَّوَجَلَّ د **نَبِی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر بخښنه کوي، ورکوونکي **الله** عَزَّوَجَلَّ دي **نَبِی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ئې ترې زمونږ د پاره غواړي (٤) اِنَّآ اَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَر **نَبِی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته **الله** عَزَّوَجَلَّ بيشماره نعمتونه ورکړي دي (٥) اوواية رضا ته، خوشحاله شه او خوشحاله اوسه، زيرې د رِضا اوروونکي هغوئيصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي!

## (٤) ډير غټ مهي

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابو عَبدُالله جابِر بن عَبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا فرمائي، حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږه (درې سوه کسان) د قُريشو د مُقابَلې د پاره اوليږلو او حضرتِ سَيِّدُنا **ابوعُبَيده** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ئې زمونږ سپه سالار [قُمندان] مُقَرَّر کړو او مونږ ته ئې د کجورو يوه بوړئ د لارې د خوراك د پاره راکړه. حضرتِ سَيِّدُنا ابوعُبَيده رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به مونږ ته (هره ورځ) يوه يوه **کجوره** راکوله. تپوس ترې اوکړې شو، تاسو حضراتو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان به

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې یو ځل دُرُود شریف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را لیږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نیکۍ لیکي. (تِرمِذی)

په یوه کجوره څنګه ګزاره کوله؟ اوئې فرمائیل: مونږ به هغه چوپله لکه څنګه چه ماشوم چوپل کوي او د پاسه به هم پرې اوبه اوڅښلې. نو هغه [کجوره] به د هغه ورځې او شپې پورې زمونږ د پاره کافي شوه. مونږه به په خپلو نیزو باندې د وَنو پاڼړې (کومې چه اوښان خوري) راڅنډلې او هغه به مو په اوبو کښې پستې [یعني لمدې] کړې او خوړلې به مو. فرمائي، مونږ د **سمندر په غاړه** تیریدو چه (د لرې نه) مو د سمندر په غاړه د شګې د غټ خټ په شان یو څیز اولیدو. مونږ چه نِزدې ورغلو نو اومو لیدو چه هغه یو (مړ) ځناور دې چه عنبر (مهې) ورته وائي. حضرتِ سَیِّدُنا ابوعُبَیده رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوفرمائیل: دا مُردار دې. بیا ئې پخپله اوفرمائیل: نه بلکه مونږه **رَسُولُ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را لیږلي یو او مونږ د **الله** عَزَّوَجَلَّ په لار کښې (د کورونو نه وَتلي) یو او تاسو حضرات عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان په اِضطِراري [یعني د مجبورۍ په] حالَت کښې ئې، ځکه (دا) اوخورئ. مونږه یوه میاشت په هغې ګزاره اوکړه او مونږه درې سوه کسان وو، تر دې چه مونږه څاربه شو، ما ته یاد دي چه مونږ به د هغه [مهې] د سترګې د حلقې [یعني دننه] نه د وازګو منګې ډکول. او مونږ به د هغې مهې نه د غوئې هُمره غټې ټکړې راکټ کولې. (د هغه مهې د سترګې حلقه دومره غټه وه چه) حضرتِ سَیِّدُنا ابوعُبَیده رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په مونږ کښې دیارلس کسان د هغه د سترګې په حلقه کښې کښېنول (نو ټول پکښې راځائ شو) د هغه یوه پُښتۍ مو اونیوله او د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

کمان په شان مو اودروله بیا مو په یو غټ اوبښ باندې کجاوه اوتړله او هغه د هغې (پښتۍ د کمان) نه لاندې تیر شو. او مونږه د هغې د غوښې اوچې ټُکرې د لارې د خوراك د پاره د ځان سره واخستې. چه کله مونږه مَدِینې مُنَوَّرې ته اورسیدو نو د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَت کښې حاضر شو او هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته مو د هغې ذِکر اوکړو. نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: "هغه رزق وو چه اللّٰه تَعَالٰی ستاسو د پاره پیدا کړې وو. آیا ستاسو سره په هغه غوښه کښې څه شته؟ (که وي نو) په مونږه ئې هم اوخورئ." مونږ د حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَت کښې د هغه (مهي) غوښه ور اولیږله نو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوخوړله. (صحیح مُسلِم ج۲ ص۱۴۸ حدیث ۱۹۳۵) دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۵) اَمِینُ الْاُمَّة

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د صحابهٔ کِرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان د جوش او جَذبو نه قُربان! داسې تنګدستي چه هره ورځ به ئې صِرف یوه کجوره او د وَنو پاڼې خوړلې او د الله عَزَّوَجَلَّ په لار کښې به د دُښمنانو سره جَنګیدل او خپل ځانونه به ئې قربانول. اوس چه کوم حکایت تاسو اوکتلو د دې مُهِم نوم سَیفُ البَحر دې، دې ته "جَیشُ الۡعُسرَة" هم وائي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

د درې سوه جانبازو [يعني ځان قربانوونكو] سپه سالار [يعني كمانډر] حضرتِ سَيِّدُنا ابوعُبَيده بِن **جَرَّاح** رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په "**عَشَرهٔ مُبَشَّرَه**" كښې يو وو. د بارګاهِ رِسالَت نه هغوئي ته د "**اَمِينُ الْاُمَّة**" (يعني د اُمَّت امانتدار) بُښكلې لقب عطا شوې وو. هغوئي د اِسلام په شروع كښې د حضرتِ سَيِّدُنا ابوبَكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ په **اِنفِرادي كوشش** مُسلمان شوې وو. ډير زيات زړَوَر، بَهادُر او اوچتې وَنې والا وو او په مخ مُبارَك ئې غوښه كمه وه. د **غَزوهٔ اُحُد** په موقع باندې د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخ مُبارَك كښې د اوسپنې د خولۍ [يعني د فولادي ټوپۍ] دوه كړئ ننوتي وې، هغوئي په خپلو غاښونو هغه راښكلې او را اوئې ويستلې په دې وجه د هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ **مخامخ** دوه غاښونه شهيدان شوي وو. (اَلاِصابه ج٣ ص٤٧٦)

**دَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د **جَيشُ العُسرَه** په موقع باندې **ډير غټ مهې** په لاس راتلل. د يوې مياشتې پورې د صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان هغه خوړل، په اوښانو باندې ئې د ځان سره راوړل، مَدينې مُنَوَّرې ته ئې هم د ځان سره راوړل، د مهې د غوښې په خوَند كښې څه فرق نه راتلل دا ټول د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په رَحمَت د حضرتِ سَيِّدُنا ابو عُبَيده بِن

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نیزدې هغه وي چا چه په دُنیا کښې په ما باندې زیات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

جَرَّاح رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ او د صحابهٔ کِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان بَرَکتونه او کَرامتونه وو. د **اللہ** عَزَّوَجَلَّ په لار کښې چه څوك هم سفر کوي، په هغه باندې د **اللہ** عَزَّوَجَلَّ بې شمیره رَحمتونه وَریږي، په مُصیبَتُونو کښې ورته هم عَظمَتونه حاصلیږي، او راحتونه خو بیا دي راحتونه. هر مُسلمان ته د صحابهٔ کِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان د دې عظیمو قُربانو نه **درس** حاصلول پکار دي او د اِسلام د خِدمَت د پاره هر وخت تیار اوسیدل پکار دي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبلیغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریك **دعوتِ اِسلامي** د هر کس دا مَدَني مَقصد دې چه "**ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي**" د دې مَدَنی مقصد حاصلولو د پاره د عاشِقانِ رَسُول **مَدَنی قافِلې** د **سُنَّتو** د تربِیَّت د پاره ښار په ښار او کلي په کلي سفر کوي، هر مُسلمان ته پکار دي چه د مَدَنی قافِلې مُسافِر جوړ شي او د دې بَرَکتونه حاصل کړي. د **اللہ** عَزَّوَجَلَّ په لار کښې په سفر د وَتلو پاکو خلقو د **ډیر غټ مهم** په ذریعه د غَیبي اِمداد حِکایت تاسو اوس واوریدو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ نَن هم چه څوك په اِخلاص سره د اِسلام د خِدمَت په جذبه د کورونو نه اوځي هغوئي محرومه نه پاتې کیږي. راځئ چه د دعوتِ اسلامي د **مَدَنی قافِلې** یو مَدَني سپرلي واورو.

تُوبُوا اِلَی اللہ اَسْتَغْفِرُ اللہ

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

## (٦) د زړه مريض جوړ شو

د **بابُ المَدينه** کراچۍ يو اِسلامي ورور ته د زړه تکليف پيښ شو، ډاکټرانو ورته اووئيل چه ستا د زړه دوه والونه بند دي. اَیْنْجِیُوْ گرافی اوکړه. په عِلاج باندې ئې په زرګاؤ روپۍ خرچه راتله، هغه بې وَسه غريب ډير پريدلې وو، يو اِسلامي ورور پرې **اِنفِرادی کوشِش** اوکړو او د **دعوتِ اِسلامي** د **سُنَّتو** د تربِيَّت په مَدَنی قافِله کښې د سفر کولو او هلته د دُعا غوښتلو ترغيب ئې ورکړو، چنانچه هغه د درې ورځو د پاره د مَدَنی قافِلې مُسافِر جوړ شو، چه بيرته راغلو نو خپل طَبِيعَت ورته ښه ښکاره شو. چه کله ئې ټسټونه اوکړل نو ټول رپوټونه ئې صحيح راغلل، ډاکټر چه اوکتل چه د هغه د زړه دواړه والونه خلاص شوي دي نو ډير حيران شو او تپوس ئې ترې اوکړو چه، آخِر دا ته څنګه جوړ شوې؟ جواب ئې ورکړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ **د دعوتِ اِسلامي په مَدَنی قافِله کښې د سفر کولو او هلته د دُعا کولو په بَرَکت زه د زړه د خطرناك مَرَض نه خلاص شوم.**

لوٹنے رَحمتیں قافِلے میں چلو　　سیکھنے سُنّتیں قافلے میں چلو
دل میں گر دَرْد ہو ڈر سے رُخ زَرْد ہو
پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

د رحمتونو ګټلو د پاره قافِلو کښې لاړ شئ　　د سُنّتونو زده کولو د پاره قافِلو کښې لاړ شئ
که په زړه مو وي درد، هم د يرې مخ زرد　　خوشحالۍ به مومئ قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

## (٧) يَحۡيىٰ عَلَيۡهِ السَّلَام او شيطان

**منقول** دي چه، حضرتِ سَيِّدُنا **يَحۡيٰى** عَلَيۡهِ السَّلَام يو ځل د شيطان سره ډير جالونه اوليدل نو تپوس ئې ترې اوکړو، دا څه دي؟ هغه جواب ورکړو، دا د **شهوتونو جالونه** دي او په دې کښې زه د اِنسانانو ښکار کووم. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام ترې تپوس اوکړو، آيا زما د نښلَوَلو د پاره هم په دې کښې څه جال شته دې؟ هغه اووئيل: "نه، خو صِرف يوه شپه تاسو (عَلَيۡهِ السَّلَام) ځان په طعام ښه موړ کړې وو، نو ما په هغه شپه تاسو (عَلَيۡهِ السَّلَام) ته نمونځ سخت کړې وو." حضرتِ سَيِّدُنا يَحۡيٰى عَلَيۡهِ السَّلَام چه دا واوريدل نو اوئې فرمائيل: "قَسم په خدائے! آينده به زه کله هم په مړه خيټه خوراك نه کووم." شيطان اووئيل: "زه به هم د آينده د پاره چا ته داسې (د فائدې) خبره نه ښايم." (مِنهَاجُ العَابِدِين ص٩٣) دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## عبادت کله خوَند کوي

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د دې حِکايَت نقل کولو نه پس **حُجَّةُ الاِسلام** حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالى رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي: "دا د هغه معصومې هستۍ حال دې چا چه په ژوند کښې صرف يو ځل ځان موړ کړې وو، نو د هغه به څه حال وي چا چه په ټول عمر کښې صِرف يو

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

ځل (او هغه هم د څه مجبورئ په وجه) ځان اوږې ساتلې وي نو آیا داسي کس د عبادت د خوَند اُمِّید لرلې شي؟ په **مړه خیټه** خوراك کولو سره په عِبادَت کښې کمې راځي. ځکه چه اِنسان کله ښه په مړه خیټه خوراك اوکړي نو د هغه بدن درونډ شي، خوب ورله ورځي، او بدن ئې ناراسته شي، د کوشِش کولو باوُجود څه کار نه شي کولې، هر وخت په زمکه د مړي په شان پروت وي، [هوښیاران] وائي: ”چه کله ته **خیټه** شې نو بیا خپل ځان په زنځیرونو تړلې اوګڼړه.“ حضرتِ سَیِّدُنا **ابو سُلیمان داراني** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”زه په عِبادت کښې زیات خوږ والې هغه وخت محسوسووم کله چه د لوږې په وجه زما خیټه د ملا سره لګیدلې وي.“ (مِنهَاجُ العابِدِین ص۹۳) دَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۸) پيئ ئې بیرته اوګرځول!

**یو** ځل د اَمِیرُ الْمُؤمِنین حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ غلام د هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ په خِدمَت کښې **پيئ** [یعني شوده] راوړل. هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ هغه اوڅښل. غلام عرض اوکړو چه، ما به چه کله هم مخکښې تاسو ته څه څیز وړاندې کولو نو تاسو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ به د هغې مُتَعَلِّق پوښتنه کوله خو د دې **شودو** مُتَعَلِّق تاسو هیڅ تپوس اونه

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

كړو؟ دا ئې چه واوريدل نو هغوئې رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ترې تپوس اوكړو، دا شوده څنګه وو؟ غلام جواب وركړو چه ما د جاهِلِيَّت په زمانه كښې په يو بيمار **مَنتر** پوكلې وو، د هغې په بدل كښې نن هغه دا **پئ** راكړل. حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ چه دا واوريدل نو خپل حلق ته ئې ګوته كړه او **پئ** ئې **بيرته را اوګرځول** [يعني اُلتئ كړل]. د هغې نه پس ئې په ډيره عاجزئ د **الله** عَزَّوَجَلَّ په دربار كښې عرض اوكړو: "**يا الله** عَزَّوَجَلَّ! په څه چه زه قادِر ووم هغه ما اوكړل. د دې [شودو] چه څه لږه ډيره حِصّه په رګونو كښې پاتې شوې ده هغه [راته] مُعاف كړې." (مِنهَاجُ العَابِدِين ص ٩٧) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي وروڼړو! تاسو اوليده! حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ څومره زبردست مُتَّقي وو. كُفّار اكثر كُفرِيّه كلِمات لولې او په مريضانو ئې پوكې. د جاهِلِيَّت په دور كښې به هم داسې كيدل، ولې چه هغه غلام د جاهِلِيَّت په زمانه كښې [مريض] دَم كړې وو، لِهٰذا د دې يَرې په وجه چه هغه به[مريض] په كُفرِيّه مَنتر لوستلو دَم كړې وو د هغې د اُجرَت پئ حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بيرته اوګرځول.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات كنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

يقيناً منبعِ خوفِ خُدا صِدّيقِ اكبر ہیں
حقيقى عاشقِ خيرُ الوَرىٰ صِدّيقِ اكبر ہیں
نہايت متّقى و پارسا صِدّيقِ اكبر ہیں
تَقى ہیں بلكه شاہِ اَتقيا صِدّيقِ اكبر ہیں

د اشعارو ترجمه: (۱) يقيناً حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدّيق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د الله عَزَّوَجَلَّ د يرې پيكر او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حقيقي عاشق دې. (۲) حضرتِ سَيِّدُنا ابوبكر صِدّيق رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ډير زيات پرهيزګار او نيك دې، تَقي بلكه د تقوىٰ دارو بادشاه دې.

## (۹) په سكرو سره كړې شوې چيلۍ

حضرتِ سَيِّدُنا اَبوهُريره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د يو څو كسانو په خوا تيريدلو، د هغوئي مخې ته سره كړې چيلۍ پرته وه، هغه خلقو هغوئي [رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ] ته په خوراك كښې د شامليدو درخواست اوكړو نو هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ د خوراك كولو نه انكار اوكړو او اوئې وئيل چه حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په داسې حال كښې د دُنيا نه رُخصَت شو چه هغوئي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كله د وربشو په ډوډئ هم ځان نه وو موړ كړې. (صحيح بُخارى ج٦ ص٢٥٢ حديث ٥٤١٤)

د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خدايا ميں عمده غذائيں نه كھاؤں
غمِ مصطفٰے ميں بس آنسو بہاؤں

اے خدايا! چه اونه كړم خوندَور زه خوراكونه
بس په غم د مُصطفٰى كښې چه زه اوښكې بهيوومه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

# په سكرو پوخ شوې ورون

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! يو طرف ته خو د حضرتِ سَيِّدُنا ابوهُريره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ غَمِ مُصطفٰى (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) وو چه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لوَږه مُبارَكه ئې ياده كړه او د **سرې كړې چيلئ** د خوراك نه ئې اِنكار اوفرمائيلو. او آه! بل طرف ته مونږ "د نوم عاشِقان" يُو چه كه په سكرو پخه شوې چيلئ بلكه **په سكرو پخ شوې** [د چيلئ] **ورون** مخې ته راشي نو عِشق او مَستي ټوله هيره كړو او د اوږې زمرې په شان پرې ورغوټه شو او په دواړو لاسو شُوكولو او خوړلو كښې داسې مشغوله شو چه شايَد د جَمعې نمونځ هم را نه هير شي. آه! نن صبا په اكثرو دَعوَتونو كښې هم داسې كيږي. تر دې چه كه په بُزُرګانو پسې د نِياز [يعني د خيرات] د دَعوت په شان نَفلي كار هم كوي نو **مَعَاذَاللّٰه** [يعني د الله پناه] اكثر نمونځ ګزاره د خوراك د حِرص په وجه د جَمعې نمونځ پريږدي. **مَدَني عرض** كووم چه كله هم څه ميلمستيا [وغيره] كوئ نو د دې خبرې خيال ساتئ چه يو نمونځ ئې هم په مينځ كښې نه راځي. او كه چرې [پكښې د نمانځه وخت] راشي نو بيا كه هر څومره مَصرُوفِيَّت وي هر څه پريږدئ او فَوراً مَيلمانه او كوربه ټول جُمات ته روانيږئ. تر څو چه څه شرعِي **مجبورى** نه وي نو د هغه وخته پورې د جُمات په وړومبئ جمع كښې شامليدل واجِب دي كه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

په كور كښې چا د جَمعې نمونځ اوكړو نو هم د واجِب پرېښودو ګناه به ئې په سر پاتې وي. بلكه د ځيني فُقهائے كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی په نِزد د اِقامت نه مخكښې جُمات ته نه راتلو والا ګنهګار دې.

## په كُفر د خاتمې يره

د **روژه ماتي** د ميلمستيا او نورو د ميلمستيا د دعوتونو، د نِيازونو [يعني په بزرګانو پسې د خيراتونو] او د نَعت خوانئ وغيره په وجه په جُمات كښې د فرض نمونځونو اولنئ جمع د پرېښودلو هيڅ كله اِجازت نشته. تر دې چه كوم خلق په كور، هال يا په بنګله وغيره كښې د تراوِيح جَمع كوي او نِزدې جُمات موجود وي نو په هغوئې واجِب دي چه اَوَّل فرض نمونځ د وړومبئ جمعې سره په جُمات كښې ادا كړي. كوم خلق چه بغير د څه شرعي عُذر نه د قدرت لرلو باوُجود فرض نمونځ په جُمات كښې د اولنئ جمعې سره نه ادا كوي هغوئې له يريدل پكار دي، ځكه چه حضرتِ سَيِّدُنا عَبدُالله بِن مَسعود رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: ”څوك چه دا خوښوي چه صبا د **الله** عَزَّوَجَلَّ سره [د] مسلمان [كيدو په حالت كښې] مُلاقات اوكړي نو هغه دِ په دې پينځَو نمونځونو (د جَمعې سره) هلته پابندي كوي كوم ځائ چه اذان كيږي ځكه چه **الله** عَزَّوَجَلَّ ستاسو د نَبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره سُنَنِ هُدٰی مشروع كړل او دا (د جَمعې) نمونځونه هم د سُنَنِ هُدٰی نه دي او كه تاسو په خپلو كورونو كښې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

نمونځ کوئ څنګه چه دا وروستو پاتي کيدونکي په کور کښې [نمونځ] کوي نو تاسو به د خپل نَبِي (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) سُنَّت پرېږدئ او که چرې د خپل نَبِــی سُنَّت پرېږدئ نو ګمراه به شئ.“

(مُسلِم شريف ج۱ ص ۲۳۲ حديث ۲۵۷)

د دې روايت نه اِشاره حاصليږي چه د وړومبئ جَمعې پابندي کولو والا **خاتِمه** به په **خَير** کيږي او څوك چه بغير د شرعي **مجبورئ** نه د جُمات وړومبئ جَمع پرېږدي د هغه مَعَاذَالله **په کُفر د خاتِمې يره ده.** کوم خلق چه صرف د سُستئ په وجه پوره جَمعه نه حاصلوي هغوئي دِ تَوَجُّه اوکړي چه اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ”په بَحرُالرَّائق کښې دي، په قنيه کښې دي چه، که اذان واوري او (جُمات ته) د داخليدو د پاره د اِقامَت اِنتِظار کوي نو ګنهګار به وي.“ (فتاوٰی رضويه ج۷ ص۱۰۲، البَحرُالرَّائق ج۱ ص۶۰٤) د فتاوٰی رضويه شريف په هم هغه صفحه کښې دي: ”څوك چه اذان واوري او په کور کښې د اِقامَت اِنتِظار کوي د هغه ګواهي نه قبليږي.“ (البَحرُالرَّائق ج۱ ص٤٥۱)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! څوك چه د اِقامِتَه پورې جُمات ته رانه شي د څيني فُقهائے کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِم په نِزد هغه ګنهګار او مَردُوْدُا لشَّهادَت يعني د ګواهئ لائق نه دې نو څوك چه بغير د عُذره په کور کښې جمع کوي يا بغير د جَمعې نه نمونځ کوي يا مَعَاذَالله د سره نمونځ نه کوي د هغه به څه حال وي!

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (كَنْزُالْعُمَّال)

يا رَبِّ مُصطفٰی! (عَزَّوَجَلَّ) مونږ ته د پينځَه واړه نمونځونو په جُمات کښې د اولنئ جَمعې سره په اَولني صف کښې د تڪبيرِ اولٰی سره د ادا کولو هميشه سعادت رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت
ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی عزوجل

د شعر ترجمه: چه په جَمع کووم پينځه نمونځونه، داسې توفيق راعطا کړې يا اِلٰهی!

## (۱۰) رِقَّت اَنګيزه خُطبَه

حضرتِ سَيِّدُنا خالِد بِن عُمَير عَدَوِی رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي، چه د بَصرې حاڪِم حضرتِ سَيِّدُنا عُتبَه بِن غَزْوان رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ په يوه موقع باندې مونږ ته داسې **خطبه** اوفرمائيله. د **الله** تَعالٰی د حمد و ثنا نه پس ئې اوفرمائيل: **اَمَّابعد!** (يعني د دې نه پس) بيشکه **دُنيا** د خپلې خاتمې اِعلان کړې دې او هغه په ډيره تيزئ سره رُخصتيږي. او (اوس) دا دُنيا دومره قدرې پاتې ده. څومره چه د لوښې په ويخ کښې **لَهې** باقې پاتې وي. او د دې (لوښې) مالِك د دې (لَهې) نه فائده حاصلوي. تاسو د دې دُنيا نه هغه کور ته بدليدو والا ئې چه د هغې ختميدل نشته. په دې وجه ستاسو سره چه کوم د تولو نه بهتر څيز دې هغه د ځان سره واخلئ او د (آخِرت) کور ته لاړ شئ. مونږ ته دا وئيلې شوې دې چه: "د **جَهَنَّم** د غاړې نه به يو کاڼړې اوغورزولې شي چه د **اوياؤ کالو** پورې به ښکته

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

روان وي. خو د هغې باوُجود به هغه د جَهَنَّم ويخ ته نه رسي." او قَسم په خدائے! هغه جَهَنَّم به ضرور ډکولې شي. آيا تاسو په دې حيران ئې؟ او مونږ ته دا هم بيان شوي دي، چه د "**جَنَّت** د دروازو د دوو درشلو په مينځ کښې به د **څلويښتو کالو** مزل وي. په هغې به يوه ورځ ضرور داسې راځي چه هغه به د ګڼړې په وجه ډکې شي." ما خپل ځان اوليدو چه زه د **سرورِ کائِنات** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په ووه کسانو کښې ووم اوم. زمونږ سره د وَنو د **پاڼړو** نه سِوا د خوراك د پاره هيڅ هم نه وو. تر دې چه (د پاڼړو خوړلو په وجه) زمونږ د شونډو وَښکي زخمي شوي وو. ما يو څادر حاصل کړو او هغه مې (په مينځ اوشلَووا او) د ځان او د **سَعد** بِن مالك (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ) په مينځ کښې مې تقسيم کړو، نيم څادر د تِهه بند [يعني د لَنګ] د پاره ما اِستِعمال کړو او نيم سعد بِن مالك (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ) [اِستِعمال کړو]. (يو خو هغه د غريبۍ دور وو) او نن په مونږ کښې هر يو د يو نه يو ښار حاکِم دې. زه د دې خبرې نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ پناه غواړم چه زه خو (د خوش فَهمۍ په وجه) خپل ځان عظيم [يعني لوئي] اوګڼړم خو د خُدائے عَزَّوَجَلَّ په نِزد زه ډير حقير [يعني سپك] اوګڼړلې شم. (مُسلم ج۲ ص۴۰۸ حديث ۲۹۶۷) **دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هير كړل هغه دَجنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! تاسو اوليدل! صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د نيكئ د دعوت عام كولو د پاره څومره لوَږې برداشت كړي دي تر دې چه د وَنو پاڼې ئې اوخوړې او په ډيرو سختو برداشت كولو ئې اِسلام خور كړې دې. واقِعِي چه د هغه وَخت حالات ډير زيات خراب وو څنګه چه د يو بل روايت نه ظاهريږي. چنانچه

## (۱۱) د الله په لار كښې ئې د تږولو نه وړومبې غشي اوويشتو

د عَشَرهٔ مُبَشَّره نه يو جَنَّتي صحابی حضرتِ سَيِّدُنا **سَعد** بِن ابی وقّاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: زه هغه وړومبې عرب يم چا چه د الله عَزَّوَجَلَّ په لار كښې دَ ټولو نه وړومبې **غشي** ويشتلي وو. مونږ د حُضُورِ اَكرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مَلګرتيا كښې جِهاد كولو او زمونږ سره به د كِيكر د وَنې د پاڼو نه سِوا د خوراك د پاره نور هيڅ نه وو. د قضائے حاجت په وخت كښې به زمونږه اِجابت [يعني اودس ماتې] د چيلئ د بچو په شان وو او په هغې باندې به د ليسدار مادّې [يعني د غوړوالي] څه نوم او نښه هم نه وه. (بُخاری ج۷ ص۲۳۱ حديث ٦٤٥٣) دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! بيا د آسانئ راتلو نه پس هم د هغه صحابهٔ كِرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان جَذبه هدو كمه نه شوه بلكه [په زړونو كښې ئې] د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

خُدائے عَزَّوَجَلَّ یره نوره هم زیاته شوه چه چرې داسې اونه شي چه مونږه خپل ځانونه بُزُرګ اوګڼړو او **الله** عَزَّوَجَلَّ زمونږ نه ناراضه شي. **اَللهُ** رَبُّ الۡعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ مونږ ته هم د صحابۀ کِرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان په خاطر د نیکۍ د **دعوت** عام کولو درد او د دې د پاره د قربانۍ ورکولو جَذبه راکړي. اٰمین.

هر اِسلامي ورور ته پکار دي چه هغه دِ خپل دا ذِهن جوړ کړي چه **ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي** او د صحابۀ کِرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لار کښې قربانو ته د ستائنې کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِیّت په **مَدَني قافِلو** کښې د سفر کولو سعادت حاصِل کړي او د دِین و دُنیا بَرَکتونه حاصِل کړي.

ستاسو په خِدمت کښې د مَدَني قافِلې یو **مَدَني سپرلې** پیش کووم،

## (۱۲) د لاس زَخمي

د ټنډو آدَم (سندھ، پاکستان) د یو اسلامي ورور بیان دې. چه زه تقریباً د دوو کالو نه د لاسونو د زَخمو په وجه پریشانه ووم. په علاج مې ډیر رقم خرچ کړو، یو ځل مې آپریشن هم اوکړو خو زَخمي نورې هم زیاتي شوې، زه یَریدم چه شاید زَخمې به مې **کینسَر** شي او لاس به مې کټ کړې شي. **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ د تبلیغ قرآن و سُنَّت د عالَمګیر غیر سیاسي تحریک **دعوتِ اسلامي** د صوبائي مَجلِسِ مُشاوَرت (بلوچستان) همیشه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

سلامت لرې. اٰمين. هغوئې د صوبې په سطح باندې په **كوئټه** كښې د دوو ورځو د سُنَّتو نه ډكه اِجتِماع (۲۷/۲۸ جُمادَی الاُوْلٰی ۱٤۲۵ھ) كوله. زما خوش قِسمتي وه چه زه هم د سُنَّتو نه ډكه **اِجتِماع** كښې شريك شوم. د **دعوتِ اسلامي** بيشميره **مَدَنی قافِلې** د دُنيا په مُختلفو ملكونو كښې هر وخت په سفر وې او كلي په كلي، ښار په ښار د نيكئ دعوت خورَوي، ما اَوريدلي وو چه په **مَدَنی قافِلو** كښې د سفر كوونكو دُعاګانې قبليږي، ما هم هِمَّت اوكړو او د كوئټې نه د دعوتِ اِسلامی د سُنَّتو د تَربِيَّت د **دولسو ورځو د مَدَنی قافِلې** مُسافِر جوړ شوم. د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه كښې مې د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وَسِيله پيش كړه او په ډيره عاجِزئ مې په ژړا ژړا دُعا اوكړه. په ما ګنهګار باندې كرم اوشو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ **زما ټولې زَخمې اورېژيدې، او د حيرانتيا خبره دا ده چه د كومو زَخمو مې آپريشن كړې وو د هغې نښې پاتې دې خو د دولسو ورځو په مَدَنی قافِله د رېژيدلو زَخو نښې هم وركې شوې دې!** اَلْحَمْدُلِلّٰه عَلٰی اِحْسَانِهٖ وَ كَرَمِهٖ۔

لوٹنے رَحمتیں قافلے میں چلو ۔۔۔ سیکھنے سُنّتیں قافلے میں چلو
زخم بگڑے بھریں پھوڑے پُھنسی مِٹیں ۔۔۔ گر ہوں مسّے جھڑیں قافلے میں چلو

د اشعارو ترجمه: (۱) د رحمتونو ګټلو او د سُنَّتو د زده كولو د پاره په قافِلو كښې لاړ شئ (۲) كه زَخم مو خراب شوې وې، ښه به شي، كه دانې دربانديې راختلي وي نو ختمې به شي، كه زَخمې وې نو اوبه رېژيږي په قافِلو كښې لاړ شئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ۔۔۔ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! سَرکارِ **بَغداد** حُضُورِ غوثِ پاك [پیرانِ پیر صاحِب] رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د نَفس و شیطان نه د ځان خلاصولو د پاره ډېر کلونه کوشش کړې وو او د **الله** عَزَّوَجَلَّ د رِضا حاصلوَلو د پاره ئې د **پینځه وِیشتو** کالو پورې د عراق شریف په ځنګلو کښې یواځې ریاضتونه او عبادتونه کولو.

تُو ہے وہ غوث کہ ہر غوث ہے شَیدا تیرا
تُو ہے وہ غَیث کہ ہر غَیث ہے پیاسا تیرا

## (۱۳) په يخه شپه کښې څلويښت ځله غُسل

په بَهجَةُ الْاَسرار شریف کښې دي، سَرکارِ **بَغداد** حُضُورِ غوثِ پاك [پیرانِ پیر صاحِب] رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د کَرخ په ځنګلو کښې په کلونو اوسیدم، **ما به د وَنو په پاڼړو او بوټو باندې ګزاره کوله**. زما د اغوستلو د پاره به هر کال یو کس ما له د وړېئ یوه جُبَّه راوړله. ما د دُنیا د مُحَبَّت نه د ځان خلاصولو د پاره بیشمیره کوششونه اوکړل، زه ورك اوسیدم. **زما** د **خاموشئ** په وجه به خلقو ماته ګونګا، او دیوانه وئیلو، په غنو [یعني اَزغو] باندې به بنپې اَبله بنپې ګرځیدم، خوفناکو غارونو او خطرناکو ناؤونو ته به بې یَرې داخِلیدَم، دُنیا به ځان بُښکلې کړو او زما مخې ته به راغله خو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ، ما به هغې ته نه کتل، زما نَفس به کله ما ته عاجِزي کوله چه څه ستاسو خوښه وي

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

هغه به کووم او کله به ئې راسره جنګ کولو. **الله** عَزَّوَجَلَّ به د هغه خلاف ما ته فَتح راکوله. زه په مودو مودو د "مَدیَن" په بيابانونو [يعني شَړو] کښې اوسيدم او خپل نفس به مې په **مُجاهِداتو** [يعني سختئ برداشت کولو] کښې اچولې وو. **د يو کال پورې به مې په زمکه غورزيدلي او هسې پراته ځيزونه خوړل. او اوبه به مې بالکل نه څښلې، بيا به مې يو کال صِرف په اوبو ګزاره کوله او غورزولي شوي ځيزونه يا بل څه خوراك به مې نه کولو، بيا به مې يو کال بغير د څه خوراك څښاك نه په لوَږه او تنده کښې تيرولو.** په ما به سخت ازميښتونه راتلل. يو ځل په سخته يخنئ کښې زما داسې اِمتِحان واخستې شو چه په ساعت به مې سترګې لګيدلې [يعني اوده کيدم به] او غُسل به راباندې فرض کيدو. زه به فوراً نهَر ته تلم او غُسل به مې کولو، دغه شان د هغه سختې يخنئ په يوه شپه کښې ما څلويښت ځله په يخو اوبو غُسل اوکړو. (بِتَغَيُّرٍ اَز بَهجَةُ الاَسرار ص ١٦٤، ١٦٥) دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (١٤) د زمکې نه ټکړې راټولول او خوړل

سَرکارِ بَغداد حُضُورِ غوثِ پاك [پيرانِ پير صاحِب] رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ما به چه کله په ښار کښې د خوراك په اِراده څه پريوتي ځيزونه يا د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

ځنګل څه وابنه يا پاڼړې را اوچتول غوښتل او اوبه مې ليدل چه نور فقيران هم د دې په لټون كښې دي. نو ما به د خپلو اِسلامي ورونړو د پاره اِيثار كولو او هغه به مې نه را اوچتول، او پريښودل به مې چه هغوئي ئې اوچت كړي او پخپله به اوږې پاتې شوم. چه كله مې د **لوَږې** په وجه كمزوري ډيره زياته شوه او زه مرګ ته نِزدې شوم نو د ګلونو والا په بازار كښې مې په زمكه پروت يو څيز را اوچت كړو او يو ګوَټ ته لاړم او د هغې د خوړلو د پاره كښيناستم. په دې كښې يو **عَجَمِي** ځلمې راغې، د هغه سره تازه ډوډئ او سره كړې غوښه وه هغه هم كښيناستو او خوراك ئې شروع كړو. هغه ته مې چه اوكتلو نو زما د خوراك خواهِش ډير زيات شو، كله به چه هغه د خوړلو د پاره نوړئ راپورته كړه نو د لوَږې د بې صبرئ په وجه به بې اِختياره ما په زړه كښې وئيل چه هغه دا نوَړئ زما په خُله كښې راكړي. آخِر ما خپل نَفس اورټلو چه "بې صبرى مه كوه، **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ زما سره دې. كه هر څه اوشي خو زه به د دې ځلمي نه خوراك اونه غواړم." ناڅاپه هغه ځلمې زما طرف ته مُتَوَجِّه شو او راته ئې اووئيل: وروره! راځئ زما سره ډوډئ اوخورئ، ما اِنكار اوكړو. هغه ډير كلك سَت اوكړو، زما نَفس زما زړه د خوراك د پاره ډير را اوپارولو خو ما بيا هم اِنكار اوكړو. خو د هغه ځلمي په مسلسل سَت كولو ما لږ شان خوراك اوكړو. هغه زما نه تپوس اوكړو، د كوم ځائ اوسيدونكې ئې؟ ما

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

اووئيل: د **جِيلان**. هغه اووئيل: زه هم د جِيلان يم. ښه دا راته اووايه چه ته د مشهور عابِد و زاهِد او وَلِـيُّ الله حضرتِ سَيِّد **عبدُالله صومعي** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه نمسي (يعني د لور ځوئ) **عبدُالقادِر** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه پيژنې؟ ما ورته اووئيل: چه هغه خو زه يم. دا ئې چه واوريدل نو هغه بې قراره شو او اوئې وئيل: "زه چه **بَغداد** ته راتلم نو ستاسو مور بي بي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡهَا ستاسو د پاره ماله د سرو زرو اَته اشرفۍ راکړې وې، زه دلته **بَغداد** ته راغلم ستاسو ډير تپوسونه مې اوکړل خو چا ستاسو رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه څه دَرَك رانه کړو تر دې چه زما ټول رقم خرچ شو، زه د درې ورځو نَهَر يم، چه کله زه د لوَږې نه بې حاله شوم او د مرګ خطره مې پيدا شوه نو ما ستاسو رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په اَمانت دا ډوډۍ او سره کړې غوښه واخسته. حُضُورا! تاسو رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه دا په خوشحالۍ خوشحالۍ اوخورئ ځکه چه دا هم ستاسو رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه مال دې، مخکښې تاسو رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه زما ميلمه وئ او اوس زه ستاسو ميلمه يم. باقي رقم ئې ما ته راکړو او وئيل ئې چه: ما مُعاف کړئ. په اِضطِراري [يعني د ډيرې مجبورۍ په] حالَت کښې ما ستاسو په رقم طعام اَخستې وو." زه ډير خوشحاله شوم. ما پاتې شوې طعام او څه نور رقم هغه ته ورکړو هغه قبول کړو او لاړو. (اَلذَّيل علٰى طبقاتِ الحنابِلة ج ٣ ص ٢٥٠)

**دَ الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

طلب کا منہ تو کس قابل ہے یا غوث
مگر تیرا کرم کامل ہے یا غوث

قابِله نه ده زما خُله د غوښتو　　خو کرم ستاسو دې کامِل ياغوث

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼو!** دومره ډيره لوَږه برداشت کولو او مرګ ته د نِژدې کيدو نه پس خپل رقم په لاس د راتلو باوُجود هغه اِيثار [يعني قربان] کول واقعي ډيره لويه خبره ده او دا هم اوليائے کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِم کولې شي. زمونږ د غوثِ پاك [پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ لوَږې تيرول صَد مرحبا او د هغوئې رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اِيثار [يعني خپل څيز په بل قُربانول] صد هزار مرحبا! کاش چه په مونږ کښې هم د اِيثار جَذبه را پيدا شي. هائے هائے! مونږ خو په مړه خيټه د ډير خوراك کولو نه پس پاتې شوې خوراك هم د اِيثار کولو حوصله نه لرو بلکه د آينده د پاره هغه په فِرج کښې ساتو. کاش چه! د اِيثار د عَظِيمُ الشّان ثواب کټلو زمونږه هم فِکر جوړ شي.

## (۱۵) د تنګئ نه پس آساني

**حضرتِ** عَلّامه اِمام شَعراني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په "طَبقَاتُ الْکُبرٰی" کښې د حُضُورِ غوثِ پاك [پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دا اِرشاد نقل کوي، په شروع کښې په ما باندې ډيرې سَختئ کيښودې شوې او چه کله سختئ اِنتِهاء ته اورسيدې نو زه عاجِزه شوم او په زمکه پريوتم او زما په ژبه د قرآنِ پاك دا دوه آيتونه جاري شو.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به معاف شي. (كَنزُالعُمّال)

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ۙ﴿۵﴾ اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا ؕ﴿۶﴾ (پ۳۰الم نشرح: ٦.٥)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: نو بيشكه د سختئ سره آساني ده، بيشكه د سختئ سره آساني ده.

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې آيتونو په بَرَكت هغه ټولې سختئ زما نه لرې شوې.

واه كيا مرتبه اے غوث ہے بالا تيرا
اونچے اونچوں كے سَروں سے قدم اعلیٰ تيرا

د شعر ترجمه: اے غوثِ پاكه! ستاسو خومره اوچته مرتبه ده، د اوچتو اوچتو مرتبې لرونكو د سرونو نه ستاسو مُبارَك قدم اوچت دې.

**د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! يقيناً د څه موندلو د پاره قربانئ وركول غواړي، زمونږ غوثُ الاعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د خپل رَبّ عَزَّوَجَلَّ د قُرب [يعني نزديكت] موندلو او د خپل مبارك نيكه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوشحالَولو د پاره، په نفس و شيطان باندې د غلبه موندلو د پاره، د دُنيا د مَحَبَّت نه ځان خلاصولو د پاره، د ګناهونو د مرضونو نه ځان بچ كولو د پاره، مخلوق په نيغه لاره د راوستلو د پاره، د تبليغ ډير زيات ثواب ګټلو د پاره، د نيكئ دعوت په ټوله دُنيا كښ د خورولو د پاره او بيشميره كُفّار په اسلام كښ د داخلَولو د پاره په كلونو كلونو كوششونه اوكړل. خير مونږ د حُضُورِ غوثِ پاك [پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

شان عبادتونه خو نه شو کولې. خو بيا هم پکار ده چه هِمَّت اوکړو او څه نه څه کوشش اوکړو.

سچ ہے انسان کو کچھ کھو کے مِلا کرتا ہے
آپ کو کھو کے تجھے پائے گا جو یا تیرا (ذوقِ نعت)

**د شعر ترجمه:** رِښتيا ده چه اِنسان ته د څه حاصِلَوَلو د پاره څه قرباني ورکول پکار وي، يارسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه څوك ستاسو په محبّت کښې ځان فنا کړی نو هله به ستاسو نزديکت حاصل کړي.

د سرکارِ بَغداد رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **مَحَبَّت** دعوٰی لرونکو اِسلامي ورونړو! سرکارِ غوثِ اعظم رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **الله** عَزَّوَجَلَّ د رِضا د پاره د عراق په ځنګلو کښې پينځه وِيشت کاله تيرکړل. او بې مِثاله لوَږه او تَنده ئې برداشت کړه. کاش! چه مونږ ته هم دَ تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د **سُنَّتو** د تربِيَّت د پاره کلي په کلي، ښار په ښار او مُلك په مُلك د سفر کولو والؤ **مَدَنی قافِلو** مُسافِر جوړيدل نصيب شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (١٦) د تولې ورځې خوراک لس مُنَقّي

**حضرتِ** ابو احمَد صَغير رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ما ته حضرتِ سَيِّدُنا ابو **عبدُالله بن خَفِيف** رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ حُکم راکړې وو چه هره شپه هغوئي ته د روژه ماتي د پاره د **مُنَقّي** لس داني پيش کووم. يوه شپه مې پرې زړه خُوګ شو نو د لسو په ځائ مې ورته پينځَلّس داني حاضرې کړې.

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ما ته اوکتل او اوئې فرمائيل: تا ته (د پينځلّسو دانو) راوړو چا حُکم کړے وو؟ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ترې صِرف لس دانې اوخوړې او باقي (پينځه دانې) ئې پريښودې. (رِسالةُ القُشَيرية ص ۱۴۳)

د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

## د مُنقّې حيرانوونکې فائدې

خوږو خوږو اِسلامي وروڼړو! تاسو اوليدل! حضرتِ سَيِّدُنا ابو عبدُالله رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به هره ورځ صِرف په **لسو دانو مُنَقو** گزاره کوله. د اوليائے کِرام رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِم د نَفس سره مقابله کول مرحبا! هغوئي د ډير ښه څيز اِنتِخاب کړې وو. د وړوکو کوَرو اوچو شوو دانو ته **وَخکې** وائي او د غټو کوَرو اوچو شوو دانو ته **مُنَقّې** وائي. د **حُضُورِ اکرم** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حِکمت نه ډک فرمان مُبارَک دې: ”دا خورئ، دا (مُنَقّی) بِهترين خوراک دې. (مُنَقّی) اَعصاب (يعني رګونه او پټې) مضبوطوي، کمزوري لرې کوي، غُصّه يخوي، بَلغَم لرې کوي، د مخ رنګ نور تازه [يعني ښائِسته] کوي او خُله خوشبوداره کوي.“ (کَشفُ الخِفاء ج۲ ص۴۳۱ حديث ۲۸۴) د حضرتِ سَيِّدُنا علي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه روايت شوې حديث کښې دا هم دي چه (مُنَقّی) کمزوري لرې کوي، مِزاج خوشګواره [يعني خوشحاله] کوي، ساه خوشبوداره کوي او غَم لرې کوي. (کَنزُ العُمّال ج۱۰ ص۱۸ حديث ۲۸۲۶۱)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُ الْعُمَّال)

# د وَڅکو اوبه څښل سُنَّت دي

د سرکارِمدینه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره به وَڅکې په اوبو کښې پستې کړې شوې. خوږ آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغې اوبه په هغه ورځ، په دویمه ورځ او کله کله په هغې وروستۍ [یعني دریمه ورځ] د ماښامه پورې هم څښلې. د هغې نه پس به ئې د هغې په باره کښې حُکم فرمائیلو نو خادمانو به هغه څښلې یا به هغه توئې کړې شوې. (ځکه چه بیا به د هغې خوَند بدل شو نو ځکه به توئې کړې شوې) (ابوداؤد ج۳ ص ۳۳۷ حدیث ۳۷۱۳)

مُنَقّه دوا [یعني دوائي] هم ده او خوراك هم دې، که غوارېٔ نو دا دغسې یا که غوارېٔ نو پوستکې ترې لرې کوئ او په مُناسِب مِقدار کښې ئې خورئ مشهور مُحَدِّث حضرتِ سَیِّدُنا اِمام زُهری رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: څوك چه د اَحادِیثِ مُبارَکه حفظ کولو شوق لري هغه دِ (په مُناسِب مقدار کښې) مُنَقّه خوري، مُنَقّه د تُخَم سره هم خوړلې شئ بلکه اِمام زُهری رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ”د مُنَقّې تُخَم د مِعدې اِصلاح کوي.“

مُنَقّې یو څو ګینټې په اوبو کښې پستوئ بیا ترې پوستکې لرې کوئ او خورئ ئې. مُنَقّې د سګې [یعني پهیپهړو] د پاره اِکسیر [یعني ډیر زیات فائده مند] او د زوږ قوځي د پاره هم ډیرې فائده مندې دې. د پښتوَرګې [یعني ګردې] او مثانې درد لرې کوي، توري او تریخې ته طاقت ورکوي، خیټه نرموي، مِعده مضبوطوي او هاضِمه صحیح کوي.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قیامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

## د تږوخې علاج

**هره ورځ** د وَښکو ۴۰ دانې (که په چا بدې نه راځي نو دوه چونده کولو کښ هم باك نشته) او درې بادام را اخلئ او په هغې باندې ۱۱ ځله درود شریف لولئ او خورئ ئې د دوو ګینټو پورې وریسې اوبه مه څښئ. إِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ په تږوخې کښې به ډیره فائِده کیږي. بلغم به ورسره اوځي او نور به نه جوړیږي. (د ضرورت مطابق د وَښکو مِقدار زیاتوئ) د بالکل ورو ماشومانو د پاره د ضرورت مطابِق [د وَښکو] مِقدار څه کم کړئ. د شِفا حاصلولو پورې علاج جاري ساتئ.

## سرې مُنَقّې

حضرتِ سَیِّدُنا **عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی** کَرَّمَ اللهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِیْم نه روایت دې، چه څوك هره ورځ سرې مُنَقّې ۲۱ دانې خورې هغه به د هغه تولو مرضونو نه محفوظه اوسي د کومو [مرضونو] نه چه یَریږی. (ابونُعَیم)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۱۷) د باتِنګڼ خواهِش

حضرتِ سَیِّدُنا **ابو نَصر تمار** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "اَلْحَمْدُ لِلّٰه یو ځل د شپې حضرتِ سَیِّدُنا **بِشرِحافی** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه زمونږ کور ته تشریف راوړو. ما د وَلِــيِّ کامِل په راتلو د **الله** عَزَّوَجَلَّ شُکر ادا کړو بیا مې ورته عرض اوکړو: "یا سَیِّدی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه! مونږ له د خُراسان نه مالوچ راغلي وو د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو دَپاره پاکې ده. (اَبُو یَعلیٰ)

هغې نه زما لور چه کوم تار جوړ کړې وو هغه مې خرڅ کړې دې او غوښه مې پرې اخستې ده، مهربانئ اوکړئ! زمونږ سره روژه ماته کړئ.'' اوئې فرمائيل: ''که چرې ما د چا په ځائ کښې د طعام خوړلو اِراده اوکړه نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستاسو رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه کره به ئې خورم.'' بيا ئې اوفرمائيل: ''د ډيرو کلونو نه د **باتِنګڼ** خوړلو **خواهِش** لرم خو تر اوسه پورې مې اونه خوړلو.'' ما عرض اوکړو: ''**يا سَيِّدى** رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه! اِتِّفاق دې چه په دې غوښه کښې د حلالې کټې باتِنګڼ هم اچولې شوې دې.'' اوئې فرمائيل: ''زه خو به هله باتِنګڼ خورم چه کله مې د زړه نه د دې مَحَبَّت اوځي.'' (رِسالةُالقُشَيرِيه ص١٤٣) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! **اولياءُاللّٰه** رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْهِم د نفساني خواهشاتو د منلو نه څومره پرهيز کوي. د **نَفس د مطالبې** په وجه حضرتِ سَيِّدُنا بِشرِحافى رَحْمَةُاللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د کلونو نه باتِنګڼ نه خوړل. د دې حضراتو څومره ښکلې مَدَنى انداز وې چه نَفس ورته وائې اوخوره نو نه خوري او چه ورته وائې مه خوره نو خوري ئې. الغَرض د نَفس د خواهِش خِلاف کوي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

## (۱۸) ښه اوخوره او اوښه

مَنقول دي چه د ډېرو كلونو نه د حضرتِ سَيِّدُنا بِشرِحافى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه باقِلاء (يعني د سبزئ د تُخم والا پلي چه هغه پخولې او خوړلې شي، مَثَلاً مټر، لوبيا وغيره) خوړلو ته زړه كيدلو خو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه به خپل نَفس مړ كولو او هغه د سبزئ پلي ئې اونه خوړل. د وفات نه پس چا په خوب كښې اوليدو تپوس ئې ترې اوكړو: "مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني الله عَزَّوَجَلَّ ستا سره څه مُعامَله اوفرمائيله؟" جواب ئې وركړو: "الله عَزَّوَجَلَّ راته د بخښني زيرې راكړو، او را ته ئې اوفرمائيل: اے هغه اِنسانه! چا چه په دُنيا كښې نه خوراك كړې وو او نه ئې څښاك كړې وو اوس ښه اوخوره او اوښه." (رِسالةُ القُشَيرِيه مُترجَم ص ۴۰۶) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حِسابَه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

گدا بھی منتظِر ہے خُلد میں نیکوں کی دعوت کا
خدا دن خیر سے لائے سخی کے گھر ضیافت کا

د شعر ترجمه: زه فقير هم په جَنَّت كښې د نيكانو د دعوت په اِنتِظار يم! خُدائے دِ د سخي د كور د ميلمَستيا ورځ په خير راولي.

## (۱۹) د خوراك مَقصد

حضرتِ سَيِّدُنا ابوسَعيد خَزّار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "زما معمول وو چه په دريمه ورځ به مې طعام خوړلو. يو ځل د سفر په دوران كښې په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

ځنګل تيريدم او بغير د خوراك نه نورې **درې ورځې** شروع شوې وې، ډېر سخت اوږې شوې ووم، د كمزورئ په وجه بې حاله شوم او يوځائ كښيناستم، په دې كښ غيبى آواز راغې: "اے **ابوسَعيد!** د نَفس د خوشحالَوَلو د پاره د طعام خواهِش لرې يا بغير د څه خوراك څښاك نه كمزوري لرې كول غواړې؟" ما عرض اوكړو: "**يا الله!** عَزَّوَجَلَّ زه خو صِرف **قُوَّت** غواړم." د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه بيان دې "چه په ما كښ داسې قُوَّت راپيدا شو چه پاڅيدم او بغير د خوراك څښاك نه مې نور **دولس منزله** سفر اوكړو." (كَشفُ المَحجُوب مُترجَم ص ٤٥٣) **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** تاسو اوليده چه! **الله** والا خلق د خوَند د پاره نه بلكه د عِبادت په خاطِر د قُوَّت حاصلَوَلو د پاره خوراك كوي او د **الله** عَزَّوَجَلَّ په هغوئي باندې ډېر كَرَم وي چه بغير د خوراك څښاك نه هغوئي ته روحاني طاقت وركوي. چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا ابو سعيد خَزّار رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د خوراك كولو نه بغير صِرف د **الله** عَزَّوَجَلَّ په عطا كړې قُوَّت نور دولس منزله سفر اوكړو. په يوه ورځ كښ چه څومره سفر كيږي هغې ته يو **مَنزِل** وائي. د دې مطلَب دا شو چه هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه بغير د خوراك څښاك نه نور دولس ورځې سفر اوكړو!

نہ ہو کار گر نَفس کا مجھ پہ حِیلہ
کرم یا الٰہی! نبی کا وسیلہ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي **الله** د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد دَ غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

**د شعر ترجمه:** يا اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ! د خوږ نَبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وَسيله په ما داسې کَرَم اوکړې چه د نَفس حيلې بَهانې را باندې هيڅ اثر نه شي کولې!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۲۰) د خوراك کولو نه د بچ کيدو د پاره پټ شو

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابو سعيد خَزّار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "يو ځل د قافلې سره په سفر کښې ووم **ډير اوږې شوي** وو چه د کجورو يو باغ مو اوليدو، د **نَفس** څه اسره پيدا شوه چه اوس به کجورې اوخورم. خو ما د نَفس خبره چرته منله! قافِلې والـؤ خو هم هلته پړاؤ اوکړو خو زه لرې لاړم او د ځنګل (په شګه) کښې پټ شوم چه هسې نه نَفس را ته کجورې اوښائي او بيا ئې غواړې." لږ ساعت پس يو مَلګرې پيدا کړم او په ډير زور ئې د ځان سره باغ ته بوتلم، ما ترې تپوس اوکړو: "تا ته څنګه معلومه شوه چه زه دلته يم؟" هغه اووئيل چه "ما دا غيبي آواز واوريدو: "زمونږه يو ولی په فُلانکي ځائ کښې په شګو کښې پټ شوې دې هغه د ځان سره راوله." (تَذکِرَةُ الاولياء ج۲ ص۳۶) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغ قرآن و سُنَّت عالَمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د دُنيا په بيشميره ملکونو کښې د سُنَّتو سپرلي خوروي. هر مُسلمان له پکار دي چه د دُنيا او د آخِرت د بِهترئ د پاره د **دعوتِ**

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

**اسلامي** مَدَنی ماحول سره تړون اوکړي او خپل دا فِكر جوړ كړي **چه ماته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي.**

## (۲۱) د وَلي د صُحبَت بَرَكت

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبراهيم خَوَّاص رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه يو ځل په ځنګل كښې وو، ناڅاپه يو كس راغې او اوئې وئيل: "زه ستاسو په صُحبَت كښې اوسيدل غواړم. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه چه هغه ته اوكتل نو په زړه كښې ئې ترې نفرت پيدا شو. په دې كښې هغه اووئيل: "زه **عيسائي** راهِب يم. او د رُوم نه ستاسو په صُحبَت كښې د اوسيدو د پاره حاضر شوې يم." د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په زړه كښې د پيدا شوې نَفرت راز ښكاره شو. يعني داسې د هغه كس د كافِر كيدو په وجه شوې وو. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه راهِب ته اوفرمائيل: "زما سره د خوراك څښاك هيڅ هم نشته، چرې داسې اونه شې چه ته په تكليف كښې اخته شې." هغه اووئيل: "**يا سَيِّدى** په دُنيا كښې ستاسو رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د نوم شُهرَت دې. او تاسو تر اوسه د خوراك په فِكرونه كوئ! د هغه په خبره هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه حيران شو او هغه ته ئې په خپل صُحبَت كښې د اوسيدو اِجازت وركړو." ووه ورځې او شپې د خوراك څښاك نه بغير تيرې شوې. هغه اويريدو او اوئې وئيل: "**يا سَيِّدى!** بس نوره معامله زما د

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

برداشت نه بَهر شوه، د خوراك ښښاك څه اِنتِظام اوکړئ." چنانچه هغوئ رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه په سجده کښې پريوتل او د **الله** عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: "**يا الله** عَزَّوَجَلَّ ! دا کافِر زما په باره کښې **حُسنِ ظَنّ** [يعني ښه ګُمان] لري. زما عِزَّت ستا په لاس کښې دې، ما د دې کافِر په مخکښې مه رُسوا کوه." د دُعا نه پس ئې **چه څنګه سر د سجدې نه راواوچت کړو نو يو پَتنوس** [يعني مَجمه، تالي] **موجود وو، او په هغې کښې دوه ډوډئ او دوه ګلاسه اوبه وې.** چه خوراك ښښاك ئې اوکړو نو دواړه د هغه ځائ نه روان شو. چه نورې ووه ورځې تيرې شوې نو يو ځائ کښې کښيناستل [دا ځل] هغه راهِب په سجده پريوتو او دُعا ئې اوکړه. **څه ګوري چه يو پَتنوس** [يعني مَجمه، تالي] **راپيدا شو او په هغې کښې څلور ډوډئ او څلور ګلاسه اوبه موجودې وې!** هغوئي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه حيران شو او دا سوچ ئې اوکړو چه د دې نه به هيڅ هم نه خورم ځکه چه دا خوراك د يو کافِر د پاره راغلې دې. هغه اووئيل: "**يا سَيِّدى** رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه! اوخورئ او د دوو خبرو زِيرې هم واورئ، "يو خو زه اِسلام قبلووم، چه دا ئې اووئيل نو کَلِمهٔ شهادت ئې اولوستله. دويمه دا چه د **الله** عَزَّوَجَلَّ په نِزد ستاسو ډير لوئ مقام دې." ما په سجده کښې دا دُعا کړې وه، يا الله! که **مُحَمَّد مُصطفٰى** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برحَقه رَسُول وي نو ما ته دوه ډوډئ او دوه ګلاسه اوبه راعطا کړې او که **اِبراهيم**

www.dawateislami.net

**خوّاص** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ ستا ولي وي نو نورې دوه ډوډئ او دوه ګلاسه اوبه راعطا کړې." د دُعا کولو نه پس چه ما ځنګه سر را پورته کړو نو د خوراك دا تالي موجود وو." چه حضرتِ سَيِّدُنا **اِبراهيم خوّاص** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ دا خبره واوريدله نو طعام ئې اوخوړلو او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه هغه نوې مُسلمَان د وِلايت اَعلیٰ درجې ته اورسيدو.(مُلَخَّص از کشفُ المَحجوب ص ٤٣٣ تا ٤٣٥) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! **اَوليَاءُ الله** رَحِمَہُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی د څو څو ورځو پورې لوږې برداشت کوي، د هغوئي اِمداد کيږی، او د هغوئي د پاره غيبانه دسترخوان ظاهريږي، او د سَيِّدُنا **اِبراهيم خَوّاص** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په صُحبَت کښې د اوسيدو په بَرَکت کافِر هم د **الله** عَزَّوَجَلَّ په کرم سره مُسلمان شو او د وِلايت درجه ئې اوموندله. هر يو ته پکار دي چه د بد صُحبَت نه ځان ساتي او د نيکانو صُحبَت اِختيار کړي. په **حَديثِ پاك** کښې دي: "ښه ملګرې هغه دې چه د هغه په ليدلو تاسو ته **الله** عَزَّوَجَلَّ درياد شي او د هغه په خبرو ستاسو په (نيکو) اعمالو کښې اِضافه اوشي او د هغه عمل تاسو ته آخِرت دریاد کړي." (جامِع صَغير جُز ثاني ص ٢٤٧ حديث ٤٠٦٣)

يک زمانه صُحبتِ با اَولياء
بِهتر از صد ساله طاعَت بے رِيا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعي په شپه او د جُمعي په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پيش کيږي. (طَبَرانِي)

(يعني د اوليائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى د لږ ساعت صُحبَت د سلو کالو د خالص عبادت نه بهتر دې)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۲۲) ښه صُحبَت ښه مرګ

[د اُردو محاوره ده] خَټَکې بل خَټَکې ته ګوري او رنګ ترې اخلي، **کوَنزلي** چه د ګلاب په ګُل کښې کيږدئ نو د هغې په صُحبَت کښې د اوسيدو په وجه [هغه کوَنزَلې] ګُلابي شي. دغسې د تبليغِ قرآنُ و سُنَّت د عالَمګير غير سِياسي تحريك **دعوتِ اِسلامي** په مَدَني ماحول کښې د شامليدو او د **عاشقانِ رَسُول** په صُحبَت کښې اوسيدو والا بې قدره کانړې هم د **الله** عَزَّوَجَلَّ او د هغه د **رَسُول** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مهربانئ قيمتي مَلغَلره جوړه شي، ښه روښانه شي او **اَجل** [يعني مرګ] ته په داسې شان **لَبَّيْك** وائي چه ليدونکي او اوريدونکي رَشك کوي [يعني د ځان د پاره داسې خوښوي] او د ژوندي اوسيدو په ځائ د داسې مرګ خواهِش کوي، چنانچه د ټَنډو الله يار (سندھ) يو کس د **دعوتِ اِسلامی** د مَدَني ماحول نه مُتَاَثِّره شو او د عاشِقانِ رَسُول د صُحبَت په بَرَکت ئې د پينځه وخته نمونځونو پابندي شروع کړه او د **رَمَضانُ المُبارَك** په آخِري عشره کښې د **دعوتِ اسلامی** په اِنتظام کښې کيدونکي د **سُنَّتو نه ډك اِعتِكاف** کښې د عاشقانِ رَسُول سره کښيناستو، په لسو ورځو کښې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذی)

ئې د قرآنِ پاك يو څو سورتونه، دُعاګانې او سُنَّتونه ياد كړل، د يو موټې ګيرې پريښودو او د شنې عِمامې تاج په سر كولو د نِيَّتونو سره سره ئې په هفته واره سُنَّتو نه ډكه اِجتِماع كښ د شركت كولو او په مَدَني قافِله كښ د سفر كولو د پاره هم نوم اوليكلو. غرض دا چه په ژوند كښ ئې **مَدَنی اِنقِلاب** راغې. د عاشقانِ رَسُول صُحبَت رَنګ راوړو، او د ګناهونو نه ئې توبه اوكړه او د سُنَّتو نه ډَك ژوند تيرول ئې شروع كړو. يوه ورځ ئې په جامو كښ اور اولګيدو او غريب ډير په بد شان اوسوزيدو. هسپتال ته يوړلې شو، ډاكټرانو اووئيل چه د ده بدن ۸۰ **فيصده** سوزيدلې دې. خو ليدونكي حيران وو چه د تكليف بيانولو په ځائ هغه په **ذِكر و دُرود** كښ مشغول وو، د اِعتِكاف په دوران كښ د عاشقانِ رَسُول په صُحبَت كښ ئې چه كوم سورتونه او دُعاګانې يادې كړې وې هغه ئې لوستلې. تقريباً د ۴۸ ګينټو پورې ئې ساعت په ساعت د قرآنِ پاك سورتونه او دُعاګانې وغيره لوَستلې او د **سحر د آذان** په وخت ئې په اوچت آواز لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اولوستله او ساه ئې اوختله. **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رَحمَت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

# (۲۳) بد صُحبَت بد مرګ

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! زمونږه نیك ګمان دې چه مرحوم کامیاب شو. راځئ اوس د یو **مرګ** خطرناك او **عِبرَت ناك** حِکایَت واورئ او د نن صبا د خراب صُحبَت او د کورونو د فیشني ماحول، د **ټي وی** او د **اِنټرنیټ** په ذریعه د فلمونو ډرامو کتلو او د سندرو باجو د اوریدو د سپیرو عادتونو د بربادئ نه او یَریږئ. چنانچه اوس چه تاسو کوم حِکایَت واوریدو د هغه مرحوم علاج کوونکو ډاکټرانو وَینا ده، عجیبه اِتّفاق دې چه د دعوتِ اِسلامی دې ځلمي چه مَاشَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د **قرآنِ پاك** په تِلاوت کولو او **کِلمَهٔ طَیِّبَه** لوَستلو لوَستلو کښې په کوم وارډ کښې ساه ورکړه یو څو ورځې **مخکښې** یوه پیغله (ماډرنه، فیشني) جینئ هم په اور سوزیدلي وه او دې وارډ ته راوړي شوي وه خو د مرګ په وخت کښې ئې په ژبه (مَعَاذَاللہ) [یعني د الله پناه] دا وو چه. سَندره را ته واوروئ! سَندره را ته واوروئ! ګډا را ته اوښائې! ګډا را ته اوښائې! او په داسې وئیلو وئیلو کښې هغه بدنصیبه جینئ مړه شوه. که هغه جینئ مسلمانه وه نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ د هغه بې وسې بخښنه اوکړي. اٰمین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تُوبُوا اِلَی اللّٰه اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا ځیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! یقیناً یوه ورځ به مونږه مرو. اے کاش چه! په آخِری وخت کښې د کَلِمَهٔ طَیِّبَه په لوَستلو لوَستلو او د دُرود و سَلام په پیش کولو پیش کولو کښې د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نظارو کښې زمونږ روح اوځي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبلیغِ قرآن و سُنَّت عالمَگیر غیر سِیاسي تحریك **دعوتِ اسلامي** د دُنیا په بیشمیره ملکونو کښې د سُنَّتو سپرلي خوروي. هر مُسلمان ته پکار دي چه د دُنیا او آخِرت د بِهترئ د پاره د **دعوتِ اسلامي** مَدَنی ماحول سره ترون اوکړي او خپل دا فِکر جوړ کړي چه **ماته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي**. اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ

## (٢٤) اوږې زمري

**حضرتِ** سَیِّدُنا داتا گنج بخش علی هجویري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: "ما د شیخ اَحمد حَمّادی سَرخَسی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ نه د هغوئي د **توبې** د وجهې تپوس اوکړو" نو اوئې فرمائیل: "یو ځل زه سره د خپلو اوښانو د "سَرخَس" نه روان شوم. د سفر په دوارن کښې په ځنګل کښې یو **اوږې زمري** زما اوښ زخمی کړو او را اوئې غورزولو، بیا یو اوچت ځت ته اوختو او اوغړمبیدو، د هغه اواز چه ئې واوریدو نو ډیر سرې خواره

ځناوران راجمع شو. زمرې ښکته راکوز شو او هغه **زخمى اوښ** ئې اوخيرو خو ږځپله ئې ترې هيڅ هم اونه خوړل او بيا لاړو په ختې کښيناستو، جمع شوي ځناوران په اوښ لګيا شو، اوئې خوړلو او لاړل، د پاتي شوي غوښې د خوړلو د پاره زمرې نِزدې راغې خو يوه **شله ګيدړه** ئې اوليده چه لرې راروانه وه، زمرې بيرته خپل ځائ ته اوختو. ګيدړې د خپل ضرورت مطابق غوښه اوخوړه او لاړه د هغې نه پس زمرې بيا راغې او د هغې نه ئې لږه شان غوښه اوخوړه. ما د لرې نه دا هر څه ليدل، ناڅاپه **زمرې ما ته مخ را وړولو او په واضِحه الفاظو کښې ئې داسې اووئيل: "اَحمد! د يوې نوړئ اِيثار** [يعني قربانَوَل] **خو د سپو کار دې د حقّې لاړې ځوانان خو خپل ځانونه هم قربانوي."** زه د دې عجيبه واقعې نه ډير زيات مُتاَثِّره شوم او د خپلو ټولو ګناهونو نه مې توبه اوکړه او د دُنيا نه مې ډډه اِختيار کړه او خپل خوږ **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ ته متَوَجِّه شوم. (کشفُ المَحجوب بِتَغَيُّرِ مُتَرجَم ص ۳۸۳) **د اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَکت دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

## د چرګې تَوَکُّل

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! اوږې **زمرې** خپل ښکار په نورو ځناورو قربان کړو او د لوږې برداشت کولو بِهترين مِثال ئې قائم کړو او بيا د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په عطا سره هغه څومره زَبردست نصيحت اوکړو

چه د ''يوې نورېځ اِيثار [يعني قرباني] خو د سپو کار دې نارينه له خو پکار دي چه خپل ځان قربان کړي.'' خو آه! نن زمونږ په شان بې عمله مُسلمانان به د يوې نورېځ څه اِيثار اوکړې، بلکه که وَس ئې بر شي نو د بل د خُلې نه په زور نورېځ آخلي بلکه د يوې نورېځ د پاره کله کله په قتل او بربادَولو هم اسره نه کوي. د ډيرو خوراکونو په موجودګئ کښې هم د ډوډئ يوې يوې ''ټکړې'' د پاره فسادونه جوړَوي. وائي چه ''صِرف درې ژوندي ځيزونه داسې دي چه خوراك ذخيره [يعني جمع] کوي، (۱) (زمونږ په شان ګنهګار) اِنسانان (۲) مږه [منږك] (۳) ميږې.'' د دې نه علاوه يو ځاروې هم د بل وخت د پاره خوراك نه ساتي. تاسو به د **چرګې تَوَکُّل** ليدلې وي، هغې ته چه کله د اوبو لوښې کيښودې شي نو د اوبو څښلو نه پس هغه د هغه لوښي په غاړه ښپه کيږدي او په بل مخ ئې واړوي. د هغې په خپل **الله** عَزَّوَجَلَّ باندې پوره يقين وي چه اوس ئې را باندې اوڅښلې نو چه بيا تږې شم بيا به ئې هم راباندې اوڅښي. او د مزې خبره دا ده چه د هغې د څښلو خِدمت هم د انسان نه اخستې شي. خو د اللّٰهعَزَّوَجَلَّ د نيکو بندګانو تَوَکُّل [يعني د الله په ورکړه يقين] بې مِثاله وي. د تَوَکُّل يو تعريف دا هم دې چه ''صِرف د **الله** عَزَّوَجَلَّ په ورکړه يقين کوي او څه چه د خلقو سره دي د هغې نه نا اُمِّيده شي.'' (مُلَخَّص از رِساله قُشَيريه باب تَوَکُّل ص ١٦٩) په الله عَزَّوَجَلَّ باندې د پوره تَوَکُّل کوونکو هم څه ښکلې شان وي چنانچه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درود پاك لوستل هير كړل هغه دَ جنّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

# (۲۵) تَوَكُّل كوونكي ځلمي

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبراهيم خواص رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "د مُلكِ شام په لاره كښې مې د يو **الله** والا [يعني نيك، پرهيزګاره] ځلمي سره مُلاقات اوشو." هغوئي ما ته اووئيل: "آيا تاسو زما په صُحبَت كښې اوسيدل خوښوئ؟" ما ورته اووئيل: "زه خو اوږې اوسيږم." هغه اووئيل: "اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زه به هم اوږې اوسيږم." ځلور ورځې مو دغه شان په لوَږه كښې تيرې شوې. د هغې نه پس د څه ځائ نه څه خوراك راغلو، ما هغوئي ته اووئيل: "راشئ اوخورئ!" هغوئي جواب راكړو: "ما دا عهد [يعني پخه وعده] كړې ده چه د چا په ذريعه به يو څيز هم نه اخلم." زه [د هغه په دې خبره] خوشحاله شوم او ما ورته اووئيل: "مرحبا! تاسو خو ډيره باريكه نكته بيان كړه." دا ئې چه واوريدل نو اوئې وئيل: "اے اِبراهيم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ! زما د دروغو صِفَت مه كوئ ځكه چه د زړونو په حال خبردار **الله** عَزَّوَجَلَّ ته ستاسو حال او تَوَكُّل ډير ښه معلوم دې." بيا ئې اوفرمائيل: "د **تَوَكُّل** د ټولو نه كمه درجه دا ده چه په لوَږه د پاسه لوَږه راځي او زړه د **الله** عَزَّوَجَلَّ نه سِوا بل طرف ته نه مُتَوَجِّه كيږي."

(رِساله قُشَيريه باب تَوَكُّل ص ۱۶۸) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

سچ ہے انسان کو کچھ کھو کے مِلا کرتا ہے
آپ کو کھو کے تجھے پائے گا جو یا تیرا (ذوقِ نعت)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

**د شعر ترجمه:** ربښتيا ده چه انسان ته څه حاصليږي نو په څه قربانۍ حاصليږي، يا رسول. الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو به هغه څوك مومي څوك چه ځان قربان کړي!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**يا رَبِّ مُصطفٰی** عَزَّوَجَلَّ! مونږه د نفس و شيطان د شرارتونو نه په حفاظت کښې اوساتې او په لوږه [باندې د صبر] عظيم نِعمَت راکړې او مونږه ستا صابِر و شاکِر بندګان جوړ کړې.

بھوک کی نعمت سے تو نواز مولیٰ عزوجل
صَبر کی دولت سے تُو نواز مولیٰ عزوجل

**د شعر ترجمه:** اے مولٰی عَزَّوَجَلَّ! د لوږې نِعمَت راکړې او د صبر دولت را نصيب کړې!

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (۲۶) رزق وريسې پخپله راروان وو

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابو يعقوب اقطع بصري رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: "يو ځل ما په حَرَمِ مکهٔ مُکَرَّمه کښې لس ورځې لوَږه تيره کړه، په دې وجه زه کمزورې شوم او د ځنګل طرف ته لاړم چه کيدې شي څه خوراك په لاس راشي او په هغې زما کمزوري لرې شي، په لاره کښې مې يو غورزولې شوې ټيپر اوليدو چه را اوچت مې کړو نو هغه "زوړ" شوې وو، ما ته دا محسوسه شوه لکه څوك چه وائي:"ته د لسو ورځو نه اوږې ئې نو آيا [د دومره لوږې نه پس] ستا په حِصّه کښې صِرف دا ټيپر

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

راغي!" ما هغه بيرته كينوده او **مَسجِدُ الحرام شريف** ته حاضِر شوم. په دې كښې يو **عَجَمى** (هر غير عَرَبى ته عَجَمى وائي) [كس] زما خوا ته راغي او يوه پيټئ ئې راكړه او اوئې وئيل: "دا ستاسو ده." ما ورته اووئيل: "زما څنګه ده؟" اوئې وئيل: "مونږه د لسو ورځو نه په سمُندر كښې په سفر وو، **طُوفان** راغي او زمونږه كِشتَئ ډوبيدو ته نِزدې شوه نو مونږه ټولو نِيَّتونه كړي وو چه كه **الله** عَزَّوَجَلَّ مونږه بچ كړو نو مونږ به خيرات كوو. ما هم دا نِيَّت كړې وو چه په مَسجِدُا لحَرام كښې مې كوم وړومبې سړې اوليدو نو دا به هغه ته پيش كووم نو تاسو هغه اولنې كس ئې چه ما اوليدئ." **ما چه پيټئ بيرته كړه نو په هغې كښې د مِصري ميدې كيكونه، سپين شوي بادام او د سپينو قَندو** (يو قِسم متهائي) **ټكړې وې.** ما د ځان سره په زړه كښې اووئيل چه ستا رِزق د لسو ورځو نه ستا طرف ته راروان وو او ته د هغې په لټون كښې ځنګل طرف ته وتلې وې! ما د هغې نه لږ لږ څيزونه د ځان د پاره واغستل او باقي مې هغه ته بيرته وركړه او ورته مې اووئيل چه "ما قبول كړي دي، اوس دا تاسو يوسئ او زما د طرف نه ئې خپلو بچو ته په تُحفه كښې وركړئ." (رساله قُشَيريه باب تَوَكُّل ص١٦٩، ١٧٠)

**د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د الله عَزَّوَجَلَّ د اولياؤ د تَوَكُّل ځومره ښكُلې شان دې. د لسو ورځو د لوږې باوُجود چه ورته كله د خوراك څيزونه په لاس ورغلل نو د هغې نه ئې هم لږ شان قبول كړل او باقي ئې بيرته وركړل. هغوئې به د يو وخت د خوراك كولو نه پس د دې خبرې څه پرواه نه لرله چه بل وخت به څه خورم! د هغه حضراتو دا ذِهن جوړ شوې وو چه الله عَزَّوَجَلَّ مو د څو پورې ژوند ليكلې دې د هغه وخته پورې به رزق هم ضرور راكوي. څنګه چه د دولسمې سيپارې په شروع كښې دي:

وَمَا مِنۡ دَآبَّةٍ فِی الۡاَرۡضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزۡقُهَا (پ١٢ هود آيت: ٦)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالايمان: او په زمكه باندې ګرځيدلو والا يو [هم] داسې نشته چه د هغه رِزق د الله په ذِمّهٔ كرم نه وي.

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! دلته يوه مَدَني نُكته قابلِ غور ده. او هغه دا چه الله عَزَّوَجَلَّ د هر يو د رِزق ذِمّه ځپله اخستې ده خو د هر يو د ښخښنې ذِمّه ئې نه ده اخستې. نو هغه مُسلمان ځومره نادانه [يعني ناپوهه] دې چه د رِزق د پاره سرګردانه ګرځي او د ښخښنې د غوښتلو غم نه لري.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامی په مَدَنی ماحول كښې د عاشقانِ رَسُول د تربِيَّت د پاره سفر كولو والؤ مَدَنی قافِلو كښې د آخِرت او د ښخښنې غوښتلو فِكر جوړيږي، چنانچه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

# (۲۷)جذبه لرونکي مُبلّغ

د عاشقانِ رَسُول يوه **مَدَنی قافِله** د جِهلَم (پنجاب) يو کلي ته د **دولسو** ورځو د پاره د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره اورسيده. کوم جُمات ته چه مَدَنی قافِله تلې وه، هغې ته مخامخ کور کښې اوسيدونکي يو ځلمي باندې يو عاشقِ رَسُول **اِنفِرادی کوشش** اوکړو او په مَدَنی قافِله کښې د سفر کولو ترغيب ئې ورکړو، هغه ځلمې صِرف د **دوو** ورځو د پاره تيار شو او د مَدَنی قافلې والؤ سره د سُنَّتونو په زده کولو کښې مشغول شو. په مَدَنی قافِله کښې صِرف د **دوو** ورځو تيرولو په بَرَکت ئې د خپل کور کسانو ته د نمانځه کولو دعوت ورکول شروع کړل. دا ځلمې په خپل کور کښې يو بااَثَره کس وو [يعني د هغه خبره به منل شوه]، ځکه اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ تقريباً ټولو مونځونه کول شروع کړل. خوا ته ئې د ماما کور وو هلته هم لاړو او هغوئي ته ئې هم د **نيکۍ دعوت** پيش کړو. د کور کسان ئې د ټِی وی د تباهيانو نه خبر کړل او هغوئي ئې د کور نه ټِي وي وِيستلو ته تيار کړل، او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د ټولو په رضا ئې د کور نه ټِي وی لرې کړو. په دويمه ورځ ئې جامې اِستري کولې، ناڅاپه بجلۍ کرنټ ورکړو او په هم هغه ساعت ئې ساه اوختله د کور د کسانو وَينا ده چه د وَفات په وخت د هغه په ژبه **کلِمَۂ طَيِّبه** لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ مُحَمَّدٌرَّسُوْلُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جاري وه.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

کوئی آیا پا کے چلا گیا کوئی عُمر بھر بھی نہ پا سکا
مِرے مولیٰ تجھ سے گلِہ نہیں یہ تو اپنا اپنا نصیب ہے

د شعر ترجمه: څوك راغې او ډير زر كامياب شو او څوك په ټول عمر كښې هم كامياب نه شو، اے زما مولٰی عَزَّوَجَلَّ! ستا نه هيڅ ګيله نشته، دا خو د خپل خپل نصيب خبره ده!

## (۲۸) اګۍ او ډوډۍ

**حضرتِ** سَيِّدُنا ابو تُراب نخشبي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "د سفر په دوران كښې زما نَفس صِرف يو ځل د **اګۍ** او **ډوډۍ** خوړلو خواهِش اوكړو، چنانچه زه يو كلي ته لاړم. هلته ناڅاپه يو كس په ما پورې اونښتو. او په زوره زوره ئې اووئيل:"دا هم د غلو سره وو." كنړه جوړه شوه خلقو زه د غلو ملګرې اوګڼړلم او اويا كوړې ئې اووهلم. د هغې نه پس په هغوئي كښې يو كس زه اوپيژندلم او اوئې وئيل: "دا غل نه شي كيدې. دا خو **ابوتُراب نخشبي** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دې." بيا هغه خلقو خپله ډيره ملامته اووئيله او زما نه ئې مُعافي اوغوښتله. په هغوئي كښې يو صاحِب زه خپل كور ته بوتلَم او په ميلمستيا كښې ئې راته اِتّفاقاً **اګۍ** او **ډوډۍ** پيش كړل. ما خپل نفس ته اووئيل:" اويا كوړې خوړلو نه پس ستا مُطالَبه پوره شوه اوس **اګۍ** او **ډوډۍ** اوخوره." (رِسالہ قُشَیریہ ص۱٤٤) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه د پاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

## (۲۹) سپينه پياله

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! واقعى د الله والؤ نظام هم څه ښكلې دې، اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى هغوئې د نَفس د پيروئ [يعني منلو] نه بچ كوي. د كوم كس چه اوس واقعه بيان كړې شوه هغوئې حضرتِ سَيِّدُنا ابو تُراب نخشبي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه باكَرَمته وَلِـيُّ الله وو. چنانچه يو ځل مديني ته د تللو په سفر كښې ورته په يو سپيره او وَچ صحراء كښې يو مُريد د تندې شِكايَت اوكړو. هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه دخپلې ښپې مباركې په ټوكر زمكه اووهله نو د خوږو اوبو چينه جاري شوه. دا ئې چه اوليدل نو يو بل مُريد ورته عرض اوكړو چه: "زه خو به ئې په پياله كښې څښم." هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه زمكه په لاس مبارك اووهله نو يوه سپينه پياله ترې را اووتله. د دې واقعې راوي حضرت شيخ ابوالعَبّاس رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "هغه سپينه پياله د مَكې مُكَرَّمې پورې زمونږ سره وه." (تَذكِرَةُ الاولياء ج١ ص٢٦٤) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رَحمَت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

ہو گا سَیراب سرِ کوثر و تسنیم وُہی
جس کے ہاتھوں میں مدینے کا پیالہ ہو گا

د شعر ترجمه: د كوثر و تسنيم نه به هم هغه خوك اوبه څښې د چا په لاس كښې چه د مديني پياله وي!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

وسوسه: اګځ او ډوډئ خوړل څه ګناه خو نه ده، بيا آخِر وَلِـيُّ الله ته د دې په خواهِش کولو دومره سخته سزا ولې ورکړې شوه؟

عِلاجِ وسوسه: د اَهلُ الله رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی په دې طريقه تَربِيَّت هم کيږي او ازميښت هم. او په دې شان د هغوئي درجې اوچتولې شي. عام مُسلمان خو هم ځيني وخت په ظاهِره د بې قصوره کيدو باوُجود په آفتونو او مُصِيبتونو کښې اَخته کيږي او بيماريږي هم! او د دې په حِکمتونو کښې يو [حِکمَت] دا هم دې چه په دې طريقه د هغه ګناهونه معاف کيږي او درجې ئې اوچتيږي. په انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام او صحابه و شهدائے کربلاء عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان باندې خو هم امتحانونه راغلي وو. او زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هم کافِرانو ظالِمَانو قِسم قِسم تکليفونه ورکړي وو.

## د شان مطابق ازميښت

حضرتِ سَيِّدُنا سعد رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه د نبِـيِّ کريم، رؤُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه تپوس اوکړې شو چه کوم خلق په سختو ازميښتونو کښې اخته کيږي؟ حُضورِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو:(د ټولو نه مخکښې) انبيائے کِرام عَلَيْهِمُ السَّلَام بيا د هغوئي نه پس چه څوك افضل دي، بيا د هغوئي نه پس چه څوك افضل دي، يعني د مرتبو په حِساب. د اِنسان چه د دِين سره څنګه تَعَلُّق وي د هغې د اِعتِبار په مطابق په

www.dawateislami.net

(آفت او) مُصِيبت کښې اخته کولې شي. که په دِين کښې سخت وي نو مُصِيبت به پرې هم سخت وي. او که په دِين کښې کمزورې وي نو په هغه آساني کيږي. هم دا سِلسِله هميشه وي تر دې چه هغه په زمکه داسې ګرځي چه په هغه هيڅ ګناه پاتې نه وي. (جامِعِ تِرمِذی ج٤ص١٧٠حدیث٢٤٠٦)

بهرحال دا هر څه د الله عَزَّوَجَلَّ په مَشِيَّت [يعني خوښه] کيږي او نيك بندګان صبر کوي او د اجر [يعني ثواب] خزانې راټولوي او د هغه حال دا وائي:

جے سوہنا مرے دُکھ وچ راضی
تے میں سُکھ نوں چُلّھے پاواں

(يعني زما خوږ الله عَزَّوَجَلَّ چه زما په تکليف راضي دې نو زه په آرام او سُکون اور پورې کووم)

په پريشانو او بيمارو باندې د خوشحاله اوسيدو په باره کښې يو د اِيمان نه ډك حِکايَت واورئ، چنانچه

## (٣٠) په تبه کښې هميشه تازه

يوه ورځ حُضُورِ اَکرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ”د مُسلمان په بدن چه کوم يو مُصِيبَت راځي نو الله عَزَّوَجَلَّ د هغې په وجه د هغه ګناهونه ختموي.“ دا ئې چه واوريدل نو حضرتِ سَيِّدُنا اُبَيِّ بْنِ کَعْب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دُعا اوغوښتله: ”يا الله عَزَّوَجَلَّ زه ستا نه د خپله مرګه پورې داسې تبه غوارم چه هغه ما د مانځه، روژې، حج و عُمرې نه او ستا په لار کښې د جِهاد [کولو] نه نه منع کوي.“ د هغوئي دُعا قبوله شوه.

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

چنانچه د روايت كوونكي بيان دې چه د حضرتِ سَيِّدُنا اُبَيِّ بنِ كَعب رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ به هر وخت تبه وه تر دې پورې چه هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وفات شو. هغوئي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ به په دې حالَت كښې هم جُمات ته د نمانځه د پاره حاضريدل، روژه به ئې نيوله، حج و عُمره به ئې ادا كول او جِهاد به ئې كولو." (كَنزُ العُمّال ج٣ ص٢٩٩ حديث ٨٦٣٣) د الله عَزَّوَجَلَّ دِې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِې زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د تَبې فضيلَت

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د تبې د فضيلت به څه وائې! حضرتِ سَيِّدُنا ابوهُريره رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي چه د حُضُورِ اَكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په مخكښې د تبې ذِكر اوكړې شو نو يو كس تبې ته بَده اووئيله. نَبِيِّ اَكرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "تبې ته بَده مه وايه، ځكه چه هغه (مومِن) د ګناهونو نه داسې پاك كوي څنګه چه اور د اوسپنې خِيرې (يعني زنګ) صَفا كوي." (سُنن اِبنِ ماجه ج٤ ص١٠٤ حديث ٣٤٦٩)

پھونک دے جو مری خوشیوں کے چمن کو آقا
چاک دل چاک جگر سوزشِ سینہ دیدو

د شعر ترجمه: يا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم څه داسې كرم اوكړئ چه زما د زړه نه د دُنيا د خوشحالو محبّت لرې شي او زه هر وخت ستاسو په محبّت كښې خُوږ ځيګر او سُورې زړه ګرځم.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۳۱) د مسورو د دالو فيس

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبراهيم بِن شيبان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "ما د ځلويښتو کالو پورې کله هم د **چَت** لاندې شپه نه ده تيره کړې، زما زړه غوښته چه د مسورو په دالو ځان موړ کړم، يو ځل په مُلکِ شام کښې د پخو شوو **مسورو د دالو** يوه پياله چا راکړه، ما د هغې نه څه اوخوړل، چه کله بَهر ته اووتم نو په يو دُکان کښې مې زوړندې بوتلې اوليدلې، زما دا خيال وو چه دا سِرکه ده او په غور سره مې ورته کتل، يو کس را ته اووئيل: "تاسو څه ګورئ؟ دا شراب دي" او د منګو طرف ته ئې اِشاره اوکړه او وئيل ئې "په دې کښې هم شراب دي." زه په جوش کښې راغلم او د دُکان نه مې د شرابو منګې بهر ته را اووِيستل او په زمکه اړول مې شروع کړل، زما د زړَورتيا په وجه دُکاندار په رُعب کښې راغې او زه ئې د حکومت سړې اوګنړلم، په دې وجه بالکل غلې ولاړ وو،چه هغه په حقيقت پوهه شو نو دُکاندار زه د مِصر او شام حاکِم [يعني بادشاه] اِبنِ طولون ته حواله کړم، زه ئې دوه سوه لښتې اووهلم او د اوګدې مودې پورې ئې په جيل کښې بند کړم. د خلاصې صورت مې داسې جوړ شو چه زما اُستاذ حضرتِ سَيِّدُنا ابو عبدُاللّٰه مَغربي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه هغه ښار ته تشريف راوړو. زما نه ئې تپوس اوکړو:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله مانښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

"تا څه جُرم کړې وو؟" ما عرض اوکړو: د مسورو په دالو مې ځان موړ کړې وو او د هغې په فيس کښې مې د قيد نه علاوه دوه سوه لښتې وهل هم اوخوړل. هغوئي اوفرمائيل: "ارزان خلاص شوې ئې. او د شرابو د منکو قِصّه مې هم ورته بيان کړه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه زما سِفارش اوکړو او راخلاص ئې کړم." (رِساله قُشَيريه، باب نفس كى مُخالَفَت، ص ١٥٣) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! الله والا د نَفس د پيروئ [يعني منلو] نه هر وخت ډډه کوي او چه کله د نَفس مُطالَبه پوره کړي نو ځيني وخت په سختو ازميښتونو کښې پريوځي او په دې د هغوئي درجې نورې اوچتيږي. دا ټول د مُحِبّ او محبوب راز و نياز [يعني پټ رازونه] دي:

مکتبِ عشق کا دستور نرالا دیکھا
اُس کو چُھٹّی نہ ملی جس کو سبق یاد رہا

## (٣٢) د مهي لشه

حضرتِ سَيِّدُنا ابوالخير عَسقلانى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د ډيرو کلونو نه د مهي خوړلو خواهِش لرلو. آخِر دا چه يوه ورځ ورله په حلاله طريقه مهي په لاس ورغې خو چه ښکه ئې د خوراك د پاره لاس ورړو نو په ګوته کښې ئې د مهي لشه لاړه. زخم ئې دومره خراب شو چه آخِر د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه لاس ضائع شو. په دې باندې ئې د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

عرض اوکړو: "یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دا خود هغه کس حال دې چا چه د يو حلال خيز خواهِش کړې وو او هغې ته ئې لاس ور وړاندې کړې وو، د هغه کس سره به څه کيږي څوك چه د حرام خيز خواهِش لري او هغې ته لاس ور وړاندې کوي." (رِساله قُشَيريه، ص١٤٢) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِې زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د اللّٰه والؤ [د ژوند] انداز ډير عجيبه وي. دوئي ته چه تکليف اورسي نو د هغې هم په ښه نتيجه غور کوي او ډيره زياته عاجِزي کوي، زمونږه حُسنِ ظن [يعني ښه گُمان] دې چه د حضرتِ سَيِّدُنا ابو الخير عَسقَلانی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ کوته د هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د درجاتو د اوچتوالی د پاره د مهی په لشه زخمي شوي وه، په مهي خوړلو خوړلو کښې کله کله د هغې لشه د عام اِنسان په مرئ کښې هم نښلي. نو که چرې داسي اوشي نو د صبر او برداشت نه کار اخستل پکار دي ځکه چه مُسلمان ته کوم تکليف هم رسي د هغې په وجه يا خو د هغه گناهونه مُعاف کيږي يا د هغه درجات اوچتيږي. چنانچه

## د ازغي [يعني د غنَيِ] د تللو فضيلت

د حضرتِ سَيِّدُنا ابو سعيد خُدری رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ و سَيِّدُنا ابو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه روايت دې: نَبِیِّ کريم، رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي، چه مُسلمان ته هيڅ رَنج، هيڅ درد، هيڅ پريشاني، هيڅ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك اونه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

تكليف، هيڅ غم نه رسي تر دې پورې چه كه د هغه [د بدن په يوه حصّه كښې] ازغې لاړ شي خو اللّٰه تَعَالٰی د دې ټولو په وجه د هغه ګناهونه ختموي." (صحيح بُخاری ج۷ ص ۳، الحديث ۵۶۴۱، ۵۶۴۲)

## د مُصِيبَت حِكمَت

حُضُورِ اَكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي چه د بنده د پاره چه كله د الله عَزَّوَجَلَّ په عِلم كښې څه د كمال مَرتبه مُقَدَّر وي او هغه په خپل عمل هغه مرتبې ته نه شي رسيدې نو الله عَزَّوَجَلَّ د هغه په بدن يا مال يا اولاد باندې مُصِيبَت راولي بيا په هغې باندې هغه ته صبر وركوي تر دې پورې چه هغه هغې مرتبې ته اورسوي كومه چه د هغه دپاره د الله عَزَّوَجَلَّ په عِلم كښې مُقَدَّر شوې ده. (سُنَنِ اَبی داؤد ص ۱۲۳ الحديث ۳۰۹۰)

وہ عشقِ حقیقی کی لذّت نہیں پا سکتا
جو رنج و مصیبت سے دو چار نہیں ہوتا

خوند موندې نه شي هغه د حقيقي عِشق  خوك چه ګير نه شي په غم او مُصيبَت كښې

## (۳۳) ګاځره او شَهد [يعني ګبين]

بُزُرګانِ دِين رَحِمَہُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِم به د نَفس سخت مُخالَفت كولو، چنانچه حضرتِ سَيِّدُنا شيخ سِرِّی سَقطی رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "زما نَفس د ديرشو يا څلويښتو كالو نه دا مُطالبَه كوي چه صِرف يوه ګاځره په شهدو كښې اولړم او اوئې خورم خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما د نَفس خبره نه ده

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(يعني شوم) دې.(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

منلې."(رِساله قُشَيريه ص ١٥٣) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

## (٣٤) اِينځر ئې د خُلې نه اوغورزوو

حضرتِ سَيِّدُنا جَعفر بِن نَصِير رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه، حضرتِ سَيِّدُنا شيخ جُنَيد رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ما ته يو درهَم راکړو او حکم ئې راکړو چه **وزِيرى اِينځر** راوړه، ما راوړلو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د روژه ماتي په وخت کښې **اِينځر** په خُله کړو او فوراً ئې بيرته اوغورزوو او په ژړا شو، او اوئې فرمائيل: **اِينځر** د دې ځائ [يعني زما د مخې] نه لرې کړه. ما عرض اوکړو چه څه وجه ده نو اوئې فرمائيل: زما ضمير [يعني غيرت] ما ته اووئيل:"تا ته شرم نه درځي چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره د يو خواهِش پريښودلو نه پس بيا هغه پوره کوې." (اَيضاً ص ١٥٤) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

چا بالکل رِښتيا وئيلي دي چه: "خپل جِيلب د "خواهِش" په لاس کښې مه ورکوه، دا به تا د تيَرو طرف ته بوځي." (اَيضاً ص ١٥٤)

## (٣٥) حلوائي پرې نوړئ اوخوړې

شَيخُ الْمُحَقِّقِيْن، حضرتِ شيخ عبدُالْحَقّ مُحَدِّثِ دِهلَوِی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "زما پير و مُرشِد شيخ عبدُالوَهّاب مُتَّقى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه او د هغوئي يو دوست

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

يو ځل د قحط په زمانه كښ د جُمات په جُدا جُدا كوټونو كښ په عِبادت كښ مشغول وو. دواړو د مخكښ نه په خپل مينځ كښ دا فيصله كړې وه چه نه به د يو بل سره خبرې كوو، نه به د چا نه طعام غواړو او نه به په خپل لاس څه خورو. مُسلسل شل ورځې هم دغه شان تيرې شوې. په يو وِيشتمه ورځ يو **حلوائي** [يعني حلوه خرڅوونكې] جُمات ته راغې او د دواړو په مينځ كښ ئې طعام كيښودو او لاړو. (ځكه چه د دوئي په خپل مينځ كښ دا فيصله كړې وه چه په خپلو لاسو به څه نه خورو لِهٰذا) هغوئي دواړو د هغې نه هيڅ هم اونه خوړل، په **دوه ويشتمه ورځ** هغه بيا راغې او طعام ئې كيښودو، دا ځل هم هغوئي طعام له لاس ور نه وړو. په درې ويشتمه ورځ هغه حلوائي راغې او په خپلو لاسو ئې د هغوئي په خُلو كښ نوړئ وركول شروع كړل او دغسې ئې په دواړو طعام اوخوړلو.“ (اَخبارُ الاَخيار ص ۲۷۸ مطبوعه مكتبه نوريه رَضَوِيّه سكهر) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږ بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۳٦) د غوښې بيكاره هډوكي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! حضرتِ سَيِّدُنا شيخ عبدُالوهّاب مُتَّقى قادرى شاذلى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ډير زيات لوَړه تيروونكې وَلِـيُّ الله وو، يو ځل د رياضتونو [يعني د تكليفونو تيرولو]، د سوال نه كولو او د لوَږې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

تيرولو ذِكر راغې نو اوئې فرمائيل: ”يو دور هغه وو چه ما به د قَصاب غوړزولې بيكاره هډوكي او د غنمو هغه ډكې چه په پټو كښې ئې خلق غورزوې راوړل، هغه به مې اووِينځل او په ديګچې كښې به مې اوخوټكول او د هغې د ښوروا په يوه پياله څښلو به مې ګزاره كوله، په دې خبره چه كله خلق خبر شو نو هغوئې قِسم قِسم خوراكونه راوړل شروع كړل. دا حال مې چه اوليدو نو د هغه ځائ نه لاړم او بيا مې دا معمول جوړ كړو چه په يو ځائ به مې د درې ورځو نه زيات وخت نه تيرولو.“ (اَيضاً ص ٢٧٧) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حِسابَه بخښنه اوشي.

بھوک کی عادت بنے اور اِستقامت بھی ملے
خاتِمہ بِالخیر ہو اللہ! جنّت بھی ملے

راكړې ته عادت د لوږې، هم په دې استِقامت
په خير مې خاتِمه كړې اللّٰه! هم راكړې جنّت

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٣٧) د خوراك نه مخكښې يَره

حضرتِ سَيِّدُنا وَهب بِن وَرْد رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به يوه يوه يا دوه دوه يا درې درې ورځې لوَږه تيروله، بيا به ئې يوه ډوډئ راواخسته او داسې دُعا به ئې كوله: ”يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته پوهيږې چه زه د دې د خوړلو نه بغير

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

ستا د عِبادت كولو طاقت نه لرم او ما ته د كمزورئ او غم يره ده. يا الله عَزَّوَجَلَّ كه په دې ډوډئ كښې څه خرابي يا حرام وي او زه ترې نه يم خبر او دا زما خيټې ته لاړه شي نو ما مه نيسې." د دې دُعا كولو نه پس به "هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه ډوډئ په اوبو كښې پسته كړه او اوبه ئې خوړله." (مَنهاجُ العابِدِين ص۹۸) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خوراك نه پس ژړل پكار دي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! بې سوچه هر څيز خوړل د تشويش [يعني د پريشانئ] خبره ده، مونږ ته د آخِرت د حِساب نه يره لرل پكار دي، حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالى رَحۡمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه په اِحياءُ العُلُوم كښې فرمائي: د خوراك نه پس ژړا كولو والا كس او د خوراك نه پس په لَهوولَعِب (يعني په لوبو او خنداكانو) كښې مشغوليدو والا كس، دا دواړه برابر نه شي كيدې. (اِحياءُ العُلوم ج۲ ص۸) او فرمائي: "پكار دي چه د شك شُبهې والا خوراك كولو باندې اِستِغفار [يعني توبه] كوي او د غم اِظهار دِ كوي چه د هغه د اوښكو او د غم په وجه د هغه په حقّ كښې د جَهَنَّم اور مړ شي كوم اور كه چرې د داسې خوراك كولو په وجه پيښيدو والا وي. څكه چه حُضُورِ اَكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

فرمائي: "كومه غوښه چه په حرامو غته شي، د هغې زيات حقدار اور دې." (شُعَبُ الاِيمان ج٥ ص٥٦ حديث ٥٧٦١)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٣٨) د اوچې ډوډۍ ټكړه

**حضرتِ** سَيِّدُنا جُنَيد بَغدادى رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي: يوه ورځ حضرتِ سَيِّدُنا حارِث بِن اَسد مُحاسِبى رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه زما د كور په خوا تيريدو، ما په هغوئي كښې د **لوَږې** اثر محسوس كړو نو عرض مې اوكړو: "كاكا جانه! تشريف راوړئ او څه اوخورئ." هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه تشريف راوړو، په كور كښې نور څه خو نه وو، د ګاونډ نه د **واده طعام** راغلې وو، هغه مې ورته وړاندې كړو. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه يوه نوړئ اوكړه او په خُله كښې ئې ډير ځل تاؤ راتاؤ كړه بيا د ور درشَل طرف ورغلو او بَهَر ئې تُوك كړه او تشريف ئې يوړلو. څه موده پس مې چه هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه بيا اوليدلو نو د هغه ورځې د خوراك نه كولو د سبَب تپوس مې ترې اوكړو نو اوئې فرمائيل: زه ډير اوږې ووم ځكه مې دا غوښتل چه ستاسو طعام اوخورم او تاسو خوشحاله كړم خو زما او د الله عَزَّوَجَلَّ په مينځ كښې دا وعده ده چه په كوم يو طعام كښې "شك" وي هغه به زما د مرئ نه ښكته نه كوزوې. هم دا وجه وه چه هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

[طعام] ما نه شو تيرولي." ما عرض اوکړو: "هغه زما د ګاونډ نه د واده طعام راغلي وو، نن بيا تاسو زمونږه کور ته تشريف راوړئ." هغوئي رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه تشريف راوړو. ما ورته د اوچې ډوډئ ټکړه وړاندې کړه هغوئي رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه هغه اوخوړله او اوئې فرمائيل: "درويشانو ته هم داسې طعام وړاندې کوه." (رِساله قُشَيريه ص ٤٢٩، ٤٣٠)

د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٤٠) د ګوتې رګ به ئې ټوپونه وهل

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! تاسو اوليدل چه! که اولياءُالله رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی به هر څومره اوږي وو خو هغوئي به مُشتَبَه [يعني د شك والا] طعام نه خوړلو. په حضرتِ سَيِّدُنا حارِث مُحاسِبي رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه باندې د الله عَزَّوَجَلَّ خاص کرم وو. حضرتِ سَيِّدُنا ابو علي دَقّاق رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي: "چه کله به هم حضرتِ سَيِّدُنا حارِث مُحاسِبي رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه چرې يو مُشتَبَه [يعني د شك والا] طعام ته لاس وړ وړاندې کولو نو د هغوئي رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د يوې ګوتې رګ به ټوپونه وهل شروع کړل او هغوئي رَحمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه به هغه طعام نه خوړلو." (اَيضًا ص ٤٢٩) د ډيرو اوليائے کِرامو رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی نه د دې قِسم کرامتونه څرګند شوي دي چه هغوئي ته به د حرام او

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

مُشتَبَه [يعني د شك والا] خوراك علم كيدو. د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٤٠) عابِد او د اَنار وَنه

**منقول** دي چه: يو عابِد [يعني عبادت گزار] به په يو غر كښې اوسيدو. هلته د اَنار **يوه وَنه** وه. هره ورځ به په هغې كښې **درې اَنار** لګيده، هغه به ئې خوړل او عِبادت به ئې كولو. **الله** عَزَّوَجَلَّ په **اِمتِحان** كښې واچولو. يوه ورځ اَنار اونه لګيدل. صبر ئې اوكړو دوه ورځې دغسې تيرې شوې. په دريمه ورځ (د لوَږې نه) اويريدو او د غر نه راكوز شو. هلته لاندې يو نصراني [يعني عيسائي] اوسيدو. د هغه نه ئې سوال اوكړو. نصرانى ورله **څلور ډوډئ** وركړې. د هغه (نصرانى) سپي ورته غپل شروع كړل، عابِد ورته يوه ډوډئ ورواچوله. سپي هغه اوخوړله او بيا وريسې شو، دويمه ډوډئ ئې هم ورواچوله، سپي هغه هم اوخوړله خو ترې قلار نه شو او بيا وريسې شو. تر دې چه څلور واړه ډوډئ ئې ترې اوخوړلې خو غپل ئې بس نه كړل، عابد ورته اووئيل: "اے په ناحقّه پسې كوشش كولو والا لالچي [سپيه]! ته شرميږې نه چه ما ستا د كور نه په سوال ډوډئ راوړې او تا را نه ټولې په زور واخستې، او اوس هم را نه نه قلاريږې." **سپي** ورته اووئيل: "زه ستا نه زيات بې شرمه نه

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا كښې چه زما ذكر اوشو او هغه په ما درود پاك اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

یم چه کوم مالِك تا ته په کلونو بې خوارئ او بې مُشقَّته داسي ښکلي رِزق درکولو، (هغه ته په لږ شان اِمتِحان کښې واچولې او صرف) درې ورځې ئې در نه کړو نو (د لوَږې نه) دومره اويريدې چه د هغه د دُښمَن (نَصرانی) كور ته د سوال د پاره راغلې.“ (اَحسنُ الوِعاص ١٤٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! د دې حِكايَت نه دا درس حاصِل شو چه کوم اللّٰهتَعَالٰی مونږ له دومره ډير نِعمتونه راکوي. که چرې کله د هغه د طرف نه مونږ څه ازميښت کښې واچولې شو نو د بې صبرئ او ګيلو قيصو کولو په ځائ د صبر او ثابِت قدمئ نه کار اخستل پکار دي. په دې خبره ځان د دې حِكايت نه پوهه کړئ.

## (٤١) محمود و اياز او د تَرې يوه ټنګره

**منقول** دي چه، مشهور عاشِقِ رسول بادشاه، سُلطانِ محمود غَزنَوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته يو کس [په تُحفه کښې] **تَرې** راوړې. سُلطان **تَرې** قبولې کړې او چا چه راوړې وې هغه ته ئې اِنعام ورکړو. بيا ئې په خپل لاس د تَرې نه يوه ټنګره کټ کړه او خپل ګران غُلام اياز ته ئې ورکړه. اياز ښه په خوند اوخوره. بيا ترې سُلطان بله ټنګره را کټ کړه او پخپله ئې خلې ته کړه نو هغه دومره تَرخه وه چه ژبه ورورل مشکِل وو. سُلطان په حيرانتيا سره اياز ته اوکتل او اوئې فرمائيل: ”**ايازه!** دومره

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

تَرخه تېنګره دِ څنګه اوخوړله؟ واه! ستا په مخ خو د سره څه داسې اثر ښكاره نه شو چه ګنې دا په تا بده لګېدلې وي؟'' اياز عرض اوكړو: ''بادشاه سلامت! تَره خو واقعي ډېره ترخه وه، چه په خُله مې كړه نو **عقل** را ته اوويئيل چه ''تُوك ئې كړه'' خو **عِشق** را ته اوويئيل: ''ايازه خبردار! دا خو هم هغه لاسونه دي د كومو لاسو نه چه ته هره ورځ خوږه خوږه خيزونه خورې، كه يوه ورځ ئې تريخ خيز دركړو نو څه اوشو! دا تُوكل د مَحَبَّت د آدابو خِلاف دي، لِهٰذا د عِشق په رهنمائي مې د تَرې ترخه تېنګره اوخوړله.'' (رَهبَرِ زندگی ص۱۶۷) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

ګرانو او خوږو اِسلامي وروڼړو! دغه شان د مُسلمان په حَيثِيَّت مونږ له هم پكار دي چه كوم رَبُّ الْعِبَاد جَلَّ جَلَالُهٗ په مونږه بېشميره احسانونه كړي دي، كه چرې د هغه د طرف نه څه مُصِيبَت او تكليف هم راشي نو په خوشحالئ ئې قبول كړو. داسې كس كمال نه لري چه هغه د خپل محبوب هله وفادار وي چه كله ورسره خپل محبوب مينه او مَحَبَّت كوي. كمال لرونكې خو هغه كس دې چه د محبوب د رټلو باوُجود ه د خپل محبوب وفادار او جان نثار [يعني ځان قربانولو والا] وي.

وه عشقِ حقیقی کی لذّت نہیں پا سکتا
جو رنج و مصیبت سے دوچار نہیں ہوتا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

خوند موندې نه شي هغه د حقيقي عِشق
خوك چه ګير نه شي په غم او مُصيبت کښې

## (۴۲) د عيسائي راهِب قبولِ اسلام

**يو بُزُرګ** رَحۡمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ په يو **عيسائي راهِب** باندې **اِنفِرادی کوشش** اوکړو او هغه ته ئې د اِسلام دعوت ورکړو، د ډير بحث و تکرار نه پس هغه [عيسائی راهِب] اووئيل: ”د حضرتِ سَيِّدُنا عيسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام دا مُعجِزه وه چه د **څلويښتو** ورځو پورې به ئې هيڅ هم نه خوړل. او دا کمال صِرف نَبِي عَلَيۡهِ السَّلَام يا صِدِّيق ته حاصِليدې شي.“ هغه بُزُرګ رَحۡمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ ورته اوفرمائيل: ”که زه د **پنځوسو** ورځو پورې لوَږه تيره کړم نو آيا ته به کفر پريږدې او مُسلمان به شې؟ او دا خبره به اومنې چه اِسلام حقّ دې او ته د باطِل منونکې ئې؟“ هغه جواب ورکړو: ”آو.“ چنانچه هغه بُزُرګ رَحۡمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ د هغه [عيسائی راهِب] سره د هغه په ځائ کښې پاتې شو او د **پنځوسو** ورځو پورې ئې هيڅ هم اونه خوړل. بيا ئې پرې **لس** ورځې نورې د پاسه کړې او د **شپيته** ورځو پورې ئې لوَږه تيره کړه. هغه راهِب چه دا [د لوَږې تيرولو] **کرامت** اوليدو نو مُسلمان شو. (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۹۸) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! د دې حِکايَت دِ هيڅ څوك هم بالكل دا مطلب نه ګڼړي چه ګني هغه بُزُرګ رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ د حضرتِ سَيِّدُنا عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام نه وړاندې شو. د اِسلام دا کلکه **عقيده** ده چه د يو نَبِـی عَلَيْهِ السَّلَام نه هم څوك غيرِ نبي هيڅ کله هم بالكل افضل نه شي کيدې. او څوك چه غَيرِ نبي د نَبِـی عَلَيْهِ السَّلَام نه افضل اوګڼړي هغه **كافِر** دې. خبره په اصل کښې دا وه چه د اِسلام قبلولو نه مخکښې د هغه **راهِب** دا خيال وو چه ګني د حضرتِ سَيِّدُنا عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام نه پس اوس يو غُلامِ مُصطفٰی هم د **ځلوېښتو** ورځو لوَږه نه شي تيرولې. په دې وجه هغه بُزُرګ رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ هغه ته **کرامَت** اوښودلو او د هغه دا غلَط فَهمی ئې لرې کړه چه د **ځلوېښتو** ورځو لوَږه خاص د حضرتِ سَيِّدُنا عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د پاره نه ده، غُلامانِ مُصطفٰی **ځلوېښت** ورځې څه بلکه د **شپيتوو** ورځو د لوَږې تيرولو نه باوُجود هم ژوندي اوسيدې شي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کا یا ہی پلٹ دیں دنیا کی
یہ شان ہے خدمتگاروں کی سرکار کا عالَم کیا ہوگا

**د شعر ترجمه:** د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامان که اوغواړي نو په خپلو اشارو به دُنيا حال بدل کړي، چه د غُلامانو دا شان دې نو د آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به څه شان وي!

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، څوك چه داسې كوي دَ قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كونكې او گواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

## (۴۳) مهې او وريژې

د **بصرې** د يو بُزُرگ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په باره كښې منقول دي چه، د شلو كالو پورې د هغوئي نفس **مهې او وريژې** غوښتلې خو هغوئي به خپل نفس قابو كولو او دا څيزونه ئې اونه خوړل. د وفات نه پس چا په خوب كښې اوليدو او تپوس ئې ترې اوكړو، مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني اللّٰه تَعَالٰی ستا سره څه معامله اوفرمائيله؟ هغوئي په جواب كښې اووئيل: "ما ته چه د اللّٰه تَعَالٰی په فضل و كرم كوم نعمتونه راكړې شو هغه زه نه شم بيانولې. د ټولو نه مخكښې **مهې او وريژې** او ډوډئ راكړې شُو او را ته اووئيل شو، نن دِ چه څومره زړه غواړي اوخوره. (اِحياءُ الْعُلُوم ج۳ ص۱۰۳) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د نفس د نه منلو والؤ څومره اوچت مقام وي كوم خوش نصيبه خلق چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رِضا د پاره د خپل نفس خلاف كوي او د دُنيا د نعمتونو نه پرهيز كوي او په لوږه برداشت كولو كښې كاميابيږي هغوئي ته دِ مبارك شي چه د مرگ نه پس به هغوئي ته د جَنَّت اعلٰى نعمتونه وركول كيږي. چنانچه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په سُوْرَةُ الْحَاقَّه آيت ۲۴ كښې اِرشاد فرمائي:

كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِي الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴿۲۴﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: خورئ او څښئ ښه په مره خيټه، بدله د هغې څه چه تاسو په تيرو شوو ورځو كښې مخكښې ليږلي وو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

## (٤٤) د زړه د پاره فائِده مند

**حضرتِ** سيِّدُنا شيخ ابُو سُليمان داراني رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "د نفس يو خواهِش پريښودل د زړه د پاره د يو کال د روژو او د شب بيدارئ [يعني شپې رونړولو] نه زيات فائِده مند دي." (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۱۰۳) **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٤٥) د جَنَّت ميلمستيا

حُجَّةُ الاِسلام حضرت سيِّدُنا اِمام مُحمّد غزالي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "د آخِرت په لاره روان بُزُرګانِ دِين رَحِمَہُمُ اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِم به د نفس د خواهشاتو د پوره کولو نه ځان ساتلو ځکه چه که انسان د خپل خواهِش مطابق خوندور خيزونه پرله پسې خوري نو د دې په وجه د هغه په زړه کښې تکبُّر پيدا شي او د هغه زړه سخت شي، او هغه د دُنيا د خوندورو خيزونو سره داسې اشنا شي چه د دُنيا د خوندورو خيزونو مَحَبَّت د هغه په زړه کښې کور اوکړي او هغه د **ربِّ کائِنات** جَلَّ جَلَالُہٗ ملاقات او د هغه په بارګاهِ عالي کښې حاضري هيره کړي. د هغه په حقّ کښې دُنيا جَنَّت او مرګ قيدخانه جوړ شي او څوک چه خپل نفس په سختئ کښې واچوي او هغه د خوندونو نه محرومه ساتي نو دُنيا د هغه د پاره قيد خانه جوړه شي او په دې کښې هغه خپله ساه ډوبه محسوسوي نو بيا د هغه **نَفس** د دُنيا نه رُخصتيدل او د مرګ په ذريعه د ژوند د قيد

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَ چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

نه آزاديدل خوښوي. هم دې خبرې طرف ته **يحيٰ مُعاذ** رازي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اِشاره کوي او فرمائي: اے د صِدِّيقينو ډلې! **د جَنَّت د ميلمستيا د طعام** خوړلو د پاره ځان اوږې ساتئ ځکه چه نفس څومره اوږې ساتل شي هغه هُمره د خوراك خواهِش زياتيږي. (يعني چه کله بنده ډير زيات اوږې شي نو هغه وخت طعام خوړل ډير خوند کوي، د دې تجرِبه عام طور هر روژه دار ته وي، ځکه په دُنيا کښې ځان ښه اوږې ساته چه بيا د جَنَّت د اعلٰی نعمتونو ډير خوندونه واخلې) (اَيضاًص٩٩) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٤٦) په نمر اوچ شوي وږه

**حضرتِ** سيّدُنا **عُتبَةُ الْغُلام** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به وږه اواغږل، په نمر به ئې اوچ کړل او بيا به ئې خوړل او فرمائيل به ئې: "د ډوډئ په يوه ټُکړه او مالګه باندې ګُزاره کول پکار دي،چه بيا د قيامت په ورځ سرې کړې غوښې او ښه ښه خوراکونه نصيب شي." (اِحياءُ الْعُلُوم ج٣ص١٠٠) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٤٧) د خلويښتو کالو پورې ئې پئ (يعني شوده) اونه څښل

د **حضرتِ** سيِّدُنا مالِك بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په باره کښې منقول دي: د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نفس د خلويښتو کالو پورې د پئيو [يعني شودو]

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

خواهِش لرلو خو هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اونه خښلو. يوه ورځ چا په تُحفه کښې کجورې ورکړې نو هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خپلو شاګردانو ته ورکړې او اوئې فرمائيل: تاسو ئې اوخورئ ما د ځلويښتو کالو نه کجوره (خوړل خو لرې خبره ده) څکلې هم نه ده. (اَیضاً ص۱۰۱) **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۴۸) غوښه او ډوډۍ

**حضرتِ** سيّدُنا **عُتبَةُ الْغُلام** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د ووه کالو پورې د **غوښې** خوړلو خپل خواهش نه پوره کولو، بیا ئې یوه ورځ ډوډۍ او د غوښې یو پوټې په بيعه واغستو. غوښه ئې سره کړه او په ډوډۍ باندې ئې کيښوده، په دې کښې يو يتيم ماشوم راغې، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ هغه ته هغه غوښه او ډوډۍ ورکړل. بیا په ژړا شو او د سيپاره۲۹ د سُورَةُ الدَّهر د اتم آيتِ کريمه تِلاوت ئې شروع کړو:

وَ يُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ مِسْكِيْنًا وَّ يَتِيْمًا وَّ اَسِيْرًا ﴿۸﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: او طعام پرې خوري د هغه په مَحَبَّت، په مِسکِين او يتيم او قيدي باندې.

**حضرتِ** سيّدُنا **عُتبَةُ الْغُلام** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بیا کله هم ډوډۍ او سره کړې غوښه اونه څکله. (اِحیاءُ الْعُلُوم ج۳ ص۲۱۱) **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود په ما پیش کیږي. (طَبَرانِي)

## (٤٩) يَرَوونکي سِيلئ

**حضرتِ** سیِّدُنا **عُتبَةُ الْغُلام** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بیا فرمائي: د ډیرو کلونو نه مې نفس د کجورو د خوړلو خواهِش لرلو، یوه ورځ مې لږې کجورې واخستې او د روژه ماتي د پاره مې کیښودې، په دې کښې داسې **يَرَوونکي سيلئ** اولګیده چه هر طرف ته تَیَرې خورې شوې او خلق سخت اوېَریدل. دا مې چه اولیدل نو ما د ځان سره اووئیل: دا ستا د زړورتیا او (د نفس د خواهش پوره کولو د پاره د) کجورو اخستو په وجه اوشو او ستا د ګناهونو په وجه خلق په دې سیلئ کښې اخته شو. بیا مې پخه وعده اوکړه چه دا به څَکَم هم نه. (اِحیاءُ الْعُلُوم ج ٣ ص ٢١٠) **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا د **حضرتِ** سَیِّدُنا **عُتبَةُ الْغُلام** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ عاجزي وه چه سِیلئ راغله نو د هغې اِلزام ئې په خپل سر واخِستو! د بُزرګانو په وجه مصیبتونه نه راځي بلکه مصیبتونه لرې کیږي. څه معلومه ده چه زلزله راتلو والا وه او هغه د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په بَرَکت په سیلئ کښې بدله شوې وي! منقول دي چه د نیکو خلقو د تذکِرې په وخت کښې رحمتونه نازلیږي. (کَشْفُ الْخِفاء ج ٢ ص ٩١ رقمُ الحدیث ١٧٧٢) چه صرف د نیکانو په تذکِره کولو د رَحمت د نازلیدو زیرې دې نو چه کوم ځائ د وَلِـیُّ الله مبارك وجود موجود وي هلته به څومره رحمتونه نازلیږي!

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

جو وليوں کے مَزاروں پر مسلماں آتے جاتے ہيں
خدا کی رَحمتوں سے حصہ وافِر وہ پاتے ہيں
مسلمان چه حاضري کړي د وَليانو په مزار
حصّه مومي د الله د رحمتونو نه بِيسيار

## (۵۰) شنه پياله

**حضرتِ** سيّدُنا شفيق بِن اِبراهيم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ما په مَكّهٔ مُكَرَّمه كښې د حُضورِ اكرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **وِلادت گاه** [يعني د پيدائِش ځائ] **مبارك** په خوا كښې د **حضرتِ** سَيّدُنا اِبراهِيم بن اَدهم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه سره مُلاقات اوكړو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د لارې په غاړه ناست وو او ژړل ئې. زه د هغوئي خوا له ورغلم او ورسره كښيناستم، تپوس مې ترې اوكړو: اے ابُو اِسحٰق! (دا د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه كُنيَت وو) په څه وجه ژاړې؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”خير دې.“ ما ترې دوه درې ځله په كلكه پوښتنه اوكړه، نو اوئې فرمائيل: ”اے شفيق زما پرده اوساته [يعني زما خبره چا ته مه ښكاره كوه].“ ما ورته اووئيل: څه مو چه زړه غوارې اووائې! بيا ئې اوفرمائيل: زما نفس د ديرشو كالو نه د **سِكباج**[د سِركې، غوښې او خوشبوداري مصالحې نه تيار شوي اِنګوَلي] د خوړلو په خواهِش كښې بې قراره وو خو ما به هغه منع كولو. تيره شپه زه ناست ووم نو خوب راباندې غَلَبه اوكړه او [په ناسته] اوده شوم. [په خوب كښې مې] د يو ځلمي سره **شنه پياله** اوليده او د هغې نه د **سِكباج** خوشبودار

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك اونه لولي. (تِرمِذی)

براس پورته كيدو. زه په ډير هِمَّت د هغه د خوا نه جُدا شوم نو هغه (ځلمي) هغه پياله ما ته اونيوله او اوئې وئيل: ''اے اِبراهِيم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوخورئ!'' ما جواب ورکړو: زه نه خورم، ما دا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رِضا د پاره پريښودې دې'' هغه اووئيل: ''هُم اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په تاسو دا مهرباني کړې ده، اوخورئ!'' ما سره څه جواب پاتې نه شو نو زه په ژړا شوم، هغه اووئيل: ''اوخورئ، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په تاسو رَحم اوفرمائي.'' ما اووئيل: ''مونږ ته حُکم شوې دې چه تر څو دا معلومه نه وي چه د کوم ځائ نه راغلې دې تر هغې ئې په خيټو کښ نه اچوو.'' هغه اووئيل: اوخورئ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ تاسو له خير درکړي، ما ته دا خوراك راکړې شو او را ته اووئيل شو چه اے **خِضَر** (عَلَیْہِ السَّلَام) **دا** يوسه او د اِبراهِيم بِن ادهم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په نفس باندې ئې اوخوره ځکه چه (خپل نفس د سِکباج) نه د اوګدې مودې پورې د حصارولو په وجه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په هغه رحم اوفرمائيلو، اے اِبراهِيم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ما د فرښتو نه دا خبره واوريدله: ''چا ته چه ورکړې شي او هغه ئې وانخلي نو بيا به په غوښتلو هغه ته نه ورکولې شي.'' ما اووئيل: ''که داسې مُعامله وي نو زه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ سره د خپلې کړې وعدې په وجه هم دغسې يم (يعني نه ئې خورم) بيا چه ما مخ واړولو نو يو ځلمي هغه ته يو څيز ورکړو او ورته ئې اووئيل: ''اے **خِضَر** (عَلَیْہِ السَّلَام) تاسو ئې پخپله په دوئي اوخورئ.'' چنانچه هغوئي (عَلَیْہِ السَّلَام) ما ته نوړئ راکولې تر دې چه زما سترګې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

اوغړيدي. چه راوِيخ شوم نو په خُله کښې مې د هغې خوند موجود وو." سَيِّدُنا شفيق رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "ما ورته عرض اوکړو: "خپل لاس اوښائي! "ما د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه لاس اونيولو او ښکل مې کړو."

(احياءُ الْعُلُوم ج٣ ص١٠٠، ١٠١) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم بِن اَدهَم رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه به د خپلو نفساني خواهِشاتو د منلو نه ځومره ډېره کوله. د **ديرشو کالو** نه ئې د سِکباج خوړلو د خواهِش باجود نه وو خوړلې. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په رَحمَت حضرتِ سَيِّدُنا خِضَر عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو او په هغوئي ئې په خپلو مُبارَکو لاسو سِکباج اوخوړلو. حضرتِ سَيِّدُنا خِضَر عَلَيْهِ السَّلَام د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نَبِی دې او هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام تر اوسه پورې ظاهرى طور حيات [ژوندې] دې. د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د بَرَکت يو مَدَنی ګُل وړاندې کووم، دا د خپل زړه په مَدَني ګلدسته کښې ضرور اولګوئ، چنانچه په تفسيرِ صاوی شريف کښې دي: "څوك چه د حضرتِ **سَيِّدُنا خِضَر** عَلَيْهِ السَّلَام نوم د **کُنيَت** او ولدِيَّت او لقب سره ياد ساتي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه به په **اِيمان خاتمه** کيږي. د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام نوم د کُنيَت او ولدِيَّت او لقب سره دا دې: **اَبُو الْعَبَّاس بَلْيَا بِنْ مَلْكَان الْخِضَر.**

(تفسيرِ صاوی ج٢ ص١٢٠٧) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## (۵۱) د نَفس سره خبرې

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام اعظم ابوحَنِيفه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه شهزاده [يعني ځوئ] حضرتِ سَيِّدُنا حَمّاد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "زه د حضرتِ سَيِّدُنا **داؤد** طائى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خِدمَت کښې حاضِر شوم، د کورد دننه نه اواز راتلو: "اے نَفسه! تا د **گاځرې** خواهِش اوکړو ما دربانديې اوخوړله. اوس تا د **کجورو** مطالَبه شروع کړه! قَسم په خدائ عَزَّوَجَلَّ! زه به کله هم په تا کجوره اونه خورم. ما سلام اوکړو او دننه ورداخِل شوم نو هغوئى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه يواځې وو. (يعني هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه دا خبرې د خپل نَفس سره کولې)" (اِحياءُ العُلوم ص۱۰۱) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمَت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (۵۲) سبزى به نه خورم

**حضرتِ** سَيِّدُنا مالِك بِن **ضَيْغَم** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "يو ځل زه د بَصرې په بازار تيريدم نو يوه ترکارۍ مې اوليدله، نَفس مې مُطالبه اوکړه چه نن شپه راباندې دا سبزى اوخوره. ما قَسم اوکړو چه د څلويښتو شپو پورې به دا **سبزى** نه خورم." (اِحياءُ العُلوم ص۱۰۱) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمَت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

www.dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## نيك او مونځ ګزاره جوړيدو دَ پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ كښې كيدونكي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډكه هفته واره اجتماع كښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربيَت د پاره په **مَدَني قافِلو** كښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع كولو معمول جوړ كړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح كوشش كول دي." اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ كوشش كولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" كښې سَفَر كول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ




www.dawateislami.net

MAKTABA TUL MADINAH

MC 1286


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (كراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net